# د صحیح حدیث

## د پېژندا اصول او قواعد

حکمتیار

## د کتاب پېژندنه:

نوم: د صحیح حدیث د پېژندنا قواعد

لیکوال: حکمتیار

لومړی طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قیمت: ٦۰ افغانۍ



**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**




# د صحیح حدیث

# د پېژندا اصول او قواعد

## حکمتیار

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

## مقدمه

دا رساله د هغو ٤٢ درسي حلقو یوه وړه برخه ده چې د (سلفي شم که مذهبي پاته شم) تر عنوان لاندې؛ د بریا تلویزیون په تالار کې دائرې شوې او د اسلامي فرهنګ او علومو ګڼ شمېر مینه والو پکې په منظمه او مسلسله توګه ګډون کړی؛ په دې درسي حلقو کې ټول څېړل شوي مطالب؛ تر همدې عنوان لاندې؛ په دوو جلدونو کې طبع کېږي. دا مو غوره وګڼله چې دغه برخه ئې د مستقلې رسالې په توګه نشر شي.

د اختلافي مسائلو د وضاحت او څېړنې په اړه مو ګڼ شمېر درسې حلقې درلودې؛ د څېړنې اسلوب مو دا وو چې د موافق او مخالف آراء او روایات په امانت سره یو د بل خوا ته کښېږدو، د قرآن په رڼا کې ئې وڅېړو او تر ټولو غوره او صحیح روایت او رأیه ترې غوره کړو. دا هغه کار دئ چې محدثینو او محققینو کړی او هر مؤمن انسان ئې باید وکړي.

که تاسو دا کتاب (سلفي شم که مذهبي پاته شم) په دقت سره ولولئ نو وبه ګورئ چې په دې کې کافي شمېر هغه اختلافي قضایا څېړل شوي؛ چې اسلامي امت په عامه توګه او افغانان په خاصه توګه ورسره مخامخ دي؛ دا به هم درته جوته شي چې د دغو مذهبي او سلیقوي اختلافاتو ډېری له متعارضو او غیر معتبرو روایاتو راولاړ شوي؛ موږ هغه روایات هم بیان کړي چې احناف پرې استناد کوي او هغه هم چې نور مذاهب او پلویان ئې په ځانګړې توګه امام بخاري رحمه الله په خپل مشهور کتاب بخاري کې راوړي؛ امام بخاري هغه روایات نه دي راوړي چې د امام ابوحنیفه رحمه الله په مُسْنَد کې راوړل شوي او احناف ئې تر نورو روایاتو غوره او اصح ګڼي. موږ د دواړو لوریو اړوند روایات له

هر ډول تعصب پرته او په شفاف ذهن سره څېړلي؛ د قرآن په تله مو تللي او هغو ته مو ترجيح ورکړې چي هم ئې اسناد صحيح، هم ئې راويان ثقه او هم ئې متن له قرآن سره تطابق درلود او په قرآن کي مو د هغه لپاره شاهد موندلی. باور مو دا دئ چي که اسلامي امت قرآن د وروستي او بشپړ لارښود او معيار په توګه ونيسي، خپل اختلافي مسائل؛ د متعارضو رواياتو په شمول قرآن ته راجع کړي؛ کولی شي خپل ټول هغه مذهبي اختلافات حل کړي چي له همدغو رواياتو راولاړ شوي. الله تعالی او د هغه رسول صلی الله عليه و سلم موږ پر همدې ګمارلي يو چي خپل ټول اختلافات قرآن ته محول کړو؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾ الشورى

او په هر هغه څه کي چي تاسو اختلاف کړی نو حکم ئې د الله لوري ته (محول) دئ، همدا زما رب دئ، پر هغه مي توکل کړی او د هغه لوري ته انابت کوم.

دا مبارك آيت د توحيد يو ستر او مهم اصل زموږ مخي ته ږدي او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه کوي چي خپلو مخاطبينو ته ووايي: په هر هغه څه کي چي تاسو اختلاف وکړئ؛ حکم ئې د الله تعالی لوري ته محول دئ، يعني که تاسو په هري قضيې کي اختلاف وکړئ، که دا فکري او اعتقادي وي، که حقوقي او اجتماعي، که د کومي فقهي قضيې په اړه وي او که د کوم روايت په اړه؛ نو خپل اختلاف د الله تعالی کتاب ته محول کړئ او د الهي لارښوونو پرېکړه وروستۍ پرېکړه وګڼئ. د دې الهي ارشاد او حکم معنی او تقاضا دا ده چي د ژوند په ټولو برخو کي هر ډول اختلاف او نزاع بايد قرآن ته راجع شي او د قرآن پرېکړه نهائي او وروستۍ پرېکړه وګڼل شي، يعني د انسان په ټول ژوند کي داسي اختلاف او نزاع نه شو موندلی چي په قرآن کي ئې د حل حکم نه وي، مسلمانان بايد قرآن وروستی ملاك او معيار وګڼي او د هري

قضيې په اړه د هغه حکم او پرېکړې ته غاړه کښېږدي.

همدا راز قرآن فرمايي:

وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٦٤﴾ وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ﴿٦٥﴾ النحل

او پر تا مو دا کتاب يوازې د دې لپاره نازل کړی چې دوی ته هغه څه څرګند کړې چې اختلاف ئې پکې کړی؛ او د هغو لپاره لارښوونه او رحمت چې ايمان راوړي. او الله له آسمان داسې اوبه ووروله چې په هغې سره ئې زمکه له خپلې مړينې وروسته بيا راژوندۍ کړه، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چې اوري.

يعني کوم پيغمبران چې تر تا د مخه لېږل شوي وو او د دوی په لاس کوم لارښود کتابونه مخکينيو ته ورکړی شوي وو، هغوی د الله کتاب شا ته غورځولی؛ په اختلافاتو کې پرېوتي؛ دا انحراف او اختلاف هغه پړاو ته رسېدلی چې د نوي پيغمبر له بعثت او د نوي کتاب له لېږلو پرته ئې په بل هيڅ څه علاج ممکن نه وو، همداسې اوس الله تعالی ستا په بعثت او ستا په لاس د قرآن په لېږلو سره غواړي د مخکينيو ټول اختلافي قضايا حل او هغو کسانو ته لارښوونه وکړي او له خپل رحمت او پېرزوينې ئې برخمن کړي چې ايمان راوړي. الله تعالی نوی کتاب او نوی پيغمبر هغه مهال لېږلی چې مخکينی کتاب په بشپړه توګه هېر کړی شوی، هيڅ اثر ئې نه دئ پاته شوی او د مخکيني پيغمبر ټول فکري، اخلاقي او عملي اغېز له منځه تللی؛ دا داسې ده لکه چې کله زمکه د اوبو او باران له نشتوالي په سپېره ډاګ بدله شي؛ د ژوند ټول آثار په کې له سترګو پټ شي؛ نو الله تعالی له آسمان باران وروي او په دې باران سره زمکه له خپلې مړينې وروسته بيا راژوندۍ کوي؛ همداسې قرآن د انسان لپاره د ژوند تومنه ده، الله تعالی په همدې قرآن سره مړه زړونه راژوندي کوي، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده

چي اوري.

پر ټولو مخکينيو امتونو او دوی ته لېږل شوو کتابونو همدا حالت راغلی؛ تر قرآن وړاندي؛ له انجيل او تورات سره همداسي وشول؛ نن که تاسو د مسيحيانو له نظره سپېڅلي کتاب؛ بايبل ولولئ نو په هغه کي به د تورات او انجيل څو صفحې هم ونه مومئ؛ له اوهامو، خرافاتو، افسانو، او جعلي رواياتو ډك مسخره کتاب به ئې ومومئ. رسول الله صلی الله عليه و سلم موږ له دغسي حالت سره له مخامخېدو انذار کړي يو او فرمايلي ئې دي: تاسو به هم په هغه مسير درومئ چي مخکيني پرې تللي. يقيناً چي موږ هم له ورته برخليك سره مخامخ شوي يو؛ قرآن هېر کړی شو؛ د امت لويه برخه په اوهامو او خرافاتو کي غرق شوه، په لکونو جعلي، موضوعي، ضعيف او د قرآن له صريحو لارښوونو سره متعارض روايات رامنځته او خواره شول؛ امت ئې په مختلفو فرقو او ډلو ووېشلو؛ تر منځ ئې نه يوازي شديد او نه پخلا کېدونکي اختلافات رامنځته شول؛ بلکي خونړۍ جګړي پيل شوې. د امت زړه سواندو داعيانو له دې بد حالت د امت د ايستلو لپاره ملا وتړله؛ روايات ئې وچڼل، صحيح او ناصحيح ئې سره بېل کړل؛ هر چا د خپل وس او توان په اندازه خدمت وکړ؛ اما له دې کبله چي مسلمانان له يوه ځواکمن حکومت او اسلام ته ژمن زعيم محروم او په وړو وړو هېوادونو او متخاصمو حکومتونو وېشل شوي وو؛ د مخلصو داعيانو دا مبارکي هڅي ونه توانېدې چي امت له دې بحران وباسي او مخکينی وحدت او عظمت ئې احياء کړي. نن موږ د هغو مذهبي اختلافاتو د ختمولو لپاره چي سياسي وجوهات لري؛ او تر شا ئې د کورنيو او بهرنيو دښمنانو خبيث لاسونه کار کوي؛ يوې بلي جدي او ستړيا نه منونکي مبارزې ته ضرورت لرو. دا مبارزه بايد د رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغي لارښوونې په رڼا کي پيل کړو چي تر رحلت لږ وړاندي؛ د حجة الوداع په مهمي او وروستۍ خطبې کي ئې د امت مخي ته ايښې ده:

...وَقَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَمْ تَضِلُّوا إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ، كِتَابَ اللَّهِ، وَأَنْتُمْ

مَسْئُولُونَ عَنِّي، فَمَا أَنْتُمْ قَايِلُونَ؟» قَالُوا: نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ، فَقَالَ: بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ إِلَى السَّمَاءِ، وَيَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ «اللَّهُمَّ اشْهَدْ، اللَّهُمَّ اشْهَدْ» ثَلَاثَ مَرَّاتٍ،...

... او يقيناً چي په تاسو کي مي داسي څه پرېښود چي که منګولی پرې ولګوئ نو هيڅکله به لار ورکه نه کړئ؛ چي هغه د الله کتاب دئ؛ او زما په اړه به تاسو (د قيامت په ورځ) پوښتل کېږئ؛ نو تاسو به څه وايئ؟ صحابه وو وويل: ګواهي ورکوو چي تا خپل رسالت ورسولو، خپله دنده دي ترسره کړه او وعظ او نصيحت دي وکړ؛ نو په داسي حال کي چي د شهادت په ګوتي سره ئې د آسمان لوري ته اشاره کوله او د خلکو لوري ته به ئې نيوله؛ وئې فرمايل: "باري ربه! شاهد اوسه؛ باري ربه! شاهد اوسه؛ درې ځلي ئې همداسي وکړل...

د حجة الوداع دا روايت نژدې ټولو کتابونو راوړی؛ او ټولو ويلي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د حجة الوداع په مهمي او آخري وينا کي دا خبره کړې؛ او دا همغه څه دي چي د قرآن په مخکينيو آيتونو کي مو وليدل.

که څه هم دا روايت او مؤيد آيت ئې؛ موږ ته وايي: يوازي د الله تعالی په کتاب باندي منګولي لګول هم موږ له اختلافاتو ژغوري او هم له ضلالت؛ که د الله تعالی پر کتاب علاوه بل څه هم د هدايت لپاره ضروري وی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به حتماً په دې مهمي او وروستۍ خطبې کي د هغه يادونه کړې وه؛ او د دې معنی دا ده چي د الله کتاب د رسول الله صلی الله عليه و سلم ټول احاديث هم احتوی کوي. دا ځکه چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم موږ ته دوه شيان پاته دي: قرآن او د ده حديث. نو د دې حديث معنی دا ده چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم احاديث په حقيقت کي د قرآن شرح او تفسير دئ؛ د قرآن په اړه ټول امت متحد دئ او په بشپړ امانت تر موږ پوري رارسېدلی؛ پرته له دې چي په هغه کي معمولي تغيير راغلی وي؛ نن په

ټول امت کې یو مصحف لرو؛ په امت کې د قرآن په اړه کامل یووالی او وحدت شته؛ هیڅوك د دې ادعاء نه کوي چې د قرآن بله نسخه له ده یا بل چا سره شته؛ البته داسې جاهلان او غرضي او مرضي کسان هم شته چې وایي: دا قرآن هغه اصلي قرآن نه دئ چې پر رسول الله علیه السلام نازل شوی وو، یو بل قرآن شته چې له فاطمې رضي الله عنها سره وو او اوس له امام زمان سره دئ؛ هغه اتلس زره آیتونه لري او دا شپږ زره او څو سوه آیتونه؛ خو حقیقت دا دئ چې نن په امت کې هیڅوک دا ادعاء نه شي کولی چې له دې واحد او ټول امت ته د منلو وړ مصحف پرته؛ بل مصحف هم شته، په امت کې نه څوك دا ادعاء مني چې بل قرآن شته او نه څوك کولی شي د موجود واحد مصحف بدیل او داسې کتاب نوم واخلي او د چا په وړاندې ئې کښېږدي چې له یو نیم ملیارد مسلمانانو ئې یو کس ومني!! کوم بې عقل انسان به داسې مصحف ومني چې مجهول دئ او عملاً شتون نه لري.

اما د رسول الله صلی الله علیه و سلم د حدیث په اړه روایات هم ډېر زیات دي او هم تر ډېره حده له توپیرونو، تعارضاتو او حتی تضاد سره توأم دي؛ اسلامي امت نن یو قرآن لري؛ اما د حدیثو نژدې ٤٣٠ کتابونه همدا اوس زما په دغه کمپیوټر کې دي؛ هر یو ئې له ٤٠ روایاتو نیولې تر دېرش زرو پورې روایات راغونډ کړي؛ پوښتنه دا ده چې له دغو ډېرو کتابونو به کوم یو غوره کوو؟ او په لکونو احادیثو کې به صحیح او ضعیف څنګه معلوموو؛ ځیني داسې ګمان کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب ټول روایات صحیح دي؛ په بشپړ امانت سره او له هر راز تغییر پرته تر موږ پورې رارسېدلي؛ داسې لکه د قرآن آیتونه!! خو دوی له دې خبر نه دي چې هر محدث له لسګونو زرو روایاتو دوه درې زره غوره کړې او نور ئې د دې لپاره پرېښي چې یا ئې په إسنادو کې ستونزه موندلې او یا ئې په متن کې اضطراب او له قرآن سره متعارض مطالب. یوه ته یو راوي او روایت ئې ثقه او صحیح معلوم شوی او بل ته همدا راوي او روایت ئې ضعیف او د نه منلو؛ محققینو د دې ستونزې

د حل كولو لپاره داسي اصول او ضوابط وضع كړي چي په مرسته ئې كولی شو د اعتبار وړ روايات تشخيص كړو.

دعاء كوم چي الله تعالى اسلامي امت ته دا سعادت ورپه برخه كړي چي خپل تېر ديني وحدت، فكري او سياسي يووالی او هغه مجد او عظمت تر لاسه كړي چي ټولي قيادت ئې په واكي كي وو؛ د صدر اسلام په څېر د الله تعالى پر كتاب منگولي ولگوي، د قرآن په رڼا كي خپل ټول اختلافات پای ته ورسوي، ټول هغه عوامل له منځه يوسي چي دوی ئې سره بېل كړي. آمين

إِنْ أُرِيدُ إِلا الإِصْلاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ.

# د کتاب پیل

## د صحیح حدیث د پېژندا قواعد او اصول

د اختلافي مسائلو په اړه مو تر نن پورې دېرش درسې حلقې درلودې؛ د مسائلو د څېړلو په ارتباط مو اسلوب دا وو چې د موافق او مخالف آراء او روایات په امانت سره یو د بل خوا ته کښېږدو، د قرآن په رڼا کې ئې وڅېړو او تر ټولو غوره او صحیح روایت او رأی ترې غوره کړو. دا هغه کار دئ چې محدثینو او محققینو کړی او هر مؤمن انسان ئې باید وکړي.

په تېرو درسونو کې موږ داسې ۲۳ اختلافي مسائل وڅېړل چې اسلامي امت ورسره مخامخ دئ؛ ومو لیدل چې ډېرى اختلافات له متعارضو او غیر معتبرو روایاتو راولاړ شوي؛ هغه روایات مو هم بیان کړل چې احناف پرې استناد کوي او هغه هم چې نور مذاهب او پلویان ئې په ځانګړې توګه امام بخاري رحمه الله په خپل مشهور کتاب بخاري کې راوړي؛ امام بخاري هغه روایات نه دي راوړي چې د امام ابوحنیفه په مسند کې راوړل شوي او احناف ئې تر نورو روایاتو غوره او اصح ګڼي. موږ د دواړو لوریو اړوند روایات له هر ډول تعصب پرته او په شفاف ذهن سره څېړلي؛ د قرآن په تله مو تللي او هغو ته مو ترجیح ورکړې چې هم ئې إسناد صحیح، هم ئې راویان ثقه او هم ئې متن له قرآن سره تطابق درلود؛ او په قرآن کې مو د هغه لپاره شاهد موندلی. باور مو دا دئ چې که اسلامي امت قرآن د وروستي او بشپړ لارښود په توګه ونیسي، خپل اختلافي مسائل؛ د متعارضو روایاتو په شمول قرآن ته راجع کړي؛ کولی شي خپل ټول هغه مذهبي اختلافات حل کړي چې له همدغو

روایاتو راولاړ شوي. الله تعالی او د هغه رسول موږ پر همدې ګمارلي یو چي خپل ټول اختلافات قرآن ته محول کړو؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴿١٠﴾ الشوری

او په هر هغه څه کي چي تاسو اختلاف کړی نو حکم ئې د الله لوري ته (راجع) دئ، همدا زما رب دئ، پر هغه مي توکل کړی او د هغه لوري ته انابت کوم.

دا مبارك آیت د توحید یو ستر او مهم اصل زموږ مخي ته ږدي او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کوي چي خپلو مخاطبینو ته ووايي: په هر هغه څه کي چي تاسو اختلاف وکړئ؛ حکم ئې د الله تعالی لوري ته راجع دئ، یعني که تاسو په هري قضیې کي اختلاف وکړئ، که دا فکري او اعتقادي وي، که حقوقي او اجتماعي، که د کومي فقهي قضیې په اړه وي او که د کوم روایت په اړه؛ نو خپل اختلاف د الله تعالی کتاب ته محول کړئ او د الهي لارښوونو پرېکړه وروستۍ پرېکړه وګڼئ. د دې الهي ارشاد او حکم معنی او تقاضا دا ده چي د ژوند په ټولو برخو کي هر ډول اختلاف او نزاع باید قرآن ته راجع شي او د قرآن پرېکړه نهائي او وروستۍ پرېکړه وګڼل شي، یعني د انسان په ټول ژوند کي داسي اختلاف او نزاع نه شو موندلی چي په قرآن کي ئې د حل حکم نه وي، مسلمانان باید قرآن وروستی ملاك او معیار وګڼي او د هري قضیې په اړه د هغه حکم او پرېکړي ته غاړه کښېږدي.

همدا راز قرآن فرمايي:

وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٦٤﴾ وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ﴿٦٥﴾ النحل

او پر تا مو دا کتاب یوازي د دې لپاره نازل کړی چي دوی ته هغه څه

څرګند کړي چې اختلاف ئې په کې کړی؛ او د هغو لپاره لارښوونه او رحمت چې ایمان راوړي. او الله له آسمان داسي اوبه وورولې چې په هغې سره ئې زمکه له خپلې مړيني وروسته بیا راژوندۍ کړه، یقیناً چي په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چې اوري.

یعني کوم پیغمبران چي تر تا د مخه لېږل شوي وو او د دوی په لاس کوم لارښود کتابونه مخکینیو ته ورکړی شوي وو، هغوی د الله کتاب شا ته غورځولی؛ په اختلافاتو کې پرېوتي؛ دا انحراف او اختلاف هغه پړاو ته رسېدلی چي د نوي پیغمبر له بعثت او د نوي کتاب له لېږلو پرته ئې په بل هیڅ څه علاج ممکن نه وو، همداسي اوس الله تعالی ستا په بعثت او ستا په لاس د قرآن په لېږلو سره غواړي د مخکینیو ټول اختلافي قضایا حل او هغو کسانو ته لارښوونه وکړي او له خپل رحمت او پېرزویني ئې برخمن کړي چي ایمان راوړي. الله تعالی نوی کتاب او نوی پیغمبر هغه مهال لېږلی چي مخکینی کتاب په بشپړه توګه هېر کړی شوی، هیڅ اثر ئې نه دئ پاته شوی او د مخکیني پیغمبر ټول فکري، اخلاقي او عملي اغېز له منځه تللی؛ دا داسي ده لکه چي کله زمکه د اوبو او باران له نشتوالي په سپېره ډاګ بدله شي؛ د ژوند ټول آثار په کې له سترګو پټ شي؛ نو الله تعالی له آسمان باران وروي او په دې باران سره زمکه له خپلې مړيني وروسته بیا راژوندۍ کوي؛ همداسي قرآن د انسان لپاره د ژوند تومنه ده، الله تعالی په همدې قرآن سره مړه زړونه راژوندي کوي، یقیناً چي په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چي اوري.

پر ټولو مخکینیو امتونو او دوی ته لېږل شوو کتابونو همدا حالت راغلی؛ تر قرآن وړاندي؛ له انجیل او تورات سره همداسي وشول؛ نن که تاسو د مسیحیانو له نظره سپېڅلي کتاب؛ بایبل ولولئ نو په هغه کې به د تورات او انجیل څو صفحې هم ونه مومئ؛ له اوهامو، خرافاتو، افسانو او جعلي روایاتو ډك مسخره کتاب به ئې ومومئ. رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ له دغسي حالت سره له مخامخېدو انذار کړي یو او

فرمايلي ئې دي: تاسو به هم په هغه مسیر درومئ چي مخکيني پرې تللي. يقيناً چي موږ هم له ورته برخليك سره مخامخ شوي يو؛ قرآن هېر کړی شو؛ د امت لويه برخه په اوهامو او خرافاتو کې غرق شوه، په لکونو جعلي، موضوعي، ضعيف او د قرآن له صريحو لارښوونو سره متعارض روايات رامنځته او خواره شول؛ امت ئې په مختلفو فرقو او ډلو ووېشلو؛ تر منځ ئې نه يوازي شديد او نه پخلا کېدونکي اختلافات رامنځته شول؛ بلکي خونړۍ جګړي پيل شوې. د امت زړه سواندو داعيانو له دې بد حالت د امت د ايستلو لپاره ملا وتړله؛ روايات ئې وچڼل، صحيح او ناصحيح ئې سره بېل کړل؛ هر چا د خپل وس او توان په اندازه خدمت وکړ؛ اما له دې کبله چي مسلمانان له يوه ځواکمن حکومت او اسلام ته ژمن زعيم محروم او په وړو وړو هېوادونو او متخاصمو حکومتونو وېشل شوي وو؛ د مخلصو داعيانو دا مبارکي هڅي ونه توانېدې چي امت له دې بحران وباسي او مخکينی وحدت او عظمت ئې احياء کړي. نن موږ د هغو مذهبي اختلافاتو د ختمولو لپاره چي سياسي وجوهات لري؛ او تر شا ئې د کورنيو او بهرنيو دښمنانو خبيث لاسونه کار کوي؛ يوې بلې جدي او سترېا نه منونکې مبارزې ته ضرورت لرو. دا مبارزه بايد د رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغي لارښووني په رڼا کي پيل کړو چي تر رحلت لږ وړاندي؛ د حجة الوداع په مهمي او وروستۍ خطبې کي ئې د امت مخي ته ايښې ده:

...وَقَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَمْ تَضِلُّوا إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ، كِتَابَ اللَّهِ، وَأَنْتُمْ مَسْئُولُونَ عَنِّي، فَمَا أَنْتُمْ قَائِلُونَ؟» قَالُوا: نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ، فَقَالَ: بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ إِلَى السَّمَاءِ، وَيَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ «اللَّهُمَّ اشْهَدْ، اللَّهُمَّ اشْهَدْ» ثَلَاثَ مَرَّاتٍ،...

... او يقيناً چي په تاسو کې مي داسي څه پرېښود چي که منګولي پرې ولګوئ نو هيڅکله به لار ورکه نه کړئ؛ چي هغه د الله کتاب دئ؛ او زما په اړه به تاسو (د قيامت په ورځ) پوښتل کېږئ؛ نو تاسو به څه

وایئ؟ صحابه وو وویل: گواهي ورکوو چي تا خپل رسالت ورسولو، خپله دنده دي ترسره کړه او وعظ او نصیحت دي وکړ؛ نو په داسي حال کي چي د شهادت په گوتي سره ئې د آسمان لوري ته اشاره کوله او د خلکو لوري ته به ئې نیوله؛ وئې فرمایل؛ "باري ربه! شاهد اوسه؛ باري ربه! شاهد اوسه؛ درې ځلي ئې همداسي وکړل...

د حجة الوداع دا روایت نژدې ټولو کتابونو راوړی؛ او ټولو ویلي چي رسول الله صلى الله علیه و سلم د حجة الوداع په مهمي او آخري وینا کي دا خبره کړې؛ او دا همغه څه دي چي د قرآن په مخکینیو آیتونو کي مو ولیدل.

که څه هم دا روایت او مؤید آیت ئې؛ موږ ته وایي: یوازي د الله تعالى په کتاب منگولي لگول هم موږ له اختلافاتو ژغوري او هم له ضلالت؛ که د الله تعالى پر کتاب علاوه بل څه هم د هدایت لپاره ضروري وی نو رسول الله صلى الله علیه و سلم به حتماً په دې مهمي او وروستۍ خطبې کي د هغه یادونه کړې وه؛ او د دې معنى دا ده چي د الله کتاب د رسول الله صلى الله علیه و سلم ټول احادیث هم احتواء کوي. دا ځکه چي له رسول الله صلى الله علیه و سلم موږ ته دوه شیان پاته دي: قرآن او د ده حدیث. نو د دې حدیث معنى دا ده چي د رسول الله صلى الله علیه و سلم احادیث په حقیقت کي د قرآن شرح او تفسیر دئ؛ د قرآن په اړه ټول امت متحد دئ او په بشپړ امانت تر موږ پوري رارسېدلی؛ پرته له دې چي په هغه کي معمولي تغییر راغلی وي؛ نن په ټول امت کي یو مصحف لرو؛ په امت کي د قرآن په اړه کامل یووالی او وحدت شته؛ هیڅوك د دې ادعاء نه کوي چي د قرآن بله نسخه له ده یا بل چا سره شته؛ البته داسي جاهلان او غرضي او مرضي کسان هم شته چي وایي: دا قرآن هغه اصلي قرآن نه دئ چي پر رسول الله صلى الله علیه و سلم نازل شوی وو، یو بل قرآن شته چي له فاطمي رضي الله عنها سره وو او اوس له امام زمان سره دئ؛ هغه اتلس زره آیتونه لري او دا شپږ زره او څو سوه آیتونه؛ خو حقیقت دا دئ چي نن په امت

کي هيڅوک دا ادعاء نه شي کولی چي له دې واحد او ټول امت ته د منلو وړ مصحف پرته؛ بل مصحف هم شته، په امت کې نه څوك دا ادعاء مني چي بل قرآن شته او نه څوك کولی شي د موجود واحد مصحف بديل او داسي کتاب نوم واخلي او د چا په وړاندي ئې کښېږدي چي له يو نيم مليارد مسلمانانو ئې يو کس ومني!! کوم بې عقل انسان به داسي مصحف ومني چي مجهول دئ او عملاً شتون نه لري.

اما د رسول الله صلی الله عليه و سلم د حديث په اړه روايات هم ډېر زيات دي او هم تر ډېره حده له توپيرونو، تعارضاتو او حتیّٰ تضاد سره مل دي؛ اسلامي امت نن يو قرآن لري؛ اما د حديثو نژدې ٤٣٠ کتابونه همدا اوس زما په دغه کمپيوټر کې دي؛ هر يو ئې له ٤٠ رواياتو نيولې تر دېرش زرو پوري روايات راغونډ کړي؛ پوښتنه دا ده چي له دغو ډېرو کتابونو به کوم يو غوره کوو؟ او په لکونو احاديثو کې به صحيح او ضعيف څنګه معلوموو؛ ځيني داسي ګمان کوي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته منسوب ټول روايات صحيح دي؛ په بشپړ امانت سره او له هر راز تغيير پرته تر موږ پوري رارسېدلي؛ داسي لکه د قرآن آيتونه!! خو دوی له دې خبر نه دي چي هر محدث له لسګونو زرو رواياتو دوه درې زره غوره کړې او نور ئې د دې لپاره پرېښي چي يا ئې په إسنادو کې ستونزه موندلې او يا ئې په متن کې اضطراب او له قرآن سره متعارض مطالب. يوه ته يو راوي او روايت ئې ثقه او صحيح معلوم شوی او بل ته همدا راوي او روايت ئې ضعيف او د نه منلو؛ محققينو د دې ستونزي د حل لپاره داسي اصول او ضوابط وضع کړي چي په مرسته ئې کولی شو د اعتبار وړ روايات تشخيص کړو.

دعاء کوم چي الله تعالی اسلامي امت ته دا سعادت ورپه برخه کړي چي خپل تېر ديني وحدت، فکري او سياسي يووالی او هغه مجد او عظمت تر لاسه کړي چي د ټولي نړۍ قيادت ئې په واک کي وو؛ د صدر اسلام په څېر د الله تعالی په کتاب منګولې ولګوي، د قرآن په رڼا کې خپل ټول اختلافات پای ته ورسوي، ټول هغه عوامل له منځه يوسي چي دوی

ئې سره بېل کړي. آمين

د حديث مربوط اساسي اصول، درجه بندي او مفاهيم ئې داسي دي:

حديث: د حديث لغوي معنى وينا او خبره ده؛ خو د حديث په خاص علم کې ئې معنى د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا، عمل، امر، نهى او د ده په وړاندي د يو چا داسي قول او فعل دئ چي ده نه وي رد کړی او داسي گڼل شوې وي چي ده تأييد کړی.

سند: د حديث د راويانو هغي لړۍ ته وايي چي يوه له بل اورېدلي او سلسله ئې د حديث تر ليکونکي پوري رسېدلې.

متصل او منفصل: حديث د سند او راويانو له پلوه يا متصل وي يا منقطع او منفصل، متصل هغه حديث ته وايي چي د راويانو په لړۍ کې ئې هيڅ ځای ارسال او انقطاع نه وي، ټولو يو بل ليدلی او له هغه ئې حديث اورېدلی وي؛ او منفصل هغه حديث ته وايي چي په کوم ځای کې ئې انقطاع تر سترگو کېږي، کوم راوي له داسي چا روايت کوي چي هغه ئې نه دئ ليدلی. مرفوع: په دې دواړو کې مرفوع هغه حديث ته وايي چي سند ئې تر رسول الله صلى الله عليه و سلم پوري رسېدلی وي او موقوف هغه حديث ته وايي چي سند ئې تر صحابي پوري رسېدلی وي او د هغه پر نامه توقف شوی وي.

مرسل هغه دئ چي سند ئې تر تابعي پوري رسېدلی وي او د صحابي يادونه په کې نه وي شوې.

منقطع: هغه روايت ته وايي چي په سند کې ئې کومه انقطاع وي، د دوو راويانو تر منځ ئې ليدنه نه وي شوې خو روايت ئې ترې کړی وي.

مقطوع: هغه روايت ته وايي چي پر تابعي يا تر هغه راوروسته شخص (تبع تابعي) پای ته رسېدلی وي او دوی ته کوم قول يا عمل منسوبوي.

متواتر: هغه حديث ته متواتر وايي چي په هره طبقه کي له دومره ډېرو کسانو روايت شوی وي چي پر دروغو د هغوی اتفاق عقلاً محال

وي.

احاد: هغو رواياتو ته وايي چي راوي ئې يو يا څو كسان وي.

احاد هم د رواتو د شمېر له پلوه په دريو ډولونو: مشهور، عزيز او غريب؛ او هم د رواتو د وصف او حالت له پلوه په دريو ډولونو: صحيح، حسن او ضعيف وېشل شوي.

مشهور: هغه حديث ته وايي چي په هري طبقې كي ئې راويان درې يا تر دې زيات وي.

عزيز: هغه حديث ته وايي چي لومړني راويان ئې دوه وي.

غريب: هغه حديث ته وايي چي لومړنی راوي ئې يوازي يو كس وي. چي دا په درې ډوله وېشلی شو: غريب، ډېر غريب، تر ټولو زيات غريب؛ كه په صحابه وو كي يو راوي لري نو غريب دئ، كه په تابعينو كي هم يوازي يو راوي لري نو ډېر غريب دئ او كه په تبع تابعينو كي هم يوازي يو راوي لري نو تر ټولو زيات غريب دئ.

صحيح: هغه حديث ته وايي چي راويان ئې عادل (مسلمان، عاقل او بالغ) او د ښه حفظ او ضبط خاوندان وي او سند ئې له پيل تر پای متصل وي او په متن كي ئې شذوذ او علت نه وي.

حسن: هغه حديث ته وايي چي راويان ئې پورتني صفات ولري خو د كوم راوي د ضبط درجه ئې تر هغوی راټيټه وي.

ضعيف: هغه حديث ته وايي چي په راويانو كي ئې داسي څوك هم وي چي د حفظ او ضبط او له كوم بل پلوه څه ضعف ولري او پر وينا ئې زيات باور نشي كېدی.

متفق عليه: هغه روايت ته متفق عليه وايي چي امام بخاري او امام مسلم پرې متفق وي او دواړو صحيح گڼلی وي. ځيني خلك داسي گمان كوي چي گواكي متفق عليه روايت به داسي وي چي ټولو محدثينو پرې اتفاق كړی او هغه ئې صحيح گڼلی؛ حال دا چي خبره داسي نه ده، د امام بخاري او امام مسلم توافق داسي دئ لكه د يوه استاد او شيخ د دوو شاگردانو توافق، د دوی تر منځ توافق نه بلكي اختلاف د حيرانتيا

وړ کېدی شي.

د متن له پلوه هغه حدیث صحیح ګڼل کېدی شي چې:

په قرآن کې د هغه لپاره کوم شاهد وي، د قرآن له کوم آیت سره په واضح توګه توافق ولري، یا لږ تر لږه د کوم آیت له الفاظو اشارتاً داسي معلومېږي چې د روایت متن ورسره اړخ لګوي.

له قرآن سره تعارض ونه لري. دا د کبار صحابه او د ابوحنیفه رحمه الله په شمول د ټولو فقهاءو مسلك دئ چې حدیث قرآن ته راجع کوي او په هغه صورت کې ئې د استناد وړ ګڼي چې په قرآن کې د هغه لپاره شاهد ومومي او یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري.

له بل صحیح حدیث سره تعارض ونه لري.

د متواتر سنت مخالف نه وي. د مثال په توګه د أذان څرنګوالی په تواتر سره له یوه نسل بل ته انتقال شوی، که څوك د أذان په اړه داسي روایت وړاندي کړي چې له دې متواتر سنت سره تعارض ولري او ووایي: په أذان کې دا ویل هم ضروري دي چې (اشهد أن علیاً ولی الله)!! نو دا روایت مردود دئ.

په داسي قضیې او واقعې بحث نه کوي چې په ډېرو پوري تړلې وي خو یوازي یوه کس پرې څه ویلي او بل داسي څوك ونه موندل شي چې د همدې قضیې په اړه ئې همدا خبره کړې وي. مثلاً په جومات کي یوه وینا او خطبه، په حج کي خطبه، یا د یوه سفر په دوران کي چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ډېر یاران ملګري وو؛ کومه پېښه رامنځته شوې، په اړه ئې پیغمبر علیه السلام څه ویلي یا کړي؛ یو کس پاڅېدلی او د دې وینا، خطبې او پېښي په اړه ئې څه ویلي خو له ده پرته بل داسي څوك نشته دي چې د ده خبره ئې کړې وي؛ نه ملګری لري او نه شاهد.

په روایت کې داسي څه نه وي ویل شوي چې صحابه وو د هغي وینا قولاً یا عملاً مخالفت کړی وي.

داسي څه په کې نه وي ویل شوي چې یا د عام الهي سنت خلاف وي او

یا د عقل خلاف. الهي سنن ثابت او تغییر نه منونکي دي، عقل په حقیقت د پوهېدو وسیله ده، قرآن د کافرانو په اړه فرمایي چې هغوی له دې امله په حقائقو نه پوهېږي او ایمان پرې نه راوړي چې تعقل نه کوي، د دې معنی دا ده چې نه قرآن د عقل خلاف دئ او نه عقل د قرآن خلاف، نه نقل (نصوص) د عقل له پرېکړو سره تصادم کوي او نه عقل د نقل له پرېکړو سره، هیڅ نقلي دلیل د عقلي دلیل خلاف نه وي او هیڅ عقلي دلیل د نقلي دلیل خلاف نه وي، نه په صحیح نصوصو کې داسې څه شته چې عقل ئې نه مني؛ او نه عقل داسې خبره کولی شي چې نصوص ئې نه مني، موږ هم د قرآن حقیقت په خپل عقل سره درك کوو او هم د احادیثو صحت او ضعف، څوك چې عقل نه لري نه د قرآن په تفسیر پوهېدی شي او نه د حدیث په صحت او ضعف.

د مثال په توګه: که تاسو داسې روایت وګورئ چې په څلورم نسل کې یو کس وایي: ما له فلان تبع تابعي، هغه له فلان تابعي او هغه له فلان صحابي اورېدلي چې ویل ئې: موږ له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره یو ځای ته ورسېدو، درې سوه کسان وو، یوه کلي ته ورسېدو، یو سړی راغی، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې وویل: ته پیغمبر نه یې، که ته په حقه یې نو پر ما دې له آسمانه تیږه راپرېوځي، ناڅاپي له آسمانه تیږه راپرېوته او د دې سړي پر سر ولګېده او مړ شو!! کوم روایت چې دغسې وي؛ په صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو کې یوازې یو یو راوي ولري، نو د دې روایت په اړه به وایو:

دا سفر څه وخت شوی؟ د کلي نوم څه وو؟ په دې دریو سوو کسانو کې ولې د کوم صحابي نوم نه دئ اخیستل شوی؟ ولې له دغو دریو سوو کسانو بل چا دا خبره نه ده کړې؟ ولې په تابعینو او تبع تابعینو کې بل چا دا خبره نه ده کړې؟ هغه سړی څوك وو چې کاڼی ئې پر سر راپرېوتو؟ د الله تعالی سنت خو داسې نه دئ چې د پیغمبرانو پر منکرینو له آسمان ډبرې ووروي، که داسې وی نو پر نورو منکرینو به هم تیږې ورېدلې وې!! شیعه دې ته ورته یو مسخره روایت لري چې وایي: په غدیر خم

کي رسول الله صلی الله علیه و سلم علي رضي الله عنه خپل ځای ناستی وټاکو، یوه کس وویل: آیا دا پرېکړه د الله تعالی له لوري شوې؟ ورته وویل شول چي هو؛ نو دې سړي وویل: که داسي وي نو له آسمان دي زما پر سر ډبره راپرېوځي، همداسي شوه، ډبره راغله او د هغه پر سر راپرېوته!! د داسي روایت په اړه به وایو: دا د درایت او عقل خلاف دئ، نه یوازي د سند له پلوه د منلو وړ نه دئ بلکي د متن او محتوی له پلوه هم د منلو وړ نه دئ، دا ځکه چي ولي له دغو ټولو صحابه وو هیڅا ونه ویل چي علي رضي الله عنه د ځای ناستي په توګه ټاکل شوی؟ ولي ټولو صحابه وو د علي رضي الله عنه په شمول له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره بیعت وکړ؟ په دې پوښتنو سره موږ کومه ګناه نه ده کړې بلکي د قرآن له لارښوونو سره سم مو عمل کړی، که له دغو پوښتنو پرته دا خبره منو او عمل پرې کوو نو د قرآن له صریح لارښوونو سره مو مخالفت کړی، قرآن فرمایي:

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾ الإسراء

او په هغه څه پسي مه ځه چي پرې نه پوهېږې، یقیناً چي غوږ، سترګي او زړونه هغه څه دي چي پوښتنه به ئې کېږي.

یعني الله تعالی به له تا پوښتنه کوي چي ولي دي غلطي خبري ته غوږ کښېښود، هغه دي له تحقیق پرته ومنله او عمل دي پرې وکړ او بل ته دي وکړه. هغه خبره ومنه چي په حقانیت ئې پوه شوی یې، له تحقیق وروسته په یوې خبري باور کوه، په پټو سترګو په هري خبري پسي مه درومه.

په قرآن کي له آسمان د ډبري راپرېوتو وینا هغو مشرکینو ته منسوب شوې چي د دوی د جهل او ړوند تعصب انتهاء انځوروي او فرمایي:

وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً

مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾ الأنفال

او کله چي ئې وويل: الهي! که دا حقيقتاً ستا له لوري وي نو پر موږ له آسمان کاڼي راووروه، يا کوم دردناك عذاب (راباندي) راوله.

يعني قريشو ويل: که دا قرآن حقيقتاً د الله له لوري لېږل شوی کتاب وي نو خدای دي له آسمان پر موږ کاڼي ووروي، يا دي کوم بل عذاب پر موږ راولي! د دې خبري له کولو د دوی موخه دا وه چي دا کتاب د الله تعالی له لوري نه دئ، که حقيقتاً د الله تعالی له لوري وی نو پر موږ خو به يا له آسمان ډبري ورېدلې وې او يا به په کوم بل الهي عذاب اخته شوي وو!! الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمايي:

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾ الانفال

او الله داسي نه دئ چي دوی تعذيب کړي په داسي حال کي چي ته (اې پيغمبره!) لا په دوی کي يې او الله ئې په داسي حال کي تعذيبوونکی نه دئ چي دوی بخښنه غواړي.

دلته د عذابونو د نزول په اړه الهي سنت بيان شوی؛ د عذاب په راتلو کي د ځنډ دوه وجوهات ښودل شوي: په ولس کي د داعي شتون او په دوی کي د داسي خلکو شتون چي توبه به کوي او له کفر، شرك او گناه به لاس اخلي.

يعني قرآن موږ ته ويلي چي د چا د مطالبې له مخي؛ نه الله تعالی پر ده عذاب نازلوي او نه پر بل چا؛ د عذاب نزول ثابت الهي سنن لري.

دې ته مو پام وي چي دا آيت د مشرکينو هغي وينا ته ځواب وايي چي ځان په حقه گڼي او قرآن د الله تعالی د کتاب په توگه نه مني؛ دوی ته ويل شوي چي د الله تعالی له لوري عذاب د چا په غوښتنه نه راځي؛ دا پرېکړه د الهي ثابتو سننو مطابق تر سره کېږي؛ اما دغه روايت ئې داسي مجهول مسلمان ته راجع کوي چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه سفر په يارانو کي شامل وو؛ آيا منلی شو چي الله تعالی پر

مشرکینو کاڼي ونه ورول خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم پر یوه صحابي ئې وورول؟!! په داسي حال کي چي راوي د صحابي نوم هم نه دئ اخیستی او له ده پرته بل چا دا خبره هم نه ده کړې؟

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي په ځینو مواردو کي د یوه کس ادعاء د بل په اړه هغه مهال ومنو چي دوه شاهدان وړاندي کړي او په ځینو مواردو کي هغه مهال چي څلور شاهدان ولري، که د قرض او شخصي معاملاتو په اړه د قرآن حکم دا وي نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه چي څوك ادعاء کوي چي داسي ئې وکړل یا داسي ئې وویل څنگه ئې ادعاء له هیڅ شاهد پرته ومنو؟!! عمر رضي الله عنه خو داسي وو چي چا به د ده په وړاندي وویل چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي اورېدلي؛ نو فوراً به ئې ورته وویل: یا شاهد وړاندي کړه یا دي ملا درې ته تیاره کړه!! په کار خو دا وه چي زموږ درنو محدثینو د احادیثو په اړه تر څلورو هم زیات شاهدان غوښتی، د داسي روایاتو له راوړلو ئې ډډه کړې وی چي یو راوي لري؛ نه په صحابه وو کي د راوي ترڅنگ شاهد شته، نه په تابعینو کي او نه په تبع تابعینو کي، لږ تر لږه دومره خو ئې باید کړي وی چي د داسي روایاتو تر څنگ ئې لیکلی: پام کوئ چي د دې راوي یوازي یو کس دئ او هیڅ شاهد نه لري!! که نن د یوه داسي روایت په اړه چي غریب وي، یو راوي لري، په قرآن کي هم کوم شاهد ورته نه مومي، یو څوك ووایي: زه دا روایت نه منم، استناد پرې نه کوم، وېرېږم چي رسول الله صلی الله علیه و سلم او صحابه وو ته داسي خبره منسوب نه کړم چي هغوی نه وي کړې، نو دې سړي نه یوازي له حدیث انکار نه دئ کړی، گنهگار او مجرم ئې نه شو گڼلی، بلکي د عمر رضي الله عنه په سنت ئې عمل کړی او له دې ئې ځان ساتلی چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته غلطه خبره منسوب کړي او د دوزخ د اور مستحق شي. که عمر رضي الله عنه د صحابه وو غریب روایت نه منلو او د شاهد وړاندي کولو مطالبه ئې ترې کوله، نو موږ به ولي داسي روایات منو چي په څلورو او پنځو طبقو کي یوازي یو یو

راوي لري، مخصوصاً هغه روایات چي نه په قرآن کې کوم شاهد ورته مومو، نه په احادیثو کې او نه له عقل او درایت سره اړخ لګوي؟!!

د مخکیني درس په پای کې مو د درایت له مخي او د عقل په مرسته د روایت په اړه د پرېکړي یو مثال بیان کړ؛ د دې مثال چي د روایت د صحت لپاره د نورو شرائطو تر څنګ دا هم یو شرط دئ چي په هغه کې داسي څه نه وي ویل شوي چي یا د عام الهي سنت خلاف وي او یا د عقل خلاف وي.

د دې لپاره څو مثالونه له بخاري وړاندي کوم:

د تبع تابعینو له دور وروسته یو کس د ذَر په نامه وایي چي ما له سعید بن عبدالرحمن او هغه له خپل پلار اورېدلي چي عَمَّار رضي الله عنه عمر رضي الله عنه ته وویل: آیا په یاد دي دي چي زه او ته په یوه سفر کي سره ملګري وو؛ او تا لمونځ ونه کړ خو زه (په خاورو کي) ورغړېدم او لمونځ مي وکړ، دغه قصه مي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وکړه، رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وویل: (دا درته کافي وو چي داسي وکړې: بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل دواړه لاسونه پر زمکه ووهل او ورپو ئې کړل، بیا ئې خپل مخ او دواړه لاسونه پرې مسح کړل. روایت دا دئ:

۳۳۸ - حَدَّثَنَا آدَمُ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا الحَكَمُ، عَنْ ذَرٍّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ، فَقَالَ: إِنِّي أَجْنَبْتُ فَلَمْ أُصِبِ المَاءَ، فَقَالَ عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ لِعُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ: أَمَا تَذْكُرُ أَنَّا كُنَّا فِي سَفَرٍ أَنَا وَأَنْتَ، فَأَمَّا أَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ، وَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ فَصَلَّيْتُ، فَذَكَرْتُ لِلنَّبِيِّ صلّى الله عليه وسلم، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ هَكَذَا» فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَفَّيْهِ الأَرْضَ، وَنَفَخَ فِيهِمَا، ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ رواه البخاری

دا روایت په بخاري کې اوه ځلي راغلی، د سند له مخي دومره

کمزوری دئ چې په پنځو نسلونو کې یوازې یوه یوه کس روایت کړی، هیڅ راوي ئې شاهد نه لري، یعني تر زیات غریب هم اوښتی او د متن له مخې قطعاً د منلو او راوړلو وړ نه دئ؛ ځکه نه خو دا د منلو وړ ده چې عمر رضي الله عنه د تیمم له حکم خبر نه وو او لمونځ ئې پرېښود، نه دا چې عبدالله بن عباس چا ته د تیمم اجازه نه ورکوله، (په یوه روایت کې دا راغلي چې ګواکې عبد الله بن عباس ویلي: که د تیمم اجازه ورکړو نو بیا خو به خلك د سړو اوبو له کبله هم تیمم کوي!!) او نه دا چې عَمَّار دومره بې خبره وو چې د تیمم لپاره په خاورو کې رغړېدو!! آیا د عمر رضي الله عنه په ضد داسې ادعاء له شاهد پرته منلی شو؟! هغه خو د علم او تقوی له پلوه دومره لوړ مقام درلود چې له ابوبکر رضي الله عنه وروسته هیڅ صحابي د هغه مقام ته نه رسېدو، هغه حتی د خندق په جنګ کې هم خپل لمونځ نه دئ پرېښی، د تیمم په اړه خو د قرآن آیت دومره صریح او واضح دئ چې د قرآن هر لوستونکی پرې پوهېږي؛ او اړوند آیت ئې داسې مهال نازل شوی چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره لویه ډله په سفر کې ملګرې وه، ټولو همغه مهال تیمم زده کړی. عبدالله بن عباس رضي الله عنهما به څنګه له داسې کار خلك منع کول چې الله تعالی ئې د کولو اجازه ورکړې؟!! د روایت دغو خبرو ته په پام سره دا هم ویلی شو چې دا برخه ئې هم د منلو وړ نه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپلو لاسونو کې پو کړې، دا ځکه چې په تیمم کې پاك لاس پر مخ موښل مراد نه دي بلکې په خاورو لړلی لاس مراد دئ. لاسونه څنډل یا یو له بل سره وهل چې شګې او لوټې ترې توی شي مانع نه لري خو خاورې ترې پو کول له قرآن سره اړخ نه لګوي.

اوس که څوك ووایي: زه دا روایت نه منم، ګمان کوم چې دا روایت به په پنځم نسل کې د اهل تشیع داسې چا جوړ کړی وي چې له عمر رضي الله عنه سره سخت عداوت لري؛ له همدې کبله ئې عمر رضي الله عنه ته په تیمم نه پوهېدا او د لمونځ پرېښودا منسوب کړې، عمار رضي

الله عنه ته د تيمم لپاره په خاورو كې رغړېدا!! او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته ئې دا حق وركړى چې د قرآن يو صريح حكم نسخ كړي!! نو دې سړي نه يوازي هيڅ گناه نه ده كړې؛ بلكې حق لري ووايي: زه د دغو درنو صحابه وو په اړه دا تورونه نه منم؛ كه دا خبره ونه كړي نو هم به ئې له دغو صحابه وو سره جفا كړې وي او هم له خپل عقل او درايت سره.

آيا هغه څوك به د دريو جليل القدره صحابه وو په خلاف په ناروا تورونو كې شريك نه گڼل كېږي چې دا روايت عمداً او له تحقيق پرته مني او ترې لاندې (صحيح) ليكي؟!! د الله تعالى په وړاندې به ئې ځواب څه وي چې له شاهد پرته ئې د لويو لويو شخصيتونو په اړه داسې ادعاءگانې منلې او صحيح ئې گڼلې دي؟!

بل مثال ئې هغه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د شپې او يا د ورځې په يوې برخې كې له خپلو ټولو مېرمنو سره يو ځاى كېدو؛ او د مېرمنو شمېر ئې يولس او په بل روايت نه (٩) وه، انس رضي الله عنه ته وويل شول: آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم دومره طاقت درلود؟ ده وويل: موږ به سره ويل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د دېرشو كسانو قوت او طاقت وركړى شوى. روايت دا دئ:

٢٦٨ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدُورُ عَلَى نِسَائِهِ فِي السَّاعَةِ الوَاحِدَةِ، مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ» قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسٍ أَوَكَانَ يُطِيقُهُ؟ قَالَ: كُنَّا نَتَحَدَّثُ «أَنَّهُ أُعْطِيَ قُوَّةَ ثَلاَثِينَ» وَقَالَ سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، إِنَّ أَنَسًا، حَدَّثَهُمْ «تِسْعُ نِسْوَةٍ» بخارى

دا روايت د سند له مخي تر ټولو زيات غريب روايت دئ، ځكه په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو كې يوازي يو يو راوي لري؛ او د متن له

مخي داسي دئ چي هيڅ وزن او اعتبار نه لري، ځکه راوي ته داسي خبره منسوب شوې چي په هيڅ توگه نشي ترې خبرېدی، انس رضي الله عنه څه پوهېدو چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د هغه د مېرمنو تر منځ څه تېرېدل؟! چا دا خبره ورته کړې؟ څنگه ترې خبر شوی؟! په کار خو دا وه چي دغه روایت ته په پام سره معاذ بن هشام د ضعیفو او غیر ثقه راویانو په ډلي کي نیول شوی وی او هر هغه روایت یوې خوا ته پرېښودل کېدی چي د ده له لوري روایت شوی. ځیني محققین د ده روایات د استناد وړ نه بولي.

دا روایت په همدې اړه د بخاري له نورو روایاتو سره تعارض لري، بخاري نه دا ویلي چي کوم روایت صحیح دئ او نه ئې هغو جدي پوښتنو ته ځواب ویلی چي په دې اړه راولاړېږي.

روایت دوه برخي لري؛ یوه ئې دا چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به د ورځي یا د شپې په کومي برخي کي په خپلو ټولو مېرمنو راگرځېدو، دا برخه په ځینو نورو روایاتو کي هم راغلې او مطلب ئې دا دئ چي د ټولو پوښتنه به ئې کوله، په دې کي دقیقه خبره دا ده چي کله به ئې مازدیگر دا کار کاوو او کله تر ماښام وروسته. بله برخه ئې انس رضي الله عنه ته منسوب دا دوې ویناوي دي: ۱- رسول الله صلی الله علیه و سلم یا نه (۹) یا یولس (۱۱) مېرمني درلودې او گواکي په همدې وخت کي به ئې له ټولو سره نژدېکت کاوو! ۲- دا ځکه چي موږ به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دېرشو کسانو طاقت (جنسي طاقت) ورکړی شوی. د دې دواړو خبرو په اړه باید ووایو چي دا په بشپړه توگه بې بنسټه او د حقیقت خلاف خبري دي؛ په څو دلائلو:

له یوه پلوه راوي ته دا خبره منسوب شوې چي نه پوهېدو په یوه وخت کي د پیغمبر علیه السلام په حرم کي څو مېرمني وې، نه یا یولس ئې بولي! څوك چي له دې خبر نه وي نو له دې به څنگه خبرېدو چي له خپلو مېرمنو سره د لیدو پر مهال څه تېر شوي؛ پیغمبر علیه السلام خو خاوند او مېرمن له دې منع کړي چي د خپل خلوت خبري د بل چا په وړاندي

وکړي؛ د خلوت له خبرو له خاوند او مېرمني پرته بل هیڅوك نه خبرېږي؛ د راوي د دې ادعاء مرجع کومه ده؟ چا دا خبره ورته کړې؟

نه قرآن دا خبره کړې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د دېرشو کسانو جنسي قوت درلود او نه پیغمبر علیه السلام په خپله دا خبره کړې ده؛ نو راوي د کوم دلیل له مخي دا ادعاء کړې ده؟ او د دې خبري گټه څه ده؟!

قرآن خو وایي چي پیغمبر علیه السلام به کله د شپې له دریو دوه برخي، کله نیمايي شپه او کله یوه برخه په لمانځه او د قرآن په تلاوت تېروله (إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ) او د ورځي له پلوه به هم د دعوت په سخت کار کې مصروف وو (إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحٗا طَوِيلٗا )، گڼ شمېر روایات هم وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېر ځلي له خپلو مېرمنو اجازه غوښتې ده چي د دوی د وار شپه په عبادت تېره کړي، دا روایت خو په بشپړه توگه د قرآن او دغو روایاتو له وینا سره جدي او ژور تعارض لري او وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به نژدې یولس ساعتونه په جنسي تعلقاتو تېرول!!

د احادیثو په کتابونو کې خو باید یا د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا، یا فعل، یا هغه وینا او فعل چي رسول الله صلی الله علیه و سلم اورېدلې او لیدلی خو تردید ئې نه دئ کړی، راوړل شي؛ د هر چا وینا د حدیث په نامه راوړل خو د دې روایت په څېر ډېري ستونزي راولاړوي.

د دې روایت په دوهمي برخي کې انس رضي الله عنه ته منسوب یناوي داسي دي چي هیڅ مسلمان باید د هغوی د ویلو جسارت ونه کړي، دا هم د عقل خلاف دي، هم د فطرت او هم د حقیقت، دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په شأن کې جسارت او هتك حرمت دئ؛ هغه نه پوهېږي چي که دښمنانو ته داسي خبري په لاس ورغلې نو د اسلام په ضد به څومره استفاده تري کوي؟!! څوك چي دا خبره په خوله راوړي باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه حدیث ئې مخي ته

ودرېږي چې وايي: چا چې ما ته داسي څه منسوب کړل چې ما نه وي ويلي په جهنم کې دي خپل ځای ولټوي. داسي خبري هغه څوك کولی شي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د تعدد زوجات له حکمت او فلسفې بې خبره وي او ګمان کوي چې د دې وجه جنسي قوت وو؛ نه هغه ستر مصلحت چې په دې کار کې نغښتی وو. نه پوهېږي چې په دې کې کوم مصلحت مضمر وو او ولې رسول الله علیه السلام ته د دې اجازه ورکړی شوې؟

راشئ وګورو چې د پیغمبر علیه السلام د ودونو حقیقت څنګه وو؟ ولې هغه ته د (نه) ښځو د نکاح اجازه ورکړی شوې، د دې دلیل څه دئ او دا کار په کومي زمانې کې او د پیغمبر علیه السلام د مبارك ژوند په کوم پړاو کې تر سره شوی؟ په ځوانۍ کې که په زړښت کې؟

ټولو ته جوته ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په پنځه ويشت کلنۍ کې واده وکړ، خديجه رضي الله عنها د ده لومړۍ بي بي څلوېښت کلنه کونډه وه، د هغې تر وفات پوري ئې بله ښځه نده کړې، تر پنځوس کلنۍ پوري يعني ٢٥ کلونه ئې يوازي يوه مېرمن درلوده، د خديجې رضي الله عنها له وفات وروسته ئې سوده رضي الله عنها چې کونډه وه؛ په نکاح کړه، سوده له لومړيو مسلمانانو وه، له خپل مخکيني مېړه سره ئې يو ځای حبشې ته هجرت وکړ او د هجرت سختي شېبې او کړاوونه ئې وګالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او پېغلتوب، امتياز ئې قوي ايمان او د ايمان په لار کې قرباني وه، پیغمبر علیه السلام صرف يوه ښځه په پېغلتوب کې کړې. نوري بيبياني ئې کونډي وې، هره يوه ئې د سوده رضي الله عنها په څېر د يوه لوی اجتماعي مصلحت لپاره په نکاح کړې؛ په دې کونډو کي ئې يوه داسي هم وه چې شپږ اولاده ئې لرل، هغې ورته عذر کړی چې يا رسول الله! نه غواړم چې ستا لپاره د تکليف او زحمت باعث شم؛ خو هغه غوښتل چې د خپل يو مخلص ملګري صحابي چې د الله تعالی په لار کي شهيد شوی؛ نن ئې کونډه او ماشومان پاته دي، له ولي او متکفل پرته؛ دا ئې نه شو منلی نو ځکه ئې

هغې ته پيغام لېږلی، هغې عذر وړاندي کړی خو پيغمبر علیه السلام هغه قانع کړې. د پیغمبر علیه السلام د ودونو فلسفه همدا وه، د جنسي قوت لپاره نه؛ بلکي د یوه لوی مصلحت لپاره. اصلاً تر یوې د زیاتو مېرمنو اجازه ورکړل شوې د همدې لپاره ده؛ د نساء سورې په هغه ځای کې چي د یتیمانو او د دوی په اړه د عدل او قسط مراعاتولو یادونه شوې؛ او ویل شوي: که د یتیمانو په اړه د عدالت نه مراعاتولو له پلوه ووېرېدئ نو کولی شئ دوه، درې او څلور مېرمني وکړئ؛ یعني که تاسو ولیدل چي د ټولني یو شمېر غړي د اسلام په لار کي او د ګډ هدف او آرمان لپاره شهیدان شوي؛ له هغوی کونډې او یتیمان پاته دي، داسي څوك نه لري چي پالنه او ساتنه ئې وکړي او ستونزي ئې حل کړي؛ نو دا بې عدالتي ده چي دوی همداسي پاته شي؛ دا ستاسو دیني مسئولیت دئ، غیرت او ایمان همدا ایجابوي چي دا مېرمني په نکاح کړئ، په دې توګه به هم د کونډو مېرمنو ستونزي حل کړئ او هم د هغوی د اولادونو او یتیمانو ستونزي؛ الله تعالی د دې ستر مصلحت لپاره د تعدد زوجات اجازه ورکړې؛ د شهوت او شوق لپاره نه؛ بلکي د یوې ستري او مهمي مُعْضَلې د حلولو لپاره دا کار جائز شوی. صحابه وو به د جنګ په میدان کي او هغه مهال چي ډېر شمېر مجاهدین به شهیدان شوي وو؛ نو هماغه مهال به ئې دا پرېکړه کوله چي د هر شهید د کونډې او یتیمانو د پالني مسئولیت به څوک پر غاړه اخلي. آیا ډېره عجیبه نه ده چي څوك داسي مهم اجتماعي تصرف او رغنده اقدام ته داسي رنګ ورکوي چي نه یوازي د رسول الله صلی الله علیه و سلم له شأن سره قطعاً نه ښایي؛ بلکي دښمنانو ته داسي څه په لاس ورکول دي چي د اسلام په ضد د پراخو زهرجنو تبلیغاتو وسیله ترې جوړه کړي؛ زموږ د متقي پیغمبر علیه السلام د رسولانه تصرفاتو په اړه داسي تحلیل وړاندي کول چي ګواکي د تعدد زوجات باعث جنسي قوت وو نه معنوي او رسولانه مسئولیتونه؛ دا خبري کول او منل ډېر جسارت غواړي او د هیڅ ایمان باید دا اجازه ورنه کړي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي

نسبتونه ومني. یقیناً چي نه د مؤمن ایمان دا اجازه ورکوي او نه ئې عقل او درایت.

دې ته باید متوجه وو چي دا روایت انس رضي الله عنه ته منسوب شوی؛ او انس هغه مهال له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره یو ځای شوی چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم عمر نژدې اته پنځوس کاله وو؛ او ده څه کم زیات څلور کاله له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره تېر کړي، د جنسي قوت غلیان خو تر څلوېښت کلنۍ یا زیات تر زیات تر پنځوس کلنۍ پوري وي، تر دې وخته خو رسول الله صلی الله علیه و سلم یوازي یوه مېرمن درلوده!! د نړۍ تر ټولو ښایسته پېغلې ورته میسري وې؛ ولې ئې کونډې په نکاح کړې او هغه هم د ژوند په وروستیو کلونو کې او داسي کونډې هم چي ډېر اولادونه ئې درلودل؟! دا ټول حقائق او دلائل د دې خبري شهادت ورکوي چي دا روایت جعلي، موضوعي او بې بنسټه دئ، نه د منلو دئ او نه د استناد وړ؛ څوك چي دا روایت مني نو هم به ئې له خپل گران او متقي پیغمبر علیه السلام سره جفا کړې وي او هم له خپل عقل سره. لکه چي د عیسی علیه السلام تر ټولو ستر دښمنان هغه دي چي عیسی علیه السلام ئې په داسي صفاتو وستایو چي الله تعالی نه وو پرې ستایلی او داسي څه ئې ورته منسوب کړل چي الله تعالی نه وو ورته منسوب کړي، مفسدو مسیحیانو حتیٰ د یوې بد لمني مېرمني په اړه ویلي چي د مسیح پښې ئې په خپلو اوښکو مینځلې، بیا ئې عطر پرې وپاشل، بیا ئې د سر په وېښتانو وچ کړل او تر هغه ئې په وار وار د ده پښې کښلولې چي غونډه پای ته ورسېده!! همدا راز زموږ د خوږ پیغمبر علیه السلام تر ټولو ستر دښمنان هغه دي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي صفاتو ستایي چي الله تعالی نه دئ پرې ستایلی!! د دې روایت مزید شرح په اړوند روایت کې وگورئ.

راگرځو د روایاتو په اړه قواعدو ته:

محدثین کله چي داسي حدیث بیانوي چي راوي له مروي عنه

اوربدلی وي نو د سمعت، حدثني، حدثنا، اخبرني، اخبرنا، انبأنا او قال لي الفاظ کاروي او کله چي راوي خپل مروي عنه نه وي ليدلی او له هغه ئې مخامخ نه وي اوربدلی د عن او قال اصطلاح راوړي. د احاديثو زده کوونکی د طالب الحديث په نامه او استاد ئې د محدث، شيخ، حجت، امام او حاکم په نامه يادوي. د احاديثو کتابونه د جامع، سُنن، مُسْنَد، مُعْجَم، مُصَنَّف په نامه يادوي.

هر څومره چي د يوه خاص روايت د راويانو نوملړ لنډ او د راويانو شمېر ئې لږ وي؛ د خطأ او اشتباه امکان ئې لږ وي، خو څومره چي محدث خپل روايات له درېيم، څلورم، پنځم او شپږم کس تر لاسه کوي نو د خطأ او اشتباه امکان ئې هم زياتېږي. هغو محدثينو چي مخامخ ئې له صحابه وو يا له تابعينو اوربدلي روايات راغونډ کړي؛ تر هغو ئې روايات زيات معتبر دي چي له درېيم، څلورم او پنځم نسل ئې تر لاسه کړي.

په احادو کي تر ټولو کمزوری روايت هغه دئ چي لومړی، دوهم او درېيم راوي ئې يو يو وي، په صحابه وو کي هم يوازي يوه صحابي روايت کړی وي او په تابعينو او تبع تابعينو کي هم يوه يوه کس. او دوی هم خپل روايت له مروي عنه مخامخ نه وي اوربدلی او محدث د عن، حدث، قال او اخبر په کلمې سره د هغه روايت راوړی وي، دا روايات په هغه صورت کي نسبتاً تقويه کېږي چي راوي خپل مروي عنه ليدلی وي.

هغه روايت ته د شك په سترګه کتل په کار دي چي د وړې غلطۍ او ګناه سزا دومره ستره ښيي چي تر کبيره ګناهونو هم زياته وي، ځکه دا هم د قرآن له اصولو سره مغايرت لري او هم د عدالت خلاف خبره ده. د قرآن له مخي د ستري ګناه سزا ستره ده او د وړې سزا وړه.

محدثينو اکثراً د راويانو ثقه والي ته په پام سره دا پرېکړه کړې چي کوم روايت صحيح، حسن يا ضعيف وګڼي، د راويانو په اړه ئې تحقيق کړی، ثقه او د اعتماد وړ راويان ئې ټاکلي، ضعيف ئې مشخص کړي، د ثقه او ضعيفو راويانو نوملړ ئې خپلي مخي ته ايښی او د همدې له

مخې ئې د هر روايت په اړه پرېکړه کړې چې کوم نوم ورکړي، صحيح، حسن که ضعيف، اوس چې تاسو د احاديثو د کوم کتاب له پاسه د صحيح نوم گورئ يا د کوم روايت په پای کې د صحيح لفظ؛ نو د دې معنى فقط دا ده چې د روايت ټول راويان د دغه محدث له نظره ثقه او د اعتماد وړ دي، خو کېدی شي د دغه محدث صحيح ته بل محدث ضعيف ووايي او ضعيف ته ئې صحيح، دا هم کېدي شي چې په يوه کتاب کې مو؛ له يوه راوي، په يوې موضوع پورې اړوند داسې متعدد روايات تر سترگو شي چې په الفاظو کې ئې نه يوازې توپيرونه وي بلکې جدي تعارض او تضاد وي؛ توپير يعني دا چې په يوه روايت کې يو لفظ او په بل کې بل لفظ؛ خو له مخکيني سره مترادف او هم معنی راغلی وي، د مثال په توگه د (جلس) پر ځای (قعد) راغلی وي، تعارض يعني دا چې، په يوه کې يو څه او په بل کې بل څه ويل شوي وي؛ د مثال په توگه يو وايي: ما واورېدل بل وايي موږ واورېدل، يو وايي موږ لس کسان وو بل ئې وايي موږ پنځوس کسان وو، يو وايي سَحَر وو بل وايي غرمه وه؛ او تضاد يعني دا چې په يوه کې د بل خلاف خبره راغلې وي؛ د مثال په توگه يو وايي له خوبه وروسته ئې د لمانځه لپاره اودس وکړ او بل ئې وايي اودس ئې ونه کړ، يو وايي پښې ئې ومينځلې او بل ئې وايي پښې ئې مسح کړې، يو وايي معراج په ويښه کې وو او بل وايي په خوب کې وو.

دا هغه اصول دي چې محدثينو د رواياتو د چڼلو او تنقيح په دوران کې مراعات کړي او هر څوك چې د خپلې مدعاء د اثبات لپاره په رواياتو استناد کوي بايد دا اصول مراعات کړي.

خو دې ته بايد متوجه وو چې الله تعالی موږ پيدا کړي يو؛ زموږ د هدايت لپاره ئې هم خپل لارښود کتاب رالېږلی او هم داسې پيغمبر چې په خپل قول او عمل سره د الله تعالی کتاب موږ ته بيان او تفسير کړي؛ يعني د هدايت لپاره ئې د فطري استعدادونو، عقل، فهم او حواسو تر څنگ؛ دا دوه پېرزويني هم زموږ په برخه کړې: الهي کتاب او د ده د

پيغمبر سنت؛ لكه چي په دې روايت كې راغلي:

٣ - عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ، لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ " موطأ مالك

له مالك روايت دئ چي ده ته دا خبره رسېدلې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: په تاسو كې دوه امور پرېږدم؛ تر هغه چي پرې تمسك او عمل كوئ نو هيڅكله به بې لاري نشئ؛ د الله كتاب او د ده د نبي سنت.

د دې روايت لپاره په قرآن كې هم واضح شاهد مومو او د دې آيت تفسير ئې ګڼلی شو چي فرمايي:

قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ﴿٣٢﴾ آل عمران

ورته ووايه: د الله او د پيغمبر اطاعت وكړئ، كه ئې مخ واړاوو نو الله له دغو كافرانو سره محبت نه كوي.

د پيغمبر اطاعت يعني د هغه په سنت عمل كول؛ يعني د الله تعالى ولي او دوست هغه دئ چي په عمل كې د الله او د پيغمبر متابعت كوي. د الله اطاعت يعني پر قرآن عمل او د پيغمبر اطاعت يعني د پيغمبر عليه السلام پر سنت عمل؛ او همدا دواړه د ايمان نښه او عدم ئې د كفر نښه ده.

كه څه هم دا روايت له هغه سره توپير لري چي په مخكيني درس كې مو له نظره تېر شو او وايي: په تاسو كې هغه څه پرېږدم چي كه منګولي پرې ولګوئ نو هيڅكله به بې لاري نشئ؛ او هغه د الله كتاب دئ؛ يعني د هدايت لپاره ئې يوازې د الله تعالى كتاب كافي ګڼلی وو؛ كه د الله تعالى له كتاب علاوه بل څه هم د هدايت لپاره ضروري وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به حتماً په دې مهمې او وروستۍ

خطبې کې د هغه یادونه کړې وه؛ قرآن په نورو آیتونو کې هم موږ ته همدا خبره کوي چې د الله تعالی کتاب په هر څه کې کفایت کوي؛ څو موارد ئې دا دي:

... وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾ الفرقان ۳۱

... او ستا رب د لارښود او مرستندوی په توګه کافي دئ.

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ العنكبوت

آیا دا ورته کفایت نه کوي چې پر تا مو دا کتاب نازل کړی چې پرې لوستل کېږي؛ یقیناً چې په دې کې د هغو لپاره رحمت او یادونه ده چې ایمان راوړي.

خو دا روایت د الله د کتاب تر څنګ د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت هم یادوي؛ د دې دواړو روایاتو تلفیق داسي دئ چې د الله کتاب د رسول الله صلی الله علیه و سلم ټول احادیث هم احتواء کوي؛ دا ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم احادیث په حقیقت کې د قرآن شرح او تفسیر دئ. یعني چې اصل همغه د حجة الوداع روایت دئ؛ د الله کتاب کافي دئ او پر سنت عمل هم په حقیقت کې پر قرآن عمل دئ.

باید دې ته متوجه وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مؤمنانو ته دا لارښوونه د خپل رسالت په پای کې او هغه مهال کړې چې نور له نړۍ د رخصتېدو په حال کې وو؛ ځکه د (قد ترکت فیکم: په یقیني توګه مي تاسو کې پرېښودل) الفاظ راغلي؛ دا الفاظ یوازې په همداسي آخري وخت کې ویل کېږي؛ همغسې لکه چې هر څوك د خپل میراث په اړه تر مړیني لږ وړاندې ورثه وو ته سپارښتني او وصیت کوي؛ همداسي وشول؛ پیغمبر علیه السلام په خپل آخري حج؛ چې د حجة الوداع په نامه یاد شوی؛ د نژدې سل زره خلکو په وړاندې په خپلې وروستۍ خطبې کې؛ دا سپارښتنه وکړه؛ او د دې معنی دا ده چې که په دې اړه هر روایت راغلی

وي؛ نو حتماً به ئې وخت او محل همدا وو. اوس که په دې اړه د راغلو روایاتو په الفاظو او متن کې تعارض وي؛ ناچار؛ یو به ترې انتخابوو؛ ځکه موضوع یوه ده او وخت ئې یو؛ همغه به غوره کوو چې په قرآن کې ورته شاهد مومو او ډېری محدثین ئې غوره ګڼي. د حجة الوداع خطبې کې نژدې ټولو کتابونو کې ګورو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یوازې د الله کتاب یاد کړی. نه ئې د سنت یادونه کړې، نه اهل بیت او نه عترت.

یو شمېر کتابونو داسې روایات هم راوړي چې په هغوی کې د سنت پر ځای د اهل بیت او عترت یادونه شوې؛ محققینو دا روایات د إسنادو له پلوه ضعیف ګڼلي او یا ئې ویلي: مراد ئې دا دئ چې زما د اهل بیت په اړه اهتمام وکړئ او مه ئې ځوروئ. نه دا چې د هغوی داسې متابعت وکړئ لکه چې د الله تعالی د کتاب متابعت کوئ.

دا روایات نه یوازې د إسنادو له پلوه ضعیف دي بلکې د متن له پلوه داسې دي چې قطعاً د منلو وړ نه دي؛ دا ځکه چې:
په قرآن کې هیڅ شاهد ورته نه مومو.
• د رسول الله صلی الله علیه و سلم له هغه حدیث سره مغایرت او تعارض لري چې په همدې اړه د حجة الوداع په تاریخي خطبه کې راغلی. هلته یوازې د الله تعالی پر کتاب د اعتصام یادونه شوې او فقط همدا له ضلالت د نجات وسیله ګڼل شوی.

د هر انسان په اولاد کې هم صالح او ښه وي او هم ناصالح او بد، د پیغمبرانو د اولاد په شمول؛ د نوح علیه السلام زوی او مېرمن او د لوط علیه السلام مېرمن او زومان ئې واضح مثالونه دي؛ موږ ټول د آدم علیه السلام اولاد یو؛ هغه هم لومړنی پیغمبر وو؛ په اولاد کې ئې موسی علیه السلام هم شته او فرعون هم؛ محمد علیه السلام هم شته او ابو جهل هم. ممکنه نه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دې د خپل اهل بیت په ارتباط داسې خبره کړې وي چې د هغوی متابعت د الله تعالی د کتاب په څنګ کې یاد کړي او هغه هم بلا استثناء او تر قیامت پورې

خپل ټول اولاد!!

قرآن یوازې د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنې د اهل البیت په نامه یادې کړې او همدا لقب ئې د ده او د ابراهیم علیهما السلام د مېرمنو لپاره غوره کړی؛ لکه چې فرمایي:

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾ الأحزاب

په خپلو کورونو کې تم شئ او د مخکیني جاهلیت د دور څرګندېدو په څېر مه څرګندېږئ، لمونځ اقامه کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، الله خو یوازې دا غواړي چې له تاسو اې اهل البیت (کورواله وو)؛ ناپاکوالی لرې وساتي او په ځانګړې پاکولو سره مو پاکې وساتي.

تر دې آیت وړاندې د پیغمبر علیه السلام مېرمنې په مکرره توګه د (نساء النبي) په نامه یادې شوې او همدغو ته په دې آیت کې د اهل البیت لقب کارول شوی؛ دا کټ مټ داسې ده لکه چې پښتانه خپله مېرمن د کور واله په نامه یادوي. نو په اهل البیت کې یوازې د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنې شاملې دي نه د کورنۍ نور غړي؛ لکه لوڼې، زامن، لمسیان او لمسۍ؛ او د تره زامن.

د ابراهیم علیه السلام د مېرمنې په اړه فرمایي:

قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ رَحْمَتُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ﴿٧٣﴾ هود

وئې ویل: آیا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دې پر تاسو وي اې اهل البیت (کور والو!)؛ بې شکه چې هغه ستایل شوی د عظمت خاوند دئ.

د الله تعالی له لوري لېږل شوو فرشتو ابراهیم علیه السلام ته زېری

راوړ، فرشتې د ځلمیو یوه ټولګي ته ورته وې، سلام ئې پرې واچاوو، ده هم ورته سلام ووایو، ابراهیم علیه السلام د مېلمنو ګمان پرې وکړ، له څه ځنډه پرته ئې وریت شوی سخوندر ورته راوړ، خو چې د دوی لاسونو ته ئې پام شو چې نه ورخوځي؛ ناآشنا ئې وګڼل او ترې ووېرېدو، ګمان ئې وکړ چې ښايي دا ځلمیان به په ښه نیت نه وي راغلي چې زما د ډوډۍ له خوړلو ډډه کوي، قرآن په دې سره موږ ته وايي چې د ابراهیم علیه السلام په څېر ستر شخصیت؛ له هغه لوړ معنوي مقام سره په غیب له پوهېدا دومره عاجز وو چې کور ته ئې راغلې فرشتې ونه پېژندې، د ځلمیو ګمان ئې پرې وکړ، وریت شوی سخوندر ئې ورته راوړ، ترې ووېرېدو او ګمان ئې وکړ چې ښايي د دښمنۍ په نیت راغلي؛ او دا همغه مطلب دئ چې تر دې د مخه د دې سورې په ۳۱ آیت کې د نوح علیه السلام په اړه او په ٤۹ آیت کې د پیغمبر علیه السلام په اړه راغلی، چې په غیب نه پوهېدل.

د ابراهیم علیه السلام مېرمن هملته ولاړه وه، دا هر څه ئې لیدل او د دوی ترمنځ خبري ئې اورېدې، دا هم په لومړي سر کې پرېشانه وه، خو هغه مهال ئې تشویش رفع شو چې د فرشتو ځواب ئې واورېدو. کله چې فرشتو د الله تعالی له لوري د اسحاق او تر اسحاق وروسته د یعقوب زېری ورکړ؛ وئې ویل: وای وای؛ آیا په داسي حال کې به زوی زېږوم چې په خپله بوډۍ او خاوند مي بوډا دئ! دا خو عجیبه خبره ده؟! فرشتو وویل: آیا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې د کور مېرمنې! بې شکه چې هغه ستایل شوی د عظمت خاوند دئ.

له دې آیتونو په څرګنده توګه معلومېږي چې له اهل البیت فقط مېرمني مراد دي نه د کورنۍ نور غړي.

که څوك د مخکیني اصل خلاف پر مېرمنو سربېره نور اولاد هم په اهل بیت کې په زور شاملوي؛ نو موږ ته دي ووايي: نن به د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اهل بیت او عترت کې چا ته مراجعه کوو؛ آیا

داسي ځوك شته چي د نړۍ ټول مسلمانان هغه ته د پیغمبر علیه السلام د کورنۍ د ځای ناستي په توګه مراجعه وکړي؟ اهل تشیع چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کورنۍ د هغي برخي په اړه چي د علي او فاطمې رضي الله عنهما نارینه اولاد دي؛ همدا عقیده لري؛ هغوی هم مجبور شوي د دوی اولاد په دولسم نسل کي په داسي چا پای ته ورسوي چي اوس له سترګو غائب دئ؛ د امام زمان په نامه ئې یادوي؛ یعني هغوی هم نن د علي رضي الله عنه په ژوندیو اولادونو کي داسي مرجع نه مومي؛ نو څه به کوو؟

آیا عقل او ایمان دا خبره مني چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به خپل اهل بیت؛ هغه هم تر قیامت پوري؛ د الله تعالی له کتاب سره برابر او یو شان ګڼلي وي؟!!

په دغو ضعیفو روایاتو کي کله دا الفاظ راغلي: ترکت فیکم الثَّقَلَیْنِ، کله تَرَکْتُ فِیکُمُ الْخَلِیفَتَیْنِ، کله ترکت فیکم الْخَلِیفَتَیْنِ کَامِلَتَیْنِ، کله امرین؛ او کله شیئین؛ دا هم ښیي چي په دې روایاتو کي کافي اضطرابات شته. ځوك شته چي ووایي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپلي وینا اصلي الفاظ کوم دي؟ الثَّقَلَیْنِ، الْخَلِیفَتَیْنِ، الْخَلِیفَتَیْنِ کَامِلَتَیْنِ، اَمْرَین، شَیْئَین؟

د دغو دلائلو له مخي په بشپړ یقین سره ویلی شو چي په دغو متعارضو روایاتو کي صحیح ئې د حجة الوداع روایت دئ؛ او هغه چي د سنت یادونه په کي شوې؛ د همدې روایت برخه او شرح ده؛ او نور روایات ئې قطعاً د منلو نه دي. طبیعي ده چي د یوې موضوع اړوند متعارضو روایاتو له منځه یوازي یو انتخابولی شو.

مخکي مو وویل چي د روایاتو د صحت د تشخیص لپاره پر نورو شرائطو سربېره دا هم یو مهم شرط دئ چي په هغه کي د عقل او درایت خلاف څه نه وي؛ د ضعیفو روایاتو ځو مثالونه مو بیان کړل؛ یو ئې انس بن مالك رضي الله عنه ته منسوب روایت وو؛ دا باید په پام کي ولرو چي ستونزه له هغو راویانو راولاړه شوې چي په څلورم پنځم نسل کي

دا روايات ترې نقل شوي؛ انس رضي الله عنه جليل القدر صحابي دئ؛ په يوه روايت اته کلن او بل کې لس کلن وو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم مدينې ته راغی؛ مور ئې وغوښتل چې دی د پيغمبر عليه السلام په خدمت کې وي؛ اتلس کلن يا شل کلن وو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم رحلت وکړ؛ يعني نژدې اوه يا پنځه کلونه ئې تر ځوانۍ وړاندي او درې يا پنځه ئې په ځوانۍ کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم خوا ته تېر کړي؛ محققين ئې هغه روايات معتبر ګڼي چې تر ځوانۍ وروسته ئې روايت کړي.

دا هم د درايت غوښتنه ده چې وګورو راوي ته د بلوغ او رشد مرحلې روايت منسوب شوی که د ماشومتوب د وخت.

راشئ له دغو ضعيفو رواياتو دې روايت ته هم ځير شو:

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنِّي كُنْتُ قَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ لَمْ تَضِلُّوا بَعْدِى الثَّقَلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ: كِتَابُ اللَّهِ حَبْلٌ مَمْدُودٌ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ، وَعِتْرَتِي أَهْلُ بَيْتِي، وَإِنَّهُمَا لَنْ يَفْتَرِقَا حَتَّى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ " إسناده ضعيف

دا روايت چې حسين سليم اسد ضعيف ګڼلی؛ وايي:

له ابو سعيد خدري روايت دئ چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم مي واورېدل چې ويل ئې: اې خلکو! يقيناً چې په تاسو کې مې داسي څه پرېښودل چې که ئې کلك ونيسئ؛ له ما وروسته به هيڅکله بې لارې نشئ: هغه دوه درانده چې يو ئې تر بل ستر دئ: د الله کتاب چې له آسمان زمکې ته اوږده شوې رسۍ ده؛ او بل ئې زما ټبر يعني اهل بيت؛ او دا دواړه هيڅکله نه سره بېلېږي؛ تر هغه چې ما ته به د حوض کوثر خوا ته راشي.

دا روايت نه یوازي ضعیف دئ بلکي په اړه ئې څو جدي ملاحظات او پوښتني شته:
د قرآن له وينا او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له صحيح حديث سره تعارض لري.
په قرآن کي هيڅ شاهد نه لري.
آيا کېدی شي رسول الله صلی الله علیه و سلم به خپل اهل بيت د الله تعالی له کتاب سره داسي برابر گڼلی وی چي معلومه نه ده کوم يو ئې پر بل ستر او لوړ دئ؛ قرآن که د ده اهل بيت؟!!
ممکنه نه ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به ويلي وي: دوی دواړه (د الله کتاب او د رسول الله ټول ټبر) به تر هغه هیڅکله نه سره بېلېږي چي ده ته د حوض کوثر خوا ته ورشي؟
آيا د ده په ټولي کورنۍ کي به يو داسي کس پيدا نشي چي د الله له کتاب سره ئې مخالفت کړی وي؟ که داسي وی نو د آدم علیه السلام او نورو پيغمبرانو په اولاد کي به هم يو کافر نه پيدا کېدو؛ او په ټولي نړۍ کي به يو مرتد او کافر سيد نه وو ليدل شوی.
قرآن رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فرمايي:
إِنَّكَ لا تَهْدِى مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَـٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِى مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾ القصص
يقيناً چي ته هغه څوك نشې هدايتولی چي خوښ دي دئ؛ خو الله چي هر څوك وغواړي هدايتوي ئې؛ او هغه هدايتېدونكي ډېر ښه پېژني.
پيغمبر علیه السلام ته ويل شوي چي دا ستا په واك كي نه ده چي څوك له هدايت برخمن كړې او د ايمان راوړو سعادت ئې په برخه كړې، ستا دنده ايمان او سمي لاري ته د دوی بلنه ده، دا پرېكړه د الله تعالی له لوري كېږي چي چا ته په سمي لاري د تلو توفيق وركوي او څوك ترې محروموي.
په دې اړه د الله تعالی پرېكړه د هغه جامع او كامل علم له مخي

کېږي چې د هدایت کېدونکي په اړه ئې لري. ته نه پوهېږې چې څوك د دې سعادت وړ دئ او څوك ترې محروم، الله تعالی د هغه چا په وړاندي د هدایت دروازه پرانیزي او په سمي لار د تلو توفیق ورکوي چي وړتیا ئې لري، تا ته نه د دوی وړتیا معلومه ده او نه د زړه کیفیت او نه دا چي دوی په سمي لار د تلو مجال او اراده لري که نه. رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېره هڅه وکړه چي د ده تره ابو طالب ایمان راوړي؛ خو نه یوازي دا هڅه بې نتیجې پاته شوه؛ بلکي الله تعالی ورته وفرمایل: له پیغمبر او مؤمنانو سره نه ښایي چي مشرکینو ته د مغفرت دعاء وکړي.

دا مبارك آیت د هغو لارورکو خرافي عقیده ردوي چي وایي: پیغمبر علیه السلام د الله تعالی د پېرزوینو وېشونکی او مُقَسِّم دئ، د الله تعالی د عنایاتو له خزانو هر چا ته هر څه ورکولی شي، پیر او مرشد کولی شي له لري واټنه؛ حتیّٰ له خپل قبر؛ مریدانو ته روحاني فیوضات ورسوي!! که پیغمبر علیه السلام نشي کولی خپل غیرتي او د ده ستر حامي او مدافع تره ابوطالب ته د ایمان راوړو سعادت ورپه برخه کړي او په روحاني فیض سره د هدایت دروازه د هغه پر مخ پرانیزي؛ بل څوك به څنګه دا کار وکولی شي؟!! آیا د عظیم الشأن قرآن دغه مبارك آیت کافي نه دئ چي داسي خرافي عقائد په دېوال ووهو او په دې باور وو چي الله تعالی هیڅوك د خپلو عنایاتو او پېرزوینو د خزانو واکمن نه دئ ټاکلی او د دې خزانو کلیاني ئې هیچا ته نه دي سپارلې، په خپله او د خپل بنده وړتیاوو ته په پام سره پرېکړه کوي چي چا ته څومره ورکړي او څوك ترې محروم کړي.

الله تعالی زموږ د لاربښووني انتظام همداسي کړی لکه چي زموږ تر پیدایښت وړاندي ئې زموږ د رزق او روزي انتظام کړی؛ زمکه او آسمان ئې داسي پیدا کړي چي زموږ ټولو اړتیاوو ته ځواب ووایي؛ په زمکي کي ئې هر هغه څه پیدا کړي چي موږ ورته ضرورت لرو؛ زموږ جوړښت ئې داسي برابر کړی چي په دې کور کي چي آسمان ئې چت او زمکه ئې فرش

ده؛ ژوند وكولی شو؛ د دې كور نور، حرارت، فشار، جاذبه، هواء، اوبه، مېوې، دانې؛ او هر څه ئې داسي دي چي زموږ له جوړښت او اړتياوو سره متناسب دي. موږ ته ئې عقل، پنځګوني حواس: سترګي، غوږونه، شامه، ذائقه او لامسه راپه برخه كړي، په مرسته ئې ښه او بد؛ مفيد او مضر- سم او ناسم تشخيصولی شو؛ مزيد ئې له موږ سره احسان كړی او د زمانې په هر پړاو كې ئې زموږ د لارښوونې لپاره لارښود جامع كتاب رالېږلی؛ د داسي پيغمبر په لاس چي د خپل وخت د ټولو انسانانو له منځ ئې تر ټولو غوره او امين شخصيت غوره كړی؛ هغه ته ئې هم خپل لارښود كتاب وركړی او هم د دې كتاب په لارښوونو د ښه پوهېدو او د ښه بيانولو استعداد او ظرفيت وركړی؛ او دا وړتيا ئې ورپه برخه كړې چي د الهي لارښوونو د عملي كولو لپاره كوم اسلوب او طريقه وكاروي. او موږ ته ئې ويلي: كه غواړئ په سمه لار ولاړ شئ او د خپل سالم انساني فطرت مطابق ژوند وكړئ نو دې هدف ته په هغه صورت كې رسېدی شئ چي د الله تعالی د لارښود كتاب اطاعت وكړئ او د هغه د پيغمبر متابعت.

موږ ته له خپل پيغمبر عليه السلام دوه شيان پاته دي: قرآن او د رسول الله صلی الله عليه و سلم قولي او فعلي سنت. قرآن د ټولو صحابه وو په اجماع او په تواتر سره تر موږ رسېدلی؛ ټول اسلامي امت پر يوه قرآن؛ له هيڅ توپير پرته باور لري؛ حتیٰ د يوه لفظ په زېر او زبر كې هم د دوی تر منځ اختلاف نشته. اما د رسول الله صلی الله عليه و سلم د قول او فعل په اړه؛ د رواياتو كتابونه سلګونو ته رسېږي؛ هر يوه په زرګونو روايات راغونډ كړي؛ لسګونه زره روايات ئې چڼلي او له منځ ئې په ډېر احتياط او دقت سره هغه غوره كړي چي د ده له نظره صحيح ګڼل شوي؛ هم ئې إسناد او راويان ورته د اعتبار وړ او ثقه معلوم شوي او هم ئې متن صحيح، روغ او د منلو وړ.

دا اوس زما په دې كمپيوټر كې د احاديثو ٤٣٦ كتابونه شته؛ چي ځيني كتابونه ئې تر دېرشو جلدونو هم زيات دي؛ څه موده وړاندي له

ما سره د حديث ۲۹۰ كتابونه وو او نن ٤٣٦؛ په داسي حال كي چي اسلامي امت د احاديثو فقط يوه كتاب ته ضرورت لري او هغه هم دومره كتاب لكه زموږ واحد مؤمن به قرآن؛ دا ځكه چي حديث د قرآن شرح او تفسير دئ؛ او د قرآن ډېري برخي داسي دي چي شرح او تفسير ته هم ضرورت نه لري.

كه نن ټول اسلامي امت د رواياتو يو متفق عليه كتاب درلودی؛ نو نه به په امت كي مذهبي اختلافات ول او نه د دوی تر منځ لانجې او د اختلافي مسائلو پر سر جگړي. يقيناً چي امت د رواياتو د توحيد او چڼلو لپاره داسي كار ته ضرورت لري لكه چي د عثمان رضي الله عنه د خلافت په وخت كي د مصحف د بېلو بېلو نسخو د توحيد په ارتباط وشو او ټولو صحابه وو پر يوه مصحف توافق وكړ؛ همدا ئې تكثير كړ، د نړۍ گوټ گوټ ته ئې ولېږلو او نوري نسخې ئې له منځه يووړې او په دې ستر كار سره ئې د مصحف په ارتباط د هر راز اختلاف ټول اسباب له منځه يووړل.

دا كار به ځينو ته ډېر گران او حتیٰ محال برېښي؛ چي څنگه كولی شو د حديث له سلگونو كتابونو يو كتاب جوړ كړو؛ خو حقيقت دا دئ چي كه موږ اسلامي حكومت ولرو او زعيم مو وغواړي د عثمان رضي الله عنه په څېر شي او د امت د يووالي لپاره ملا وتړي؛ نو دا كار دومره آسان دئ لكه د مصاحفو توحيد. رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپل دري شپېته كلن مبارك عمر؛ څلوېښت كلونه تر بعثت وړاندي مكه كي تېر كړل؛ كعبه له بتانو ډكه وه؛ ولس په خرافاتو كي غرق وو؛ ټول عرب د قريشو په شمول په ډلو ډلو وېشل شوي وو او تر منځ ئې خونړۍ جگړي رواني وې؛ مشران ئې ابو جهلان ول؛ څلوېښت كلونه ئې په همدغسي ماحول كي تېر كړل؛ پرته له دې چي په ټولني كي د كوم ژور بدلون شاهد شي؛ خو كله چي په پيغمبرۍ مبعوث شو او د الله تعالی لارښود كتاب پرې نازل شو؛ نو په پاته درويشتو كلونو كي ئې؛ د همدې قرآن په رڼا كي؛ نه يوازي ټول حجاز متحد كړ او د اختلافاتو ټغر ئې ټول

کړ؛ بلکې د داسې ستر امت بنسټ ئې کېښېښود چې نن ئې شمېر نژدې دوه ملیارد ته رسېدلی. یعني چې په قرآن کې دا ستره او عظیمه وړتیا شته چې متفرق قومونه او په جهل او خرافاتو کې غرق ولسونه متحد کړي او ستر سرلوړی امت ترې جوړ کړي. نن د اسلامي امت دردناك حالت داسې دئ چې سیاسي مشران ئې مفسد، عیاش، له دین بې خبر، حتی د دین دښمنان او د پردیو غلامان دي او مذهبي مشران ئې په اختلافاتو اخته؛ قرآن ته ئې شا کړې او د دې پر ځای چې د خپل پیغمبر سنت د مسلمانانو د یووالي او وحدت لپاره د مشعل په توګه ونیسي؛ له جعلي او ضعیفو روایاتو خپل ناجائز او له اغراضو راټوکېدلي اختلافاتو ته ترې وسیله جوړوي؛ پیغمبر علیه السلام هم داسې فرمایلي چې که په هر ملت او قوم کې ستونزې دي نو یا له حکامو راولاړې شوې او یا هم د هغوی له دیني او مذهبي مشرانو؛ او واقعیت همدا دئ، زموږ د بدې او تورې ورځې او شپې لوی عامل همدا وو.

موږ د قرآن په څېر څرګند او واضح الهي کتاب په واك کې لرو؛ د قرآن په رڼا کې په آسانۍ سره کولی شو روایات وڅېړو او صحیح ئې له ناصحیح تفکیك کړو؛ د احادیثو اصلي مرجع او منشأ قرآن دئ؛ احادیث د قرآن شرح او تفسیر زموږ مخې ته ږدي. خو که دین د داسې چا په لاس کې وي چې له هغه ئې ځان ته دکان جوړ کړی؛ خپل رزق د مؤمنانو تر منځ په اختلاف کې لټوي؛ نو وضعیت به مو همداسې وي لکه نن چې ورسره مخامخ یو.

الله تعالی موږ ته لارښوونه کړې چې ستاسو رب یو دئ، دین مو یو دئ، قبله مو یوه ده، پلار او نیکه مو یو دئ، تاسو یو امت یئ، له اختلاف ډډه وکړئ، په هر څه کې چې له اختلاف سره مخامخ شئ نو د الله تعالی کتاب ته ئې راجع کړئ؛ که د الله پر کتاب تمسك وکړئ نو له تفرق او اختلاف ژغورل کېږئ؛ لکه چې فرمایي:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ

كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾ آل عمران

او ټول د الله په رسۍ منګولي ولګوئ او مه متفرق كېږئ؛ او پر تاسو د الله هغه نعمت درياد كړئ چي په خپلو كي سره دښمنان وئ، خو الله ستاسو په زړونو كي الفت واچاوو او د ده په نعمت سره په خپلو كي ورونه ورونه شوئ او تاسو د اور د يوې كندي په ژۍ وئ نو له هغې ئې وژغورلئ؛ همدا راز الله تاسو ته خپل آيتونه بيانوي چي هدايت شئ.

د دې ښه مصداق د اوس او خزرج قبيلې دي تر ايمان راوړلو وړاندي د دوی تر منځ خونړۍ او زړې جګړي او دښمنۍ وې، يهودانو جنګول، وسلې هم يهودانو وركولې، له يهودانو به ئې وسلې په پور اخيستلې او پور هم له سود سره مل؛ د وسلو ماركيټ د يهودانو په لاس كي وو، دواړه قبيلې ئې سره جنګولې؛ خونړۍ جګړي د دوی ترمنځ رواني وې. مدينې ته د رسول الله عليه السلام له راتلو وروسته دا دواړه قبيلې سره ورونه ورونه شول، له دوی يو أمت او ټولی جوړ شو؛ دوی د ټول عالَم لپاره قدوه او اسوه شول او كلی ئې د يوې لويې امپراتورۍ دارالخلافه شو؛ د داسي ستر امت لپاره په محور بدل شول چي له زرګونو قومونو او له ډېرو اوسنيو هېوادونو جوړ شوی وو؛ په غرب كي تر هسپانيا او المغرب پوري، په شمال كي تر يوګوسلاويا پوري، په شرق كي تر اندونيزيا او د چين تر تركستان پوري ئې پولي رسېدلې؛ دا لوی او ستر امت د مدينې او مدينه والو پر محور څرخېدو او قيادت او زعامت ئې د همدغه قوم په لاس كي وو چي تر اسلام وړاندي؛ يهودو په خپلو منځو كي جنګول، د دې قرآن په طُفيل او بركت؛ له هغوی دغسي ستر او عظيم امت جوړ شو. الله تعالی همدا د دوی مخي ته بِردي چي د اور د كندي ژۍ كي ولاړ وئ؛ بس لږ پاته وو چي په كي وسوزېږئ، خو د الله تعالی د دې كتاب (قرآن) په بركت وژغورلئ، متحد شوئ او په خپلو منځونو

کي ورونه ورونه شوئ.

په همدې سورې کي دوی ته مزيد ويل شوي:

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٥﴾ آل عمران

او د هغو په څېر مه کېږئ چي په خپلو کي له هغه وروسته بېل بېل شول او اختلاف ئې وکړ چي څرګندي نښي ورته راغلې؛ او د همدغو لپاره ستر عذاب دئ.

په داسي حال کي چي د يوه روايت د صحت لپاره لومړی او اساسي شرط دا دئ چي د متن او محتوی لپاره ئې په قرآن کي شاهد ومومو؛ يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري؛ د روايت إسناد او د راويانو اعتبار او ثقه والی په دوهم قدم کي د صحت لپاره ضروري ګڼل کېږي؛ دا هم په هغه صورت کي چي راوي ئې دومره شاهدان هم ولري چي قرآن ئې د يو چا د ادعاء د ثبوت لپاره ضروري ګڼي؛ قرآن د عادي قضاياوو د اثبات لپاره کله دوه، کله درې او کله څلور شاهدان ضروري بولي؛ له دې پرته د چا ادعاء د اعتبار وړ نه ګڼي؛ طبيعي ده چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه کومه ادعاء او هغه ته د يوې رأيې انتساب؛ تر بلي هري انساني قضيې زيات اهميت لري؛ نو د شاهدانو شمېر او د دوی وزن او اعتبار هم بايد په همدې تناسب زيات وي.

څو کاله وړاندي مي د شهادت په درنې ورځپاڼي کي د يوه ليکونکي هغه ليکنه ولوسته چي د تنوير په درنې مجلې کي؛ د هغي خپرې شوې ليکني په اړه ئې ځيني ملاحظات وړاندي کړي وو؛ چي د بحث محوري موضوع همدا مطلب وو؛ د قرآن په رڼا کي د اختلافاتو حل؛ ما غوښتل دغسي ملاحظات او د هغوی ځوابونه د هغو خلکو په وړاندي کښېښودی شي چي د حق په لټه کي دي، غواړي د دين په حقيقت، د قرآن په صحيح تفسير او د نبوي احاديثو په سم او حقيقي معنی او تعبير پوه شي او هغه خلك وپېژني چي د نبوي احاديثو په اړه په کړه

لار درومي او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته نامناسبي او د دين او عقل خلاف ويناوي او كړني منسوبوي. ښه شو چي دې ښاغلي دا بحث د شهادت ورځپاڼي ته راويست، د ده په ځواب كي مي څو عرائض درلودل:

د ده لومړی ملاحظه پر دې خبري وه چي ويل شوي: حديث به هغه وخت قبلېږي چي كله د قرآن كريم سره ټكر نه وي!! ورپسې خپل تعليق په دې توګه وړاندي كوي: دا خبره په عام ډول هغه خلك كوي څوك چي له احاديثو منكر دي... ورپسې ليكي: دوی استدلال په دې روايت كوي:

«مَا أَتَاكُمْ عَنِّي فَاعْرِضُوهُ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ فَإِنْ وَافَقَ كِتَابَ اللَّهِ فَأَنَا قُلْتُهُ وَإِنْ خَالَفَ كِتَابَ اللَّهِ فَلَمْ أَقُلْهُ أَنَا، وَكَيْفَ أُخَالِفُ كِتَابَ اللَّهِ، وَبِهِ هَدَانِي اللَّهُ».

څه چي زما له لوري (چا) درورسول؛ نو د الله كتاب ته ئې وړاندي كړئ؛ كه ئې ورسره موافقت درلود نو ما به ويلي وي؛ او كه د الله د كتاب خلاف وه؛ نو ما نه دي ويلي؛ او زه به څنګه د الله د كتاب مخالفت كوم په داسي حال كي چي زه ئې په همدې كتاب سره هدايت كړی يم.

دې ښاغلي هم روايت په ناسمه توګه رانقل كړی وو او هم ئې ژباړه ناسمه؛ او ورپسې ئې د روايت په رد كي د داسي خلكو اقوال رااخيستي چي ويلي ئې دي: دا روايت زنادقه وو له ځانه جوړ كړی!! په داسي حال كي چي ګمان نه كوو هيڅ په دين پوه او له خدای وېرېدونكی انسان به د داسي فتوی وركولو جسارت وكړي، په دې روايت كي هيڅ داسي خبره نشته چي ويوونكی ئې زنديق وګڼل شي!! له تاسو پوښتنه كوم: آيا په دې روايت كي ورانه او غلطه خبره شته؟ هر مؤمن انسان به دا خبره كوي چي قرآن وروستی ملاك او معيار دئ، هغه وينا به مني چي له قرآن سره موافق وي او هغه وينا به ردوي چي له قرآن سره مخالفه وي، قرآن په خپله موږ ته ويلي: په څه كي چي اختلاف وكړئ نو حكم او

پرېكړه ئې الله ته (د الله كتاب ته) ستنبږي؛ ليكونكى په خپله څو سطره وروسته همدغه خبره كوي چې په دې روايت كې راغلې او دلته ئې د هغه راوي ته د زنديق خطاب كړى!! زنديق هغه دئ چې د قرآن خلاف خبره مني او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د قرآن خلاف خبري منسوبوي. دا د تكفيري ډلو كار دئ چې د خپل غلط مسلك هر مخالف په ضد د تكفير فتوى گاني صادروي، دوى هم په خپلو فتوى گانو سره خلك تكفيروي او هم له دين، قرآن او حديث په خپلو غلطو تعبيرونو او تفسيرونو سره خلك له اسلام متنفر كوي. دوى ته په ځواب كې وايو:

تا د ليكني مطلب په امانت سره نه دئ نقل كړى، د سالم او صحيح نقد تقاضا دا وي چې تر نقد لاندي مطلب په احتياط او امانت سره نقل شي، دا روايت تا له خپله ځانه راوړى، په ليكني كې په دې روايت استناد نه دئ شوى. په ليكني كې راغلي چې د متن له پلوه هغه حديث صحيح گڼل كېدى شي چې:

په قرآن كې د هغه لپاره كوم شاهد وي، د قرآن له كوم آيت سره په واضح توگه توافق ولري، يا لږ تر لږه د كوم آيت له الفاظو اشارتاً داسي معلومه شي چې د روايت متن ورسره اړخ لگوي.

له قرآن سره تعارض ونه لري. دا د كبار صحابه او د ابو حنيفه رحمه الله په شمول د ټولو فقهاءو مسلك دئ چې حديث قرآن ته راجع كوي او په هغه صورت كې ئې د استناد وړ گڼي چې په قرآن كې د هغه لپاره شاهد ومومي او يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري.

دا د جليل القدر امام ابو حنيفه په شمول د ټولو فقهاءو رأيه ده چې روايت يوازي هغه مهال د اعتبار وړ گڼلى شو چې له قرآن سره تعارض ونه لري، له دې خبري سره يوازي هغه غرضي او مرضي خلك مخالفت كوي چې له قرآن منكر وي، د الله تعالى كلام وروستى معيار او ملاك نه گڼي، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي څه منسوبوي چې د قرآن خلاف وي، غواړي خپله خبره د حديث په نامه پر خلكو ومني!! دې ته نه گوري چې محدثينو د امام بخاري په شمول روايات د

قرآن په رڼا کې چڼلي او په زرگونو هغه روايات ئې لري غورځولي چي له قرآن سره ئې تعارض درلود. امام بخاري له شپږو لکو رواياتو دوه زره دوه سوه غوره کړل او نژدې پنځه لکه اته نوي زره ئې ونه منل او په خپل کتاب کې ئې د هغوی له راوړلو ډډه وکړه. آيا دا له حديث د انکار په معنی ده که رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د غلطي وينا له انتساب ځان لري ساتل؟!! آيا ته امام بخاري هم د حديثو منکر گڼې؟

د امام ابو حنيفه رحمه الله د مُسْنَد په شرحي کې ملا علي القاري د امام ابو حنيفه په اړه ليکي: د امام ابو حنيفه له اصولو يو دا وو چي أخبار الآحاد (هغه روايات چي يو يا لږ راويان لري) د الله تعالی د کتاب عامي او څرگندي وينا ته راجع کوي که دا روايت د قرآن له عمومي او څرگندي لارښووني سره مخالفت ولري نو پر کتاب استناد کوي او دا روايت پرېږدي، په دې توگه هغه پر قوي دليل استناد کوي، دا ځکه چي د قرآن حقانيت ثابت دئ او عموميات او ظواهر ئې د ده له نظره پرېکنده دليل دئ.

ومن أصوله: عرض أخبار الآحاد على عمومات الكتاب وظواهره فإذا خالف الخبر عاما أو ظاهرا في الكتاب أخذ بالكتاب وترك الخبر، عملا بأقوى الدليلين، لأن الكتاب قطعي الثبوت وظواهره وعموماته قطعية الدلالة عنده.

سند له هغه وروسته د اعتناء او اعتبار وړ گڼلی شو چي د روايت متن له قرآن سره تعارض ونه لري. که ئې له قرآن سره تعارض نه درلود، له نورو صحيح رواياتو سره متعارض نه وو، د عقل او عدل خلاف خبره په کې نه وه، نو که ئې په سند کې څه ضعف هم وي راوړل ئې هيڅ اشکال نه لري، مگر محدثينو په خپلو کتابونو کې گڼ شمېر ضعيف احاديث نه دي راوړي؟!! دغه روايت چي تا د ځينو په وينا ضعيف گڼلی د متن له پلوه نه يوازي صحيح دئ بلکي بايد هر مسلمان ئې د لارښود په توگه ومني، هغه به کوم مسلمان وي او څنگه به مسلمان وي چي د قرآن خلاف خبره مني او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې

منسوبوي؟!! قرآن مؤمنانو ته لارښوونه کوي چي د هري اختلافي قضيې په اړه پرېکړه به الله تعالی او د هغه کتاب ته راجع کوئ.
دا ډېره کمزورې خبره ده چي که حدیث له قرآن سره د موافقت په شرط منلی شو نو بیا خو حدیث ته څه ضرورت دئ؟!! دا خبره هیڅ هوښیار انسان نه کوي، امکان نه لري چي صحیح حدیث دي له قرآن سره مخالفت ولري؛ حدیث د قرآن شرح او تفصیل دئ، د قرآن شرح او تفصیل به حتماً له قرآن سره بشپړ مطابقت لري؛ او موږ دې شرحي ته همدومره ضرورت لرو لکه د پیغمبر بعثت ته، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هم قرآن ورکړی شوی او هم د قرآن فهم، رسول الله صلی الله علیه و سلم هم قرآن موږ ته رارسولی، هم ئې په خپل عملي ژوند کې موږ ته عملاً انځور کړی، د هغه ژوند او د ژوند ټول اړخونه د قرآن عملي تجسم وو؛ په خپل ژوند سره ئې د قرآن شرح او تفصیل موږ ته راښودلی. د ایمان تقاضا دا ده چي له قرآن سره موافقه خبره ومنو، مخالفه رد کړو، که مخالفه نه وي؛ سند، شواهدو او متن ته ئې له پام وروسته د هغې د منلو او نه منلو پرېکړه وکړو. جناب لیکوال لیکي چي: دا صورت موږ هم منو چي حدیث هله دلیل دئ چي د قرآن کریم مخالف به نه وي!! پوښتنه کوم: که دا خبره منې نو بیا ستا اعتراض په څه دئ؟ ولي دي د هغه روایت راوي ته د زندیق خطاب وکړ؟ هغه خو همدا خبره کوي، ته ولي دا روایت زنادقه وو ته منسوبوې؟ موږ خو همدغه خبره کړې او تل به ئې کوو چي روایت په هغه صورت کې د منلو دئ چي له قرآن سره تعارض ونه لري!! ائمه وو همدا خبره کړې، علماءو او فقهاءو همدا خبره کړې او هر مؤمن ئې باید وکړي؛ نه پوهېږو تا ته هسي اختلاف خوند درکوي که څنګه؟ ته له دې خبري سره توافق کوې خو دا پرې زیاتوې چي: خو دا مخالفت معلومول د هر چا کار نه دئ!! علماء کرامو ته چي د آیت او حدیث تر منځ تعارض په نظر ورغلی دوی د دې تعارض لپاره د تطبیق یا نسخي لار اختیاروي، داسي نه وایي چي دا حدیث نه منو... بیا لیکي: په احادیثو کې د تضاد او تعارض په اړه

ادعاء یوه بې بنسټه او بې دلیله ادعاء ده!!! عجیبه ده!! څو سطره وړاندې لیکي علماء کرامو ته چي د آیت او حدیث تر منځ تعارض په نظر ورغلی دوی د دې تعارض د تطبیق یا نسخي لار اختیاروي!! خو دلته د تعارض له شتون په بشپړه توګه انکار کوي او دا بې بنسټه ادعاء ګڼي!! دا خبره یوازې هغه څوك کولی شي چي نه ئې د احادیثو کتابونه لوستلي وي او نه ئې د احادیثو د شرحي کتابونه، په دې خبر نه وي چي د احادیثو د شرحي کتابونه د دې لپاره لیکل شوي چي دغو تعارضونو ته توجیه پیدا کړي او هغو پوښتنو ته ځواب ووایي چي په دې اړه راولاړېږي، ځینو ته ئې توجیه وړاندي کړې، د ځینو په پای کي ئې خپل عجز څرګند کړی او ویلي ئې دي والله اعلم او په ځینو مواردو کي ئې اعتراف کړی چي توجیه مي ونه موندله؛ او ډېر ئې بې اعتبار، ضعیف او موضوعي ګڼلي؛ زه حاضر یم د بخاري دومره متعارض روایات ستا مخي ته کښېږدم چي یو کتاب ترې جوړېږي، داسي متعارض روایات چي هیڅ شارح ئې په توجیه او تلفیق نه دئ توانېدلی، د عمدة القاري معروف او منلي مؤلف علامه عیني د بخاري په لسګونو هغه روایات په ګوته کړي چي په خپلو کي تعارض لري. راشه چي دلته ئې څو بېلګي ستا مخي ته کښېږدم، په دې طمع چي د حقیقت په موندلو کي ستا مرسته وکړي، د پېښور له نمك منډيي د ریاض تر مسجد کبیر پوري ولاړ شه او د دغو متعارضو او متضادو روایاتو توجیه او تلفیق راوړه، هغه کتاب په ګوته کړه چي د دغو متعارضو او متضادو روایاتو په توجیه او تلفیق توانېدلی!!

امام بخاري رحمه الله د معراج په اړه داسي روایات هم صحیح ګڼي چي وایي: د معراج سفر له پیل تر پای یو خوب وو؛ په خوب کي پیل شوی او په خوب کي پای ته رسېدلی او په مقابل کي ئې هغه روایات هم صحیح ګڼلي چي دا سفر ئې د ویښي سفر او جسمي ګڼلي!! هغه روایات ئې هم راوړي چي د مړو سماع ردوی او د قرآن د څرګندو آیتونو خلاف ئې بولي او هغه هم چي وایي: مړي د خپلوانو د کپیو څپا هم اوري!!

په بخاري کې دا روایات هم مومو چې وايي: موسی علیه السلام ته ژوندی او په سیند کې روان کب د نښي په توگه ټاکل شوی وو او دا روایات هم چې په ټوکري کې مړ او وریت ماهي ئې نښه وو!!

امام بخاري د ابو طالب او ابن ابي په اړه دوه متعارض روایات راوړي، دواړه ئې هم له قرآن سره تعارض لري او هم د بخاري له نورو روایاتو سره، نه ئې له قرآن سره تلفیق ممکن دئ او نه په خپلو منځونو کې، یو ئې وايي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د ابو طالب د مړیني او ساه ختو په وخت کې د هغه لیدو ته ورغی او د شهادت د کلمې ویلو بلنه ئې ورکړه، هغه ونه منله، ده ورسره وعده وکړه چې تر هغه به د مغفرت غوښتنه درته کوم چې الله تعالی مي ترې منع کړي؛ او په همدې اړه دا آیت نازل شو:

إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ...

بل ئې وايي دا آیت نازل شو:

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ...

ته به ښايي پوهېږې چې یو ئې د القصص د سورې ۵٦ آیت دئ او بل ئې د التوبه د سورې ۱۱۳، ته ما ته ووایه چې کوم روایت صحیح دئ؟ کوم آیت نازل شوی؟ بخاري دواړه صحیح گڼي!! خو ته ښايي په دې پوهېږې چې له دوو متعارضو او متضادو خبرو یوازې یوه ئې احتمالاً صحیح ختی شي نه دواړه، له دغو دواړو متعارضو روایاتو یوازې یو به ئې احتمالاً صحیح وي نه دواړه!! که قرآن ته رجوع وکړو نو له شك پرته راته جوتېږي چې د القصص د سورې آیت د ابو طالب له مرگ ډېر مخکې نازل شوی او د التوبې د سورې آیت د هغه له مرگ نژدې دولس کاله وروسته او د تبوك له جگړې وروسته او له تبوك د راستنېدو په مهال نازل شوی. که څوك ادعاء وکړي چې ښايي دا آیتونه به دوه ځلي نازل شوي وي دا ادعاء د منلو وړ نه ده، ځکه داسي روایت نشته چې وښیي دا آیتونه دي دوه ځلي نازل شوي. هیڅ عقلمن انسان به دا خبره ونه

کړي چې جبريل عليه السلام به د ابي ابن سلول او ابو طالب لپاره دوه ځلي له اوم آسمان زمکې ته راغلی وي او د دوی په اړه به ئې يو يو آيت له ځان سره راوړی وي!! زه به ستا ځواب ته انتظار کوم چې ووايې: په دغو دواړو رواياتو کې کوم يو صحيح دئ؟ همدا راز د ابن ابي په اړه درې سخت متعارض او متضاد روايات زموږ مخې ته راځي، دوه ئې په بخاري کې راغلي او درېيم ئې واقدي راوړی، يو ئې وايي: د ابن ابي زوی د خپل پلار د مړيني په ورځ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته راغی او ورته وئې ويل: خپل کميس دې راکړه چې خپل پلار ته کفن ترې جوړ کړم، رسول الله صلی الله عليه و سلم خپل کميس ورکړ او بيا ئې د هغه جنازه هم وکړه... بل ئې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ابن ابي له قبره راويست او خپل کميس ئې ورواغوست، بل ئې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم خپل کميس د ابن ابي له مړيني مخکې په خپله ابن ابي ته ورکړی وو!! ما ته ووايه: په دغو رواياتو کې کوم يو صحيح دئ؟ څوك توانېدی شي چې دا متعارض روايات تلفيق او توجيه کړي؟! په دغو رواياتو کې يو ئې وايي: عمر رضي الله عنه هغه مهال چې رسول الله صلی الله عليه و سلم غوښتل د ابن ابي د جنازې لمونځ پيل کړي وويل: آيا د يوه منافق د جنازې لمونځ کوې، حال دا چې الله تعالی ترې منع کړی يې؟! يعني دا چې د منافقينو د جنازې له لمانځه د اجتناب آيت تر دې د مخه نازل شوی وو!! خو بل ئې وايي چې د ابن ابي د جنازې له لمانځه وروسته دا آيت نازل شو!! ما ته ووايه: په دې دواړو کې کومه خبره صحيح ده؟ دا آيت هم د التوبې د سورې په هغې برخې کې راغلی چې د تبوك له جګړې وروسته نازله شوې، ما ته ووايه: ابن ابي د تبوك له جګړې مخکې مړ شوی که وروسته؟ که يوه خبره وکړې يو روايت دې رد کړی او که بله وکړې بل روايت دې رد کړی! که د شهادت ورځپاڼه ئې د نشرولو حوصله لري نو زه تيار يم په لسګونو لسګونو هغه روايات وروليږم چې يا له قرآن سره تعارض لري او يا په خپلو منځونو کې، داسې تعارض چې هيڅوك ئې په توجيه او تلفيق نشي توانېدی.

ځیني شاغلي وایي: که حدیث له قرآن سره د موافقت په شرط منلی شو نو بیا خو حدیث ته څه ضرورت دئ؟!! د دې خلکو منطق د تعجب وړ دئ؛ الله تعالی د دې لپاره خپل کتاب د یوه پیغمبر په لاس رالېږلی چې هم ئې موږ ته بیان او تشریح کړي او هم ئې عملي مصداق راوښیي؛ د پیغمبر قول او عمل په حقیقت کې د قرآن عیني تجسم دئ؛ همغسې چې قرآن فرمایي:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ الأحزاب

یقیناً چې تاسو ته د الله په استازي کې نېکه بېلګه او اسوه ده؛ هغه چا ته چې الله او د آخرت ورځې ته امید ساتي او الله زیات یادوي.

یعني پر الله تعالی او آخرت د ایمان او الله تعالی او آخرت ته د طمعې او هیلې درلودو څرنګوالی د رسول الله صلی الله علیه و سلم په سنت او کړنلارې کې پېژندی او زده کوی شو، یعني څوک چې غواړي الله تعالی ته د هیلې درلودو په څرنګوالي وپوهېږي او هغه عملونه وپېژني چې له کبله ئې انسان د الله د مرستې، رعایت او عنایت طمع او هیله کولی شي؛ څوک چې غواړي وپوهېږي آخرت ته هیله درلودل یعني څه؛ غواړي هغه عملونه وپېژني چې له امله ئې کولی شي د نېك آخرت طمع ولري او څوک چې غواړي د الله د زیات ذکر په څرنګوالي پوه شي نو دا ټول له پیغمبر علیه السلام زده کولی شي؛ په قرآن کې ئې په لیکلې بڼه موندلی شي او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په شخصیت او سنت کې ئې په مجسمه او عملي توګه لیدلی او ترې زده کولی شي.

د پیغمبر رسالت په همدې کې راخلاصه شوی؛ او د همدې لپاره رالېږل شوی؛ صحابه وو هغه مخامخ لیدلو؛ او په هر څه کې ئې په هغه پسې اقتداء کوله؛ اما موږ ته هغه توصیف شوی؛ د ده په اړه مو له نورو اورېدلي چې څه ئې ویلي او څه ئې کړي؛ موږ ته هم صحیح اقوال رارسېدلي او هم ناصحیح؛ محدثینو راته ویلي: رسول الله صلی الله علیه

و سلم ته تر صحيح اقوالو ناسم او غير ثقه اقوال زيات منسوب شوي؛ احتياط كوئ چي هره خبره ونه منئ؛ هغه شرائط ئې موږ ته راښودلي چي په مرسته ئې كولى شو سم او ناسم اقوال تفكيك كړو؛ يو له دغو شرائطو او تر ټولو وړاندي او مهم ئې دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوب وينا د قرآن په رڼا كي وڅېړو؛ قرآن موږ ته همدا لارښوونه كړې او رسول الله صلى الله عليه و سلم همدا راته ويلي. د قرآن له مخي صحيح له ضعيف پېژندى شو؛ صحيح حديث هغه دئ چي له قرآن سره مطابقت ولري او ناصحيح ئې هغه دئ چي له قرآن سره تعارض ولري؛ امكان نه لري چي صحيح حديث دي له قرآن سره مخالفت ولري؛ حديث د قرآن شرح او تفصيل دئ، د قرآن شرح او تفصيل به حتماً له قرآن سره بشپړ مطابقت لري.

دوه مثالونه وړاندي كوم:

عائشې رضي الله عنها ته د ابن عمر رضي الله عنهما دا وينا ورسېده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: مړى په قبر كي د خپلوانو په ژړا تعذيب كېږي؛ هغې وويل: ابن عمر اشتباه كړې؛ د قرآن څرګند آيت راته وايي: يو د بل په ګناه نه نيول كېږي. عائشه رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه و سلم او ابن عمر په ژوند كي همدا خبره كوي؛ د قرآن په استناد د هغه ادعاء ردوي؛ آيا دا كافي نه ده چي موږ اوس څوارلس پېړۍ وروسته د داسي راويانو وينا قرآن ته راجع كړو چي اول، دوهم، دريېم، څلورم او پنځم او تر دې وروسته راويان ئې ټول وفات شوي؟!! عائشې رضي الله عنها ونه ويل چي ابن عمر صحابي دئ؛ د ده خبره سند ده؛ دې ته ئې هم انتظار ونه كړ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم وپوښتي؛ قرآن ئې كافي وګڼلو او د قرآن په استناد ئې وويل: دا خبره پيغمبر عليه السلام نه ده كړې. په داسي حال كي چي عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ژوندى وو او عائشه رضي الله عنها هم ژوندۍ وه، موږ ته چي اوس كوم روايات راځي، له مړو راويانو روايت شوي دي، له دوهم نسل، دريېم نسل، څلورم، پنځم او شپږم نسل؛ دا ټول

وفات شوي، خو هلته عبدالله بن عمر ویلي وو چې ما مخامخ له پیغمبر علیه السلام اورېدلي دي؛ عائشه رضي الله عنها فوراً د قران په رڼا کي د روایت په اړه فیصله کوي؛ او دا موږ ته راښیي چې که غواړو د روایاتو په ارتباط د صحابه وو پر منهج عمل وکړو نو باید همدا د عائشې رضي الله عنها لاره غوره کړو، روایات باید ټول د قرآن په رڼا کي وڅېړو.

په بل روایت کې راغلي: ابوهریره له رسول الله صلی الله علیه و سلم واورېدل چې خلکو ته وو‌ایه: چا چې لا إله إلا الله وویل؛ د جنت زېرى ورکړه؛ هغه بهر ووتلو چې خلك خبر کړي؛ عمر رضي الله عنه ئې مخې ته راغی او ترې وئې پوښتل: څه دي اورېدلي: خبره ئې ورته وکړه؛ او خپل نیت ئې چې خلك پرې خبر کړي ورته بیان کړ؛ عمر رضي الله عنه دومره پرې غصه شو چې وایي: ابو هریره رضي الله عنه ته ئې داسې کلك سوك پر سینه ورکړ چې پر زمکه ولوېدو... او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغی او وئې پوښتل: آیا تا ابوهریره ته دا خبره کړې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هو؛ هغه وویل: که دا خبره خلك واوري نو ټول به عمل پرېږدي او یوازې د کلمې په ویلو به بسنه او اکتفاء وکړي.

موږ د قرآن شرح او تفسیر ته همدومره ضرورت لرو لکه د پیغمبر بعثت ته؛ پیغمبر علیه السلام ته هم قرآن ورکړی شوی او هم د قرآن فهم، موږ ته ئې هم قرآن رارسولی؛ هم ئې په خپل عملي ژوند کې موږ ته راښودلی؛ د هغه ژوند او د ژوند ټول اړخونه د قرآن عملي تجسم وو؛ په خپل ژوند سره ئې د قرآن شرح او تفصیل موږ ته راښودلی.

د ایمان تقاضا دا ده چې له قرآن سره موافقه خبره ومنو، مخالفه رد کړو، که مخالفه نه وي؛ سند، شواهدو او متن ته ئې له پام وروسته د هغې د منلو او نه منلو پرېکړه وکړو.

ائمه وو، علماءو او فقهاءو همدا خبره کړې او هر مؤمن ئې باید وکړي؛ د متعارضو روایاتو مدافعین په ډېر تکلف او له مجبوریت وروسته له دې خبري سره توافق کوي خو دا پرې زیاتوې چې: دا مخالفت

معلومول د هر چا كار نه دئ!! علماء كرامو ته چي د آيت او حديث تر منځ تعارض په نظر ورشي؛ دوی د دې تعارض لپاره د تطبيق يا نسخي لار اختياروي، خو سره له دې په ډېر لجاجت سره وايي: په احاديثو كې د تضاد او تعارض په اړه ادعاء يوه بې بنسټه او بې دليله ادعاء ده!!!

هغوی ته وايو: دا خبره يوازي هغه څوك كولی شي چي نه ئې د احاديثو كتابونه لوستلي وي او نه ئې د احاديثو د شرحي كتابونه، په دې خبر نه وي چي د احاديثو د شرحي كتابونه د دې لپاره ليكل شوي چي دغو تعارضونو ته توجيه پيدا كړي او هغو پوښتنو ته ځواب ووايي چي په دې اړه راولاړېږي، ځينو ته ئې توجيه وړاندي كړې، د ځينو په پای كې ئې خپل عجز څرګند كړی او ويلي ئې دي والله اعلم او په ځينو مواردو كې ئې اعتراف كړی چي توجيه مي ونه موندله؛ او ډېر ئې بې اعتبار، ضعيف او موضوعي ګڼلي؛ زه حاضر يم د بخاري دومره متعارض روايات ستاسو مخي ته كښېږدم چي يو كتاب ترې جوړېږي، داسي متعارض روايات چي هيڅ شارح ئې په توجيه او تلفيق نه دئ توانېدلی.

ځيني نور داسي دي چي وايي: دين او عقل يو ځای نشي خوځېدی؛ كه دين منې نو له عقل سره به خدای پاماني كوې؛ همغه د بايبل د ليكونكي خبره كوي؛ خدای آدم ځكه له جنت بهر كړ چي د معرفت مېوه ئې وخوړه؛ خدای د معرفت خاوند نه خوښوي او په جنت كې ئې نه پرېږدي!! روايات به منې؛ كه څه هم ستا د عقل خلاف وي؛ ځكه ستا عقل معيار نه دئ؛ په پټو سترګو به هر روايت منې كه څه هم دا روايات يو د بل داسي خلاف وي چي هر انسان ئې تر منځ توپير، تعارض او تناقض درك كولی شي؛ نه د فيلسوف عقل ته اړ وي، نه د مجتهد، فقيه، محدث او محقق عقل ته؛ هغه به كوم انسان وي چي د تكراري رواياتو تر منځ تفاوت، تعارض او تناقض نشي درك كولی؛ كه په يوې موضوع پوري مربوط رواياتو كې؛ په يوه كې پنځه او په بل كې پنځوس، په يوه كې اوه، په بل كې اويا، په يوه كې خوب په بل كې ويښه، په يوه كې شپه په بل كې ورځ؛ او دې ته ورته تعارضات او توپيرونه راغلي وي؛ آيا هر عادي

انسان دا تعارض نشي درك کولی؟! مګر ضرور دئ چي د فیلسوف عقل به لري؟ یا د مجتهد او د فقیه؟ عادي انسان هم دا کار کولی شي.

هغه چي وایي: کوم عقل او د چا عقل به معیار ګڼو؟ هغوی ته وایو: همغه عقل چي موږ خپل رب پرې پېژندی شو، هم د الله تعالی د کتاب حقانیت او هم د ده د رسول د رسالت او سنت حقانیت؛ د مؤمن عقل؛ هغه چي الله تعالی په خپل سپېڅلي کتاب قرآن کي ٤٩ ځلي د عقل او تعقل په نامه یاد کړی او په حقائقو د پوهېدو او ایمان راوړو وسیله ئې بولي او ١٩ ځله ئې د فکر او تفکر په نامه یاد کړی او وایي: یوه د عقل او فکر په مرسته خدای پېژندلی، حقائق ئې درك کړي او إیمان ئې راوړی؛ او بل د تعقل او تفکر پر ځای په هوی او هوس پسي تللی او کافر شوی، همغه عقل چي الله تعالی ئې خاوندان شپاړس ځلي د أولو ألالباب په نامه یاد کړي او ستایلي؛ هغه عقل چي رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ ده ته د منسوب روایت د صحت لپاره معیار ګڼلی؛ او له وینا ئې په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چي د یوه صادق مؤمن؛ زړه، دماغ، مشاعر او حواس داسي وي چي سمه او ناسمه وینا پېژندی شي، د قرآن د لارښوونو له مخي چي په هر څه کي د ده لارښود دئ؛ او د خپل ایمان په رڼا کي؛ د یوې وینا په اړه سم قضاوت کولی شي؛ که ئې زړه او مشاعرو ومنله چي دا وینا صحیح ده؛ نو باید ډاډه وي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به دا خبره کړې وي او که ئې د زړه او دماغ دړه ورته خلاصه نه شوه؛ او د سموالي په اړه ئې شکمن شو؛ نو باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم له شأن ئې لري وګڼي او هغه ته ئې له منسوبولو ډډه وکړي.

امام شافعي وایي:

١٩٧٦٥ - قَالَ الشَّافِعِيُّ:... فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُمْ بِطَاعَةِ اللَّهِ، ثُمَّ رَسُولِهِ، ثُمَّ الِاجْتِهَادِ، فَيُرْوَى أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاذٍ: «بِمَ تَقْضِي؟» قَالَ: بِكِتَابِ اللَّهِ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟» قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ يَكُنْ؟» قَالَ: أَجْتَهِدُ قَالَ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِهِ» معرفة السنن و الآثار

بل روایت وایي:

٢٣٤٤٣- حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ، قَالَ: لَمَّا بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، قَالَ: يَا مُعَاذُ بِمَ تَقْضِي؟ قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللهِ، قَالَ: فَإِنْ جَاءَك أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ؟ قَالَ أقضى بما قضى به نبيه صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَإِنْ جَاءَك أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ نَبِيُّهُ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ الصَّالِحُونَ؟ قَالَ: أَؤُمُّ الْحَقَّ جَهْدِي؛ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِي بِمَا يَرْضَى بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مُصَنَّف ابن ابی شیبه

د دې دواړو روایاتو خلاصه دا ده: کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ مُعاذ بن جبل یمن ته د والي په توګه لېږلو نو هغه ته ئې وفرمایل: د څه له مخې به قضاوت او پرېکړې کوې؟ وئې ویل: د الله په کتاب سره؛ وئې فرمایل: که داسې قضیه درته راشي چې د الله په کتاب کې نه وي؟ وئې ویل: د پیغمبر علیه السلام د پرېکړو مطابق به پرېکړه کوم؛ وئې فرمایل: که داسې څه درته راشي چې نه د الله په کتاب کې وي او نه پیغمبر د هغه په اړه پرېکړه کړې وي؟ وئې ویل: خپله هڅه او اجتهاد به له حق سره برابروم. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: الحمد لله چې د پیغمبر استازي ته ئې پوهه ورکړې او داسې ئې ګرځولی چې پرېکړه ئې د رسول الله د رضایت مطابق وي.

یعني چې له کتاب الله او د پیغمبر له سنت وروسته؛ د پرېکړو واك او اختیار د مؤمن انسان عقل، درایت او اجتهاد ته پرېښودل شوی.

موږ په دې باور يو چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم هر څه هم د قرآن مطابق وو او هم د عقل مطابق؛ هم ئې عمل، هم ئې وینا، هم ئې امر، هم ئې نهي، همغسي چي په دې روایت کي راغلي:

١٣٥٩ - عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ الْأَنْصَارِيِّ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ، قَالَ: قُلْتُ: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ يَعْنِي عَايِشَةَ حَدِّثِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ قُلْتُ: " بَلَى "، قَالَتْ: " فَإِنَّ خُلُقَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ الْقُرْآنَ " أَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ فِي الصَّحِيحِ و الْبَيْهَقِيُّ فى شعب الايمان

له عائشې رضي الله عنها پوښتنه شوې چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم له اخلاقو مو خبر کړه؛ هغې وویل: آیا قرآن دي نه دئ لوستی؟ ومي ویل: ولي نه؛ نو هغې وویل: د رسول الله صلی الله علیه و سلم خلق همدا قرآن وو.

خُلُق د اخلاق جمع ده؛ په اخلاق کي د انسان ټول اعمال، اقوال، صفات او عادات شامل دي؛ یعني چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د قرآن عملي تجسم وو؛ هر څه ئې د قرآن مطابق.

د قرآن ځیني لارښووني داسي دي چي هر څوك پرې پوهېږي، ځیني ئې داسي دي چي د علم او پوهي خاوندان پرې پوهېږي، ځیني ئې داسي دي چي یوازي رسول الله صلی الله علیه و سلم پرې پوه شوی او هغه خپل امت ته بیان کړې، د دې خبري یو مثال دا دئ: هر څوك د قرآن په دې حکم پوهېږي چي لمونځ به کوي، د لمانځه د اوقاتو په اړه په قرآن کي داسي اشارې شته چي د لمانځه وختونه ترې معلومېږي، د پوهي او علم خاوندان دا اشارې درك کولی شي، خو د لمانځه د رکعتونو د شمېر او څرنګوالي په اړه داسي اشارې راغلې چي یوازي رسول الله صلی الله علیه و سلم پرې پوه شوی او خپل امت ته ئې ښودلې.

دا ښاغلي ځیني احادیث په هغو مسائلو پوري مربوط ګڼي چي قرآن

ترې ساکت دئ او په مثال کې ئې د واده کړي زناکار د رجم او د ترور او ورېرې په یوه نکاح کې د جمع کولو ناروا کېدل راوړي!! او وايي: دا لارښوونې په قرآن کې نشته؛ یوازې په حدیث کې راغلې؛ نو ګواکې قرآن کافي نه دئ او په حدیث سره بشپړ کېږي؛ هغوی ته وایو: ستاسو ستونزه همدا ده چې قضاوتونه مو سطحي او ظاهري دي؛ هم د قرآن په ارتباط او هم د روایاتو په ارتباط. د رجم په اړه هم ستاسو دا ادعاء غلطه ده او د ورېرې او ترور یو ځایي نکاح په ارتباط هم. د دواړو منشأ د الله تعالی کتاب دئ.

د النساء د سورې ۲۳ آیت هغه ښځې معرفي کړې دي چې نکاح ورسره حـرامه ده، اوه ئې له نسبي پلوه او اوه ئې له صِهري (خسرګنۍ) له پلوه، قرآن په دې اړه یو څرګند اصل زموږ مخې ته ایښی او فرمایلي ئې دي چې یوه سړي ته دوې خویندې په ګډه نکاح کول او ښځه او د هغې مور یا لور ورسره یو ځایي نکاح کول حرام دي، رسول الله صلی الله علیه و سلم دغه اصل ته په پام سره د هغو دوو ښځو یو ځایي نکاح هم ناجائزه ګڼلې چې په خپلو کې ترور او ورېره وي، دا ځکه چې قرآن د دوو خویندو یو ځایي نکاح، له ورېرې سره نکاح، له ښځې او د هغې له مور سره نکاح او له بل مېړه د هغې له لور سره نکاح حرام کړې. یعني د دوو داسې ښځو د یوځایي نکاح په اړه صریح او واضح حکم د ده مخې ته پروت وو چې په خپلو منځونو کې ئې خاص تعلق وو، که په دوی دواړو کې یو ئې نارینه وي؛ نو تر منځ ئې نکاح جائزه نه وي؛ د دوی دواړو یو ځایي نکاح هم جائز نه ده. رسول الله صلی الله علیه و سلم دغه حکم ته په پام سره د ورېرې او ترور په اړه دا لارښوونه کړې. دا حکم ئې له خپل ځان نه دئ صادر کړی، د قرآن له صریح حکم ئې اقتباس کړی. قرآن خو دا هم نه دي ویلي چې د لمسۍ او انا حکم څه دئ، که دا خپله وي یا د مېرمني او یا د خور او ورور، خو هر عقلمن انسان د دوی په اړه حکم له نورو احکامو قیاس کولی شي، له دغو څوارلسو مواردو علاوه نور محرمات د همدغو آیتونو له مخې ټاکل

شوي، نه دا چي د دوی په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته بېله بېله وحي نازله شوې!!

د دوی دا بل مثال هم مخکیني مثال ته ورته دئ، قرآن د ناواده زناکار سزا په څرګندو الفاظو ټاکلې او ویلي ئې دي چي دواړه سل سل درې ووهئ، یو هوښیار انسان پوهېږي چي که د ناواده زناکار سزا دا وي نو د واده شوي زناکار سزا به طبعاً تر دې زیاته وي. رسول الله صلی الله علیه و سلم د داسي زناکار سزا په خپله خوښه نه ده ټاکلې، د قرآن د دغه حکم په رڼا کي او دې ته په پام سره چي په مخکیني الهي شریعت کي د دوی سزا رجم وو؛ فرمایلي چي داسي زناکار به رجم کېږي. موږ وایو چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دغو لارښوونو منشأ همدغه آیتونه دي، دوی وایي: دا بېله بېله وحي ده!! پوښتنه کوو: ستاسو دلیل څه دئ؟ دا خبره خو تاسو له ځانه کوئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم نه دي ویلي چي په دې اړه ما ته بېله وحي شوې.

دوی وایي: حدیث حجت دئ؛ موږ وایو: تر تاسو زیات موږ پر دې اصرار کوو چي حدیث حجت دئ؛ خو په دومره تفاوت سره چي صحیح حدیث حجت دئ، نه هر روایت؛ او صحیح حدیث هغه دئ چي له قرآن سره تعارض ونه لري، کوم روایت چي له قرآن سره تعارض ولري که ټوله دنیا ئې صحیح وګڼي موږ ئې نه د اعتبار وړ ګڼو او نه پرې استناد کوو.

موږ له دوی سره په دې کي هم موافق نه یو چي حدیث هم د قرآن په څېر د الله تعالی له لوري بېله او مستقله وحي ګڼي. عقیده مو دا ده چي قرآن د الله تعالی له لوري پر پیغمبر علیه السلام نازل شوی او حدیث هغه فهم او پوهه ده چي الله تعالی د قرآن په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په برخه کړې. دا مطلب هغه روایت ښه توضیح کوي چي وایي:

٢٦٥٨ -... عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: قُلْتُ لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ

مِنَ الْعِلْمِ لَيْسَ عِنْدَ النَّاسِ؟ قَالَ: لَا وَاللَّهِ مَا عِنْدَنَا إِلَّا مَا عِنْدَ النَّاسِ، إِلَّا أَنْ يَرْزُقَ اللَّهُ رَجُلًا فَهْمًا فِي الْقُرْآنِ، أَوْ مَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ «فِيهَا الدِّيَاتُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْ لَا يُقْتَلَ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ» سنن ابن ماجه

له ابو جُحَيفه روايت دئ چي وايي: علي رضي الله عنه ته مي وويل: آيا کوم خاص کتاب او ليکنه درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ مگر د الله کتاب او هغه پوهه چي يوه مسلمان سړي ته په برخه کېږي او هغه څه چي په دې پاڼي کي دي، وايي: ورته ومي ويل: نو په دې پاڼي کي څه دي؟ وئې ويل: د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لوري د ديت حکم (د اسير آزادولو معاوضه) او دا چي مسلمان د کافر په بدل کي نه وژل کېږي.

ځيني خلك داسي دي چي قرآن مني خو حديث نه مني او ځيني داسي دي چي حديث مني خو قرآن نه مني، ځيني داسي دي چي د يوه کتاب احاديث مني او د بل نه؛ او د دې کتاب هر روايت ته که څه هم غريب وي او له قرآن سره په بشپړه توگه متعارض او متناقض؛ هغه هم داسي تناقض او تعارض چي هر عادي انسان پرې پوهېږي؛ همدې ته به د داسي حجت په سترگه گوري چي د قرآن څرگند آيت د هغه لپاره شا ته غورځوي!! موږ له دغو ډلو کرکه لرو او الله تعالی ته پناه وړو چي د دوی له ډلي شو. هم قرآن منو او هم صحيح حديث.

دا ښاغلي چي د قرآن او حديث تر منځ د توپيرونو په اړه څه وايي او تعارض رفع کولو او تلفيق کومه ناکامه هڅه چي کوي؛ اکثر ئې بې بنسټه او له ځان جوړي شوې خبري دي؛ سمه او دقيقه وينا فقط دا ده چي قرآن د الله تعالی کلام دئ چي د الله تعالی له لوري رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وحي شوی او حديث د قرآن قولي شرح او تفصيل، عملي مصداق او عيني تجسم دئ. (ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ) ئې پيل دئ او د (ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ) آيت ئې پای دئ؛ نه تر دې وړاندي

وحي پرې نازله شوې او نه ترې وروسته.

دا ښاغلي دې اعتراض او پوښتني ته چي ولي له صحابه وو په ليکلي بڼې کي روايات نه مومو؛ او دا خو ښيي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د حديث له ليکلو ممانعت کړی؛ نو ځواب ئې داسي وي چي ښيي: قولي روايت تر ليکلي روايت د زيات اعتبار وړ گڼي؛ ښايي غواړي ووايي چي له صحابه وو په ليکلې بڼې کي د رواياتو نه راتگ د هغوی اعتبار ته زيان نه رسوي!! موږ ته دا يوه مغالطه معلومېږي، که ليکل ضروري او مهم نه وی او تر وينا ئې اعتبار زيات نه وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به د قرآن د ليکلو امر نه کاوو، صحابه وو به په يوه مصحف کي د قرآن د ليکلو په اړه اجماع نه کوله، محدثينو به د احاديثو کتابونه نه ليکل، د قرآن په لومړي نازل شوي آيت کي به د قرائت او قلم يادونه نه کېده، د قرض او پور په اړه به ئې دا حکم نه کاوو چي هغه وليکئ. که مسلمانانو او په خاصه توگه زموږ درنو محدثينو د رسول الله صلى الله عليه و سلم ټول احاديث په يوه کتاب کي راغونډ کړي وی او ټولو پرې اجماع کړې وی نو نن به موږ د متعارضو رواياتو له ستونزي سره مخامخ نه وو، بېلي بېلي داسي مذهبي ډلي به نه وې چي هره يوه ئې ځان ته د رواياتو خاصه لړۍ لري او د هغوی په اړه ړوند تعصب.

د رواياتو په اړه دا هم په پام کي ولرئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله موږ ته لارښوونه کړې:

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ وَأَبِي أُسَيْدٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: "إِذَا سمِعْتُمُ الْحَدِيثَ عَنِّي تَعْرِفُهُ قُلُوبُكُمْ وَتَلِينُ لَهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ وَتَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْكُمْ قَرِيبٌ فَأَنَا أَوْلاكمْ بِهِ. وَإِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ تُنْكِرُهُ قُلُوبُكُمْ وَتَنْفِرُ مِنْهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ وَتَرَوْنَ أَنَّه مِنْكُمْ بَعِيدٌ فَأَنَا أَبْعَدُكُمْ مِنْهُ" مسند احمد

له ابي حُميد او ابي اُسيد روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم

وفرمايل: که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چي ستاسو زړونه ئې خوښوي او پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ورته نرم شي؛ او داسي ئې مومئ چي تاسو ته نژدې دئ؛ نو زه تر تاسو هغه ته اولى يم او که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چي ستاسو زړونه ئې نه خوښوي او نه ئې پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ترې نفرت کوي او داسي ئې مومئ چي له تاسو لري دئ؛ نو زه تر تاسو زيات له هغه لري يم.

دا روايت د مسند احمد او صحيح حبان تر څنګ ځينو نورو کتابونو کي هم راغلى؛ راويان ئې ثقه او صادق ګڼل شوي؛ او محققينو ويلي: رجاله رجال الصحيح: راويان ئې د صحيح رواياتو معيار مطابق دي.

يعني د يوه صادق مؤمن؛ زړه، دماغ، مشاعر او حواس داسي وي چي سمه او ناسمه وينا پېژندى شي، د قرآن د لارښوونو له مخي چي په هر څه کي د ده لارښود دئ؛ او د خپل ايمان په رڼا کي؛ د يوې وينا په اړه سم قضاوت کولى شي؛ که ئې زړه او مشاعرو ومنله چي دا وينا صحيح ده؛ نو بايد ډاډه وي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به دا خبره کړې وي او که ئې د زړه او دماغ دړه ورته خلاصه نه شوه؛ او د سموالي په اړه ئې شکمن شو؛ نو بايد د رسول الله صلى الله عليه و سلم له شأن ئې لري وګڼي او هغه ته ئې له منسوبولو ډډه وکړي.

## آيا حديث د قرآن شرح ده که بېله وحي؟

دا هم يوه له هغو مسائلو ده چي په اړه ئې د مسلمانانو تر منځ د اختلاف شاهد يو، دا چي آيا وحي يوازي تر قرآن پوري منحصر او مختص ده که پر رسول الله صلى الله عليه و سلم پر قرآن علاوه هم وحي نازله شوې؟ آيا د الله تعالى ټول احکام په قرآن کي جمع شوي؛ که داسي الهي احکام هم شته چي په قرآن کي ئې نه مومو؛ يوازي د احاديثو په ضمن کي بيان شوي؟ آيا حکم او قانون صادرول فقط الله تعالى ته مختص

صفت دئ او دا حق ئې بل چا ته نه دئ ورکړی او که پیغمبران هم د حلال او حرام وضع کولو حق لري؟ آیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث ته به د قرآن د شرحي او تفسیر په سترګه ګورو که د بېلي او مستقلي وحي په سترګه؟ که دا بېله وحي وي نو په کوم نامه به ئې یادوو او له هغه بلي وحي سره به ئې توپیر څه وي؟ آیا دا دواړه د وحي متلو او وحي غیر متلو یا وحي جلي او وحي خفي په نامه یادولی شو؟ که د وحي اصلي معني رمز او خفي اشاره وي نو آیا کولی شو وحي د جلي په نامه یاده کړو او آیا د جلي اطلاق پر وحي کېدی شي؟ دا لیکنه دغو پوښتنو ته مختص شوې.

ځیني ادعاء کوي چي وحي دوه ډوله ده: متلو او غیر متلو یا جلي او خفي، وایي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه ډوله وحي نازله شوې: یوه ئې هغه چي د قرآن په بڼې کي تر موږ رارسېدلې او بله ئې هغه چي د حدیث په بڼې کي رارسېدلې، دوی د خپلي ادعاء د اثبات لپاره دا دلیل وړاندي کوي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احادیثو کي داسي احکام او لارښووني مومو چي په قرآن کي د هغوی لپاره کوم شاهد او اشاره نه تر سترګو کېږي؛ او قرآن وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له وحي پرته بله خبره نه کوي، د قرآن دا آیت د دې ادعاء لپاره د دلیل په توګه وړاندي کوي چي وایي: وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ * إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ*: د خپل هوس له مخي خبري نه کوي، دا خو له هغي وحي پرته بل څه نه دي چي ده ته وحي کېږي. او ګواکي د دې آیت معنی دا ده چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم هره وینا او حدیث وحي ده. راشئ دا دواړه ادعاءګاني لږ په دقت او غور سره وڅېړو.

دوی له هغو مواردو چي وایي په قرآن کي ورته اشاره نه ده شوې خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په سنت کي راغلي دغو مواردو ته په ډېر زور شور سره ګوته نیسي:

الف: وایي په قرآن کي دا حکم نه مومو چي د بیت المقدس لوري ته د قبلې په توګه مخ کړئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم په مکه کي او

تر هغه چي په مدينه کي د قبلې بدلولو حکم راغی؛ د بيت المقدس لوري ته لمونځ کولو او په قرآن کي راغلي چي بيت المقدس مو د دې لپاره قبله گرځولی وو چي وگورو څوک د رسول الله صلی الله عليه و سلم متابعت کوي او څوک پر خپلو پوندو شا ته اوړي:

وَ مَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِى كُنت عَلَيهَا إِلا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ... ﴿١٤٣﴾ البقرة

او ستا مخکينۍ قبله مو له دې پرته د بل څه لپاره نه وه گرځولې چي معلومه کړو څوک د پيغمبر متابعت کوي او څوک پر خپلو پوندو بېرته گرځي؛

يعني مخکي مو د دې لپاره دوی ته د کعبې پر ځای بيت المقدس قبله ټاکلې وه چي معلومه کړو دا خلك د پيغمبر په متابعت کي د خپل پلار نيکه له قبلې تېرېدو ته تيار دي که نه او د ايمان لپاره ټولو قومي او ژبني تعصباتو ته لغته ورکوي که نه؟

دوی وايي: له دې آيت معلومېږي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د بيت المقدس په اړه وحي شوې وه خو په قرآن کي دا وحي نه ده راغلې!! د دوی په ځواب کي بايد ووايو:

١- دا ادعاء په هغه صورت کي د اعتناء او اعتبار وړ گڼل کېدی شوی چي يا خو په قرآن کي دا حکم راغلی وی؛ يا رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله ويلي وی چي ما ته د بيت المقدس په لوري د مخ اړولو حکم شوی وو، حال دا چي نه رسول الله صلی الله عليه و سلم دا خبره کړې او نه په هيڅ آيت يا حديث کي صراحتاً يا اشارتاً دا خبره مومو. پوښتنه کوو: تاسو ولي دا جسارت کوئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته هغه څه منسوبوئ چي هغه نه دي ويلي؟!! آيا دا بې ځايه جسارت نه دئ؟!!

٢- رسول الله صلی الله عليه و سلم د بيت المقدس په لوري له دې کبله لمونځ کولو چي دی تر هغه د مخکيني شريعت په متابعت مکلف وو

چي حکم ئې په وحي سره عوض شوی؛ نه دا چي ده ته د بېلي وحي له مخي حکم شوی وو چي بيت المقدس ته مخ کړي. ټول انسانان تر هغه د مخکيني شريعت او مخکيني پيغمبر په متابعت مکلف دي چي د الله تعالی له لوري نوی شريعت راشي او نوی پيغمبر مبعوث شي. رسول الله صلی الله عليه و سلم به تر هغه بيت المقدس قبله ګڼله چي د نوي الهي حکم له مخي د هغې پر ځای نوې قبله وټاکل شي. قرآن وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم دا تلوسه درلوده چي ده ته د مخکينيو پيغمبرانو په څېر داسي قبله وټاکل شي چي د ده د دعوت په سيمي کي وي، تر ده وړاندي پيغمبران په شام او فلسطين کي تېر شوي او الله تعالی هغوی ته په همغي سيمي کي بيت المقدس د قبلې په توګه ټاکلی وو، ده غوښتل چي د بيت المقدس پر ځای کعبه د ده او د ده د امت قبله شي، د همدې لپاره ئې په وار وار د آسمان لور ته مخ اړولو او د قبلې د تحويل په اړه ئې د وحي راتلو انتظار او توقع درلوده، که ده ته ببله وحي شوې وی نو د الله تعالی پر حکم به په بشپړه توګه قانع او راضي وو او هيڅکله به ئې د قبلې د تحويل تلوسه نه وه کړې.

٣- رسول الله صلی الله عليه و سلم په ټولو نورو مواردو کي تر هغه په مخکيني شريعت عمل کړی چي يا اړوند حکم ئې منسوخ شوی، يا تعديل شوی يا تأييد شوی، رسول الله صلی الله عليه و سلم د تقوی، طهارت، پاك لمني، صدق، امانت او نورو نېکو عملونو او د شراب، قمار، زنا، غلا، دروغ، خيانت، دوکه او ټولو نورو ګناهونو په اړه تر هغه په مخکيني شريعت عمل کولو چي په دې اړه په قرآن کي نوي احکام راغلل، آيا ويلی شو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د دغو امورو په اړه د قرآن تر نازلېدو وړاندي ببله ببله وحي شوې وه؟!! که څوك دا غلطه او بې بنسټه ادعاء کوي نو موږ ته دي د رسول الله صلی الله عليه و سلم يو داسي حديث راوښيي چي په هغه کي ويل شوي وي: ما ته د قرآن تر نزول وړاندي په دې اړه وحي شوې وه!!!

٤- د رجم په اړه په قرآن کي دا حکم نه مومو چي محصن زاني دي رجم

شي، رسول الله صلی الله علیه و سلم هم نه دي ويلي چي ما ته د محصن زاني د رجم په اړه بېله وحي شوې، خو رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي زاني او زانيه رجم کړي!! آيا د دې په توجيه کې له دې پرته بله خبره کولی شو چي د رجم حکم په مخکيني شريعت کي راغلی، په قرآن کي د دې حکم په اړه نه دا ويل شوي چي مخکينی حکم منسوخ دئ، نه ئې هغه تعديل کړ او نه ئې د هغه پر ځای بل حکم ولېږو، نو له همدې کبله رسول الله صلی الله علیه و سلم د محصن زاني په اړه د مخکيني شريعت له حکم سره سم عمل کړی.

دې ته مو بايد پام وي چي نن تر ټولو زيات مسيحيان پر اسلام دا اعتراض کوي چي اسلام ولي د رجم سخت او د ترحم او عاطفي خلاف قانون وضع کړی!! پوهېږئ چي دوی ته به زموږ مضبوط او په اصطلاح غاښ ماتوونکی ځواب څه وي؟ ځواب مو دا دئ: دا خو ستاسو د مذهب قانون دئ، تاسو پر قرآن نه بلکي پر خپل بايبل اعتراض کوئ، ځواب ئې له خپلو کشيشانو وغواړئ!! موږ ستاسو د مذهب په يوه څرګند حکم عمل کوو، ولي او څنګه مو ملامتوئ؟ ښايي الله تعالی به د همدې لپاره په قرآن کي د رجم حکم نه وي ذکر کړی چي موږ د قرآن سخت زړو او نه پخلا کېدونکو معترضينو ته دغه ځواب ورکړی شو!!

ب: د دوی بل کمزوری دليل دا دئ چي وايي: په قرآن کي داسي راغلي:

﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَٱلْـَٔـٰنَ بَـٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُواْ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ ۚ...﴾ ١٨٧ البقرة

له خپلو مېرمنو سره د روژې د شپې نژدې والی (جماع) درته حلال کړی شوې، هغوی ستاسو لپاره لباس او تاسو د دوی لپاره لباس يئ، الله په دې پوه شوی چي تاسو له ځان سره خيانت کولو، نو پر تاسو (له خپل رحمت سره) راوګرځېدو او عفو ئې درته وکړه، نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چي الله درته مقدر کړي (د اولاد

درلودو په نيت نژدې والی وکړئ) او وخورئ وڅښئ تر هغه چي د سباوون سپينه کرښه له توري درته څرګنده شي،...

دوی دا آيت داسي تعبيروي: د دې آيت تر نزول وړاندي حکم دا وو چي د روژې له ماښام تر ماخستن پوري خوراك، څښاك او نور د روژې اړوند ممنوعات جائز وو خو تر ماخستن وروسته بيا تر بل ماښام پوري ممنوع او حرام وو، ځينو له دې حکم سرغړاوی وکړ نو ځکه دا آيت نازل شو او دوی ئې خپل خيانت ته متوجه کړل، خو په ضمن کي ئې هغه مخکينی حکم منسوخ کړ او تر سحر پوري ئې دغه ممنوعات جائز وګرځول!! دوی په دې آيت استناد کوي او وايي: دا د ممنوعيت حکم په قرآن کي نه مومو که وحي يوازي په قرآن کي منحصره وی نو ولي به د هغو صحابه وو عمل د خيانت په نامه يادېدو!!

دوی ته په ځواب کي وايو: دا ډېر ډېر کمزوری استدلال دئ، هيڅ وزن او اعتبار نه لري، لکه څنګه چي په قرآن کي دا ممانعت نه شو موندلی همدا راز په احاديثو کي هم دا ممانعت نه شو موندلی، مهرباني وکړئ مور ته هغه حديث راوښئ چي دا ممانعت په کي راغلی!! که نه په قرآن کي د دې ممانعت حکم وي او نه د رسول الله صلی الله عليه و سلم په احاديثو کي نو تاسو څنګه جسارت کوئ او وايئ چي د دې ممانعت حکم په وحي خفي او وحي غير متلو ثابت دئ؟!! تاسو خو يوازي په هغه صورت کي د دې خبري کولو حق درلود چي په دې اړه مو په قرآن او حديث کي کوم صريح حکم موندلی وی، نه دا چي په خپل سر او له کوم نص پرته داسي څه وايئ چي نه الله تعالی ويلي او نه د هغه رسول!! حقيقت دا دئ چي دا د ځينو صحابه وو خپل ګمان وو چي د روژې په شپو کي بايد د ماخستن له لمانځه وروسته تر راتلونکي ماښام د روژې له ممنوعاتو ډډه وکړي، ځينو بيا د خپلي دغي رأيي خلاف عمل کړی، قرآن دا عمل د (تختانون انفسکم) په صيغه ياد کړی، ځکه دوی د خپلي رأيي خلاف هغه څه کړي چي ګناه ئې ګڼله؛ او دا له خپل ځان او نفس سره خيانت دئ، که دوی د الله تعالی او د هغه د

رسول د کوم حکم مخالفت کړی وی نو بیا به د دوی عمل له ځان سره د خیانت په صیغه نه یادېدو بلکې د ذنب او اثم په نامه به یادېدو.

د دې آیت دقیق تفسیر دا دئ: مسلمانانو داسي ګمان کاوو چې د روژې په شپه له ویدېدو وروسته باید له مېرمنو سره له نژدې والي ډډه وکړي، په دې اړه دوی ته کوم حکم نه وو شوی، که څه هم ځیني په دې باور دي چې دا کار په دوی حرام کړی شوی وو، خو نه په قرآن کې د داسي حرمت په اړه څه حکم راغلی او نه په حدیث کې، په خپله ئې همداسي انګېرله، خو کله کله به ئې د خپل دغه ذهنیت خلاف کار وکړ او په دې سره به ئې د ګناه او خیانت احساس کاوو، الله تعالی ورته په صریحو الفاظو د دې اجازه ورکړه او وئې فرمایل چې مېرمن د خاوند لپاره او خاوند د مېرمني لپاره له ګناهونو د حفاظت سبب دئ، داسي لکه لباس چې انسان له تودوخي او یخنۍ ساتي، همدا راز ئې ورته وویل چې د مباشرت هدف او غایه باید د اولاد درلودل وي، نه فقط د جنسي غریزې اشباع. دا وضاحت ئې هم وکړ چې د روژې وخت د سباوون د سپیني ګاري له راڅرګندېدو د شپې تر پیل پوري دئ، شپه د لمر په لوېدو سره پیل کېږي. الله تعالی هغه بنده خوښوي چې نه په دین کې څه زیاتوي او نه څه ترې کموي، هغه چې د روژې حدود مراعاتوي، نه څه پرې زیاتوي او نه ئې ترې کموي، نه د روژې پیل تر خپل ټاکلي وخت ډېر وړاندي نیسي او نه ئې پای تر خپل ټاکلي وخت ډېر وروسته، دا ځکه چې دا کار د دې نښه ده چې هغه د بې ځایه تقوی په نامه په دین کې له ځانه څه نه دي زیات کړي، د اکثرو امتونو انحراف له همدې ځای پیل شوی، مذهبي مشرانو او علماءو ئې له خپل لوري په دین کې زیاتوالی راوستی، د قرآن په اصطلاح د خلکو پېټي ئې درانه کړي او په لاس پښو کې ئې ورته زنځیرونه او زولنې اچولي، قرآن د هر پیغمبر یوه لویه دنده دا ګڼي چې راغلی؛ دا اضافي پېټي د خلکو له اوږو راکوز کړي او دا زنځیرونه وشلوي. پیغمبر علیه السلام به د لمر له لوېدو سره سم خپله روژه ماتوله.

ج: د دوی یوه بله ادعاء دا ده چي وایي: په قرآن کي ټول احکام نه دي راغلي، ځیني احکام داسي دي چي یوازي ئې په احادیثو کي موندلی شو، د دې ادعاء د اثبات لپاره وایي: په قرآن کي یوازي هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چي د ذبحي په مهال ئې د الله تعالی نوم یاد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحي حلال دئ، د دې استثناء بنسټ د قرآن کوم آیت نه بلکي د پیغمبر علیه السلام حدیث دئ، په ډېر زور شور سره وایي: راوښیئ د قرآن کوم آیت دا استثناء جائز ګڼي؟!! دوی ته په ځواب کي وایو: په قرآن کي دا استثناء شته خو څه وکړو چي تاسو نه یئ ورته متوجه شوي! قرآن کب (ماهي) د لحماً طریاً یعني تازه غوښي په نامه یاد کړی او دا ښیي چي ماهي د تازه او پاکي غوښي حکم لري، پیغمبر علیه السلام د قرآن دغي وینا ته په پام سره ویلي چي ماهي له ذبحي پرته حلال دئ.

دوی دا هم وایي چي اهلي خر د حدیث له مخي تحریم شوی؛ نه د آیت له مخي، دوی ته وایو: ټول محقق علماء وایي چي اهلي خر له هره پلوه صحرایي خره ته ورته دئ، په ښارویو کي شمېرل کېږي، واښه خوري او داړي نه لري، د ذبحي د ممانعت دلیل ئې فقط دا دئ چي هغه مهال د سورلۍ مهمه وسیله وه، رسول الله صلی الله علیه و سلم د خیبر د جګړي په ورځ د هغه د ذبح کولو او د غوښي له خوړلو نهي او ممانعت کړی؛ ځکه ځینو صحابه وو په غنیمت نیول شوي اهلي خره ذبح او پاخه کړي وو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اطلاع ورسېده او د نهي او ممانعت امر ئې وکړ. دا نهي داسي ده لکه د آس له غوښي نهي؛ د مصلحت له مخي دئ نه د ذات له مخي. د تحریم حکم هغو حیواناتو او مرغانو ته شامل دئ چي غوښه خوري؛ داړي او کرېې مښوکي او منګولي لري. صحرائي او کورني خره په دې ډلي کي نه راځي؛ په روایاتو کي د هغه په اړه هم د تحریم لفظ راغلی او هم د نهي؛ صحیح روایت یوازي هغه دئ چي د نهي لفظ ئې کارولی؛ نه د حرمت لفظ؛ نهي او تحریم توپیر لري؛ د حل او حرمت پرېکړه الله تعالی ته مختص ده؛ اما د کوم مصلحت او ضرورت لپاره د کوم څه له خوړلو نهي او ممانعت د

حلال او جائز شي په اړه جائز دئ او د حرام اطلاق نشي پرې کېدی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم دا کار کړی؛ یعقوب علیه السلام دا کار کړی او ډاکټران دا کار کوي. اما د حل او حرمت پرېکړه داسي ده چي الله تعالی هیڅوك په دې کار کي له ځان سره نه شریکوي؛ قرآن فرمايي:

قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ مَا لَهُمْ مِنْ دُونِهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا ﴿٣٦﴾ الکهف

د آسمانونو او زمکي د غيبو (علم) له ده سره دئ، ښه ليدونکی ئې او ښه اورېدونکی، نه دوی ته له ده پرته کوم ولي (ملاتړی) شته او نه ئې په خپل حکم (حاکميت) کي ځوك له ځان سره شريکوي.

يعني الله تعالی هیڅوك د حکم صادرولو په ارتباط له ځان سره نه شریکوي؛ دا یوازي ده ته مختص دئ؛ همغسي لکه د غیب علم چي ده ته مختص دئ.

... إِنِ الْحُكْمُ إِلا لِلَّهِ أَمَرَ أَلا تَعْبُدُوا إِلا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ ﴿٤٠﴾ يوسف

... حکم (صادرول) خو یوازي الله ته مختص دئ، امر ئې کړی چي له ده پرته د هیڅا عبادت مه کوئ، سم او سیده دین همدا دئ، خو ډېری خلك نه پوهېږي.

يعني الله تعالی ټولواك دئ، د عالم د ساتلو او پاللو واك ئې په لاس کي دئ، د هر کار پرېکړه د ده له لوري کېږي، حکم او فرمان صادرول او قانون وضع کول ده ته مختص دئ، پر ټول عالم د ده جل جلاله حکم نافذ دئ، په دې واکمنۍ او حکومت کولو کي هیڅوك ورسره شریك نه دئ. الله تعالی د قانون جوړولو او پرېکړو کولو صلاحیت او اختیار هیچا ته نه دئ ورکړی، باید د ژوند په ټولو چارو کي له الله تعالی او د هغه له دین هدایت او لارښوونه تر لاسه کړو او د هغه له حکم او امر سره سم عمل وکړو.

د: دوی دا هم وايي چي د ورېرې او عمه، خورزې او خاله د یو ځايي

نكاح يادونه په قرآن کې نه ده شوې او حرمت ئې يوازې د حديث له مخې ثابت دئ!! يعني د هغو دوو ښځو يوځايي نكاح جائزه نه ده چې په خپلو کې وربېره او عمه يا خورزه او خاله وي، دا چې د دې حرمت منشأ قرآن دئ او كه له قرآن پرته ببله او مستقله وحي، بايد ووايم: د دې منشأ په خپله قرآن دئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم دې ته په پام سره چې د دوو خويندو، د ښځې او د دې د مور، د ښځې او د هغې د لور يوځايي نكاح حرامه گڼل شوې، دا وضاحت كړی چې د ټولو هغو ښځو يوځايي نكاح ناجائزه ده چې كه په دوی کې ئې يو نارينه وي نو په خپلو منځونو کې ئې نكاح جائزه نه وي. وربېره او عمه، خاله او خورزه داسې دې چې كه يو ئې نارينه وي نو د دواړو تر منځ نكاح ناجائزه ده، نو د دوی يوځايي نكاح ناجائزه ده. د هغو خلكو ادعاء بې بنسټه او له ځانه جوړه كړې ادعاء ده چې وايي د دوی حرمت د مستقلې وحې له مخې ثابت شوی نه د قرآن له مخې!! حال دا چې قرآن د ټولو مسائلو په اړه اصول وضع كړي، رسول الله صلی الله علیه و سلم دغه اصول تشريح كړي او تفصيلات ئې موږ ته بيان كړي، قرآن د مور او لور يادونه كړې او ويلي ئې دي ((حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ ...)) خو د انا او لمسۍ يادونه ئې نه ده كړې، هر عاقل انسان پوهېږي چې د انا حكم د مور په څېر دئ او د لمسۍ حكم د لور په څېر. د فروعاتو او تفاصيلو په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لارښوونو منشأ په خپله قرآن دئ نه مستقله او ببله وحي، كه دا مستقله وحي وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به ويلي وو چې ما ته وحي شوې چې داسې نكاح حرامه ده.

هـ: دوی دا ادعاء هم كوي چې په قرآن کې د لمانځه د ترتيب، اوقات او د ركعتونو د شمېر په اړه واضح لارښوونې او احكام نه مومو، رسول الله صلی الله علیه و سلم د مستقلې وحې له مخې په دې اړه موږ ته لارښوونې كړې... دوی ته وايو: ستاسو دا ادعاء هم د نورو په څېر بې بنسټه ده، رسول الله صلی الله علیه و سلم د لمانځه هر څه له قرآن

اخيستي، د الله په نامه د لمانځه پيل، قيام، تلاوت، ركوع، سجده، په ركوع او سجده كې تسبيحات، د لمانځه پنځه وختونه او د ركعتونو شمېر؛ دا ټول هغه څه دي چې په قرآن كې ورته يا په ډېر وضاحت سره يا تلويحاً اشاره شوې، په ډېر ډاډ او اطمئنان سره ويلى شو چې حديث د قرآن شرح او تفسير دئ، د هر حديث منشأ په قرآن كې شته، خو موږ د ځينو منشأ درك كولى شو او د ځينو نه، ځيني ئې داسي دي چې يوازي د قرآن لومړنى مفسر او حامل رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې پوهېدو او ځيني ئې داسي چې هر څوك پرې پوهېږي. په دي اړه په تېرو عنوانونو كي كافي تفصيلي بحث شوى؛ دلته ئې له تكرار تېرېږو.

و: دوى د خپلي غلطي عقيدې په دفاع كې پر يوه بل آيت هم ناسم استناد كوي چې وايي:

وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ ۝٣ التحريم

او كله چي پيغمبر له خپلو ځينو مېرمنو سره يوه خبره په سري توگه ياده كړه، نو كله چي هغې دا خبره (نورو ته) بيان كړه او الله دى پرې پوه كړ، يوه برخه ئې څرگنده كړه او له بلي ئې ډډه وكړه، نو كله چي ئې هغه پرې خبره كړه وئې ويل: چا دا خبره درته وكړه؟ وئې ويل: باخبره پوه ذات پرې خبر كړم.

دوى د دې آيت پر دغي فقرې (قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ) استناد كوي او وايي: په قرآن كې دا مطلب نه دئ راغلى چي الله تعالى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دا خبر وركړ چي هغي مېرمني ئې نورو ته هغه سري خبره افشاء كړې؛ او گواكې له دې معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په دې اړه بېله وحي شوې!!

دوى ته وايو: ستاسو دا استدلال هم د نورو په څېر په بشپړه توگه غلط دئ، رسول الله صلى الله عليه و سلم نه دي ويلي چي ما ته الله

تعالى مخامخ او بلاواسطه وويل، كه داسي وى نو هغه به فرمايلي وو: قال لي ربي: زما رب راته وويل، دا ئې هم نه دي ويلي چي ما ته ئې په خپله يا د فرشتې په واسطه وحي وكړه، كه داسي وى نو هغه به فرمايلي وو: اوحى إلي: ما ته ئې وحي وكړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: باخبره پوه ذات پرې خبر كړم، د دې معنى قطعاً دا نه ده چي الله تعالى ما ته بلاواسطه او مخامخ يا د فرشتې له لاري اطلاع راكړه، په حقيقي معنى ئې هر هغه څوك پوهېږي چي د آيت نوري فقرې هم په پام كي ونيسي، مخصوصاً دا فقره چي وايي: وَ أَظهَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ: او الله دى پرې پوه كړ، يعني الله تعالى داسي انتظام وكړ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له موضوع خبر شي، په قوي احتمال سره دا اطلاع د هغه چا له لوري وركړى شوې چي دا خبره ئې اورېدلې وه، داسي بالواسطه خبرېدا الله تعالى ته منسوبول نه د حقيقت خلاف انتساب دئ او نه دروغ ګڼل كېدى شي، د كوم انسان په واسطه له كومي خبري خبرېدل په حقيقت كي د الله تعالى په اراده او توفيق ترسره كېږي، د (أظهَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ) معنى همدا ده. په آيت كي ويل شوي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له اړوند مېرمني پوښتنه وكړه چي ولي دي هغه سري خبره افشاء كړې، خو دا ئې ترې پټ كړل چي چا اطلاع وركړې، د آيت دا فقره چي وايي: عَرَّف بَعْضهُ وَ أَعْرَض عَن بَعْضٍ: يوه برخه ئې څرګنده كړه او له بلي ئې ډډه وكړه، په يقيني توګه همدا مطلب افاده كوي او په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه كوي چي په داسي مواردو كي د هغه چا د نامه له افشاء كولو ډډه وكړئ چي كه ئې نوم افشاء شي په فتنې او د دوو تر منځ په زړه بداوي او نزاع منتج كېږي. عجيبه ده چي دوى د دې مبارك آيت له څرګندو الفاظو داسي غلطه انتباه اخلي!!

ز: دا هم بايد دوى ته ووايو چي د قرآن د دې آيت په اړه د دوى تعبير كاملاً غلط دئ چي وايي:

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ۝٤ النجم

د خپل هوس له مخي خبري نه كوي، دا خو له هغي وحي پرته بل څه

نه دي چي ده ته وحي کېږي.

دوی ادعاء کوي چي د دې آيتونو معنی دا ده چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم هره وينا د الله تعالی له لوري وحي ده؛ د دې لپاره چي د دغو آيتونو په معنی او تفسير سم پوه شو؛ راشئ تر دې وړاندي او وروسته آيتونو ته لږ ځير شو:

وَ النَّجْمِ إِذَا هَوَى ﴿١﴾

قسم په ستوري چي کله ناځاپه پرېوزي.

دلته الله تعالی د ستوري ناځاپي پرېوتل د ورپسې مدعی لپاره د شاهد په توګه وړاندي کړی؛ مدعی دا ده:

مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَ مَا غَوَى ﴿٢﴾

ستاسو ملګري نه لاره ورکه کړې او نه بې لاري شوی

وَ مَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى ﴿٣﴾

او نه له خپلي نفسي هوی هوس خبري کوي.

إِنْ هُوَ إِلا وَحْيٌ يُوحَى ﴿٤﴾

دا نده مګر وحي شوې وحي.

لومړی آيت قسم دئ او ورپسې آيتونه ئې ځواب دئ؛ د قسم او ځواب ترمنځ ئې ارتباط موندل دقت او غور ايجابوي؛ په ارتباط ئې د پوهېدو لپاره ځو خبرو ته پام وکړئ:

د مکې مشرکينو پيغمبر عليه السلام ته د ده د کومی خبري په وجه ويل چي "ضل و غوي: لار ئې ورکه کړې او بې لاري شوی"؟

آيا په دې سورې يا ټول قرآن کې دغه خبره موندلی شو؟ دلته خو قرآن وايي چي دا د ده خپله خبره نده، بلکې د الله له لوري د وحي خبره ده، تاسي هسي د دې خبري له کبله ده ته بد او رد وايئ.

د ستوري ناځاپي پرېوتل؛ نه آرام غروب؛ څنګه په دې شهادت ورکوي چي د ده دا خبره رښتيا ده؟

د دې سورې په پای کې له ۵۷ آيت تر ۶۰ آيت پورې لولو:

أَزِفَتِ الآزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْس لَهَا مِن دُونِ اللَّهِ كاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنْ هَذَا الحْ□دِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَ تَضحَكُونَ وَ لا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾

نژدې راتلونکې رانژدې شوه، له الله پرته بل څرگندوونکی ورته نشته، نو آيا له دې خبرې تعجب کوئ او خاندئ او ژاړئ نه؟

له دې آيتونو په څرگنده معلومېږي چې قريشو د پيغمبر عليه السلام په دې خبرې تعجب کولو او په استهزاء او تمسخر سره به ئې هغه ردوله چې ده ورته ويل: د قيامت ورځ رانژدې شوې، دا دنيا به له منځه ځي او ټول به د حساب او کتاب او د جزاء او سزا عالم په لور درومو. په قرآن کې دې ته ورته گڼ شمېر آيتونه همدا مطلب په گوته کوي چې قريشو ته د پيغمبر عليه السلام په ټولو خبرو کې د زياتې حيرانتيا او تعجب خبره دا وه چې قيامت به راځي، د نړۍ دا موجود نظام به له منځه ځي، بله دنيا، له ځانگړي نظام سره به راځي، مړه به راژوندي کېږي او د خپلو عملونو سزا او جزاء به گوري، په دې خبرې پورې به ئې خندل او د همدې خبرې په وجه به ئې کله پيغمبر ته مجنون ويل او کله ضال.

خو دا خبره چې د ستورې ناڅاپي پرېوتل څنگه د دغې ورځې راتگ په گوته کوي او څنگه د دې ورځې په اړه د پيغمبر عليه السلام د وينا په ارتباط د قريشو ناروا دريځ ردوي؛ ځواب ئې دا دئ:

د يوه ستورې ناڅاپي پرېوتل، له خپل ټاکلي مسير وتل او په لايتناهي فضاء کې ورکېدل؛ داسې ده لکه له يوې سترې ماڼۍ چې يوه خښته راپرېوځي او ځمکې ته په رارسېدو سره ذره ذره شي، د همدغې يوې خښتې راپرېوتل؛ دا په گوته کوي چې دا ماڼۍ زړه شوې، نورې خښتې به ئې هم يو په بل پسې راپرېوځي او يوه ورځ به دا ټوله ماڼۍ رانسکورېږي. نو اوس که څوك د پيغمبر عليه السلام دا وينا چې قيامت رانژدې شوی؛ نه مني او د ده په اړه وايي: يا غلط شوی يا قصداً دا

غلطه خبره کوي؛ پداسي حال کي چي دا د ده خپله خبره نه؛ بلکي د الله له لوري د وحي خبره ده او د ستورو نابېره پرېوتل د هغې پر حقانيت شهادت ورکوي، آيا دا کس له خپل عقل سره جفا نه کوي؟ آيا له څرګند دليل انکار نه کوي؟ آيا د دوی په عقل او عمدي انکار ژړا نده پکار؟ أَفَمِنْ هَذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ * وَ تَضحَكُونَ وَ لا تَبْكُونَ * نو آيا له دې خبري تعجب کوئ او خاندئ او ژاړئ نه؟

د دې تعبير په تأييد کي دوه اساسي دلائل په همدې سورې کي راغلي: د "هوی" لغوي معنی ناڅاپي پرېوتل او راغورځېدل دي نه د معمول مطابق غروب. دا پرېوتل د قيامت د نژدې کېدو نښه کېدی شي نه بل څه.

د سورې په ۵۷ آيت کي د قيامت ورځ د " الآزِفَةُ: نژدې راتلونکې" په نامه ياده شوې او ويل شوي چي رانژدې شوې ده، له دې په څرګنده معلومېږي چي اصلي موضوع د قيامت رانژدې کېدل دي.

د دې مبارکو آيتونو معنی دا ده چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لوري وړاندي شوی قرآن د ده خپل کتاب او د ده د ويناوو مجموعه نه دئ، دا خو يوازي هغه وحي ده چي د يوه پياوړي او شديدالقوی ملك له لوري ده ته وحي شوی، دلته په (هو) سره قرآن ته اشاره شوې نه بل څه ته او نه د رسول الله صلی الله عليه و سلم هري وينا ته، د رسول الله صلی الله عليه و سلم ډېري ويناوي نه وحي وې او نه د وحي شرح او تفسير، بلکي د ده خپلي خبري وې، دا درې بايد سره خلط نه کړو، قرآن وحي ده، حديث د وحي شرح او تفسير دئ او پر دې دواړو سربېره رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپل شخصي ورځني ژوند کي ډېري داسي خبرې کړې چي نه د وحي نوم ورکولی شو او نه ئې د وحي شرح او تفسير ګڼلی شو، لکه دا چي رسول الله صلی الله عليه و سلم هره ورځ چا ته د کوم کار کولو سپارښتنه کړې، څه ئې د خوراك او څښاك لپاره غوښتي، د کوم جنګ پرېکړه ئې کړې، کومه ډله ئې کوم لوري ته لېږلې، د ډلي غړي ئې غوره کړي او دې ته ورته

نور کارونه، آیا ویلی شو چي دا هره وینا ئې د وحي له مخي وه؟! جبرئیل علیه السلام ورته راغلی او دا لارښوونې ئې هغه ته کړې؟!!

که رسول الله صلی الله علیه و سلم ته پر قرآن علاوه نوره وحي هم شوې وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به د هغې د لیکلو او نورو ته د رسولو په اړه دومره جدي اهتمام کړی وو لکه چي د قرآن په اړه ئې کاوو؛ کله به چي پر پیغمبر علیه السلام وحي نازلېده نو سخت مشوش او پریشان به وو؛ تلوار به ئې کاوو چي ژر ئې حفظ کړي، شونډې به ئې پرې خوځولې، الله تعالی ورته وفرمایل: تلوار مه کوه، په دقت سره ئې اوره، بیانول ئې زموږ پر ذمه دي، ستا په سینه کي ئې راجمع کول هم زموږ پر ذمه دي او بیا دا توفیق درکول چي خلکو ته ئې بیان کړې، شرح او تفسیر ئې وړاندې کړی شې؛ دا هم پر موږ ده؛ د وحي له نزول سره سم او له ځنډ پرته به ئې کاتبان راغوښتل؛ هغوی ته به ئې اورولو او هغوی به لیکل؛ او همدا پاڼې او لیکل شوې وحي به په مسلمانانو کي خپرېده او په لیك لوست پوه مسلمانانو ترې لیکل؛ پیغمبر علیه السلام به په خپلو خطبو او لمونځونو کي خلکو ته اورول؛ که له قرآن پرته بله وحي پر پیغمبر علیه السلام نازله شوې وی؛ نو حتماً به ئې همدغسي اهتمام ورته کولو لکه چي د قرآن آیتونو په ارتباط ئې کولو؛ کاتبان به ئې ورغوښتل، هغوی ته به ئې ویل چي دا ولیکئ او د دې لپاره چي ضائع نه شي؛ باید غائب کسانو او راتلونکو نسلونو ته ورسېږي؛ او دا له لیکلو پرته په بله طریقه ممکن نه وو؛ څکه ئې د قرآن د لیکلو انتظام وکړ، د وحي کاتبان معلوم وو، نومونه ئې هم څرگند، شمېر ئې هم زیات او د هغوی مأموریت هم دا وو چي هره نازله شوې وحي باید ولیکي او نورو ته ئې ورسوي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم له قران پرته د خپلي بلې وینا په ارتباط نه یوازې دا کار نه دئ کړی؛ بلکي تاکید ئې کړی چي ما ته منسوب روایات او احادیث مه لیکئ. ولې به ئې صحابه وو ته ویل: زما حدیث مه لیکئ؛ چا چي له قرآن پرته بل څه ما ته منسوب کړي او لیکلي ئې دي هغه دي له منځه یوسي!! څنگه

به رسول الله صلی الله علیه و سلم د الهي وحي له کتابت ممانعت کولو او حتیٰ د هغه د محو کولو سپارښتنه به ئې کوله؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم خو د وحي په اړه دومره جدي اهتمام کولو چي لا به د فرشتې له لوري د هغې القاء پای ته نه وه رسېدلې چي ده به له ځان سره تکراروله او د حفظولو هڅه به ئې کوله، د ده دغې تلوسې او تلوار ته په پام سره الله تعالی هغه ته لارښوونه وکړه چي تلوار مه کوه، پرېږده چي فرشته د وحي القاء پای ته ورسوي، ډاډه اوسه چي ستا په زړه کي د هغې جمع کول او ستا پر ژبې د هغې بیانول زموږ پر ذمه دي، د وحي متصل به ئې هغه هم د وحي کاتبانو ته ویله او هم خپلو صحابه وو ته، ځینو به لیکله او ځینو به حفظوله، آیا دا کافي نه ده چي ووایو: د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث د وحي شرح او تفسیر دئ نه بېله او مستقله وحي؟!!

الله تعالی هغه ته فرمایلي:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٦٧﴾ المائدة

اې پیغمبره! هغه څه ورسوه چي د خپل رب له لوري درته نازل شوي او که دي ونکړ نو د ده پیغام دي نه دئ رسولی؛ او الله دي له خلکو ساتي؛ یقیناً چي الله دا کافر قوم نه هدایت کوي.

د دې لارښوونې معنی دا ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم مکلف وو هره هغه وحي خپل ټول امت ته ورسوي چي د الله تعالی له لوري ورته شوې؛ که حدیث هم وحي وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً امت ته د هغه د رسولو داسي اهتمام کړی وو لکه د آیتونو په اړه د ده جدي اهتمام؛ د حدیث لپاره به ئې همغسي کاتبان ټاکلي وو لکه د وحي لپاره کاتبان؛ ولي ئې د حدیث د لیکلو ممانعت کړی او حتیٰ فرمایل ئې چي که چا زما کوم حدیث لیکلی وي هغه دي

له منځه یوسي؟ ولې له صحابه وو یو لیکلی حدیث نه دئ نقل شوی؟

هغه چي ادعاء کوي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احادیثو کې داسي احکام راغلي چي منشأ ئې په قرآن کې نه مومو؛ او ګواکې دا ښيي چي پیغمبر علیه السلام ته پر قرآن سربېره نوره وحي هم شوې ده؛ هغه وحي چي دوی ئې د غیر متلو یا خفي وحي په نامه یادوي؛ دوی چي د دغي ادعاء د اثبات لپاره کوم دلائل وړاندي کوي؛ ټول مو په مخکینیو درسي حلقو کې وڅېړل؛ تاسو ولیدل چي استدلال ئې څومره کمزوری او بې بنسټه دئ او له قرآن د دوی فهم څومره نیمګړی او ناسم.

دوی ته وایو: ستاسو د دغي ادعاء معنی دا ده چي ګواکې قرآن ناقص دئ او په حدیث سره بشپړ کېږي، ګواکې قرآن د لارښود په توګه کافي نه دئ او ګواکې د ځینو امورو په اړه په قرآن کې لارښووني نشته، حدیث دا نقص پوره کوي!! موږ الله تعالی ته له داسي غلطي وینا پناه وړو، هغه قول او وینا پر دېوال وهو چي قرآن ته نقص منسوبوي، قرآن کامل او بشپړ دئ، قرآن د لارښود په توګه کافي دئ، ټولې هغه ضروري لارښووني په قرآن کې راغلې چي انسان ورته ضرورت لري، د آدم علیه السلام له پیدایښت بیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رحلت پوري چي د الله تعالی له لوري پیغمبرانو ته د احکامو او هدایاتو کومه وحي شوې او کومي لارښووني شوې، قرآن پر ټولو دغو احکامو او لارښوونو احتواء کړې، قرآن پر ټولو مخکینیو کتابونو محیط او مهیمن دئ، داسي څه نه دي پاته چي قرآن دي نه وي بیان کړي، خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر یو پوه، امین او رښتیني حامل او شارح غواړي چي په خپل قول او عمل کې د هغه شرح او تفسیر د قرآن د ټولو مخاطبینو په وړاندي کښېږدي، دا هم له دې کبله نه چي قرآن په کافي پیمانه واضح او مفصل نه دئ بلکي له دې کبله چي ځیني مخاطبین ئې د فهم له پلوه نقص لري؛ او شرح او تفصیل ته ضرورت لري. دا د قرآن په اړه زموږ شخصي وینا او ادعاء نه ده، الله تعالی قرآن په همدغه توګه معرفي کړی، د قرآن په اړه په قرآن کې داسي لولو:

أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَٰبَ مُفَصَّلًا ۚ ... الانعام

آيا له الله پرته بل حَکَم ولټوم؟ حال دا چي (الله) همغه ذات دئ چي دا مفصل کتاب ئې درته رالېږلی...

په دې مبارك آيت کي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چي مخالفینو ته ووايي: آيا له الله تعالی پرته بل حَکَم ځان ته ولټوم؟ آيا خپل ژوند د بل چا د حکم او دستور مطابق تنظيم کړم؟ آيا په ژوند پوري مربوط قضايا د بل چا د قانون مطابق حل و فصل کړم؟ په داسي حال کي چي الله تعالی د دې مقصد لپاره مفصل او جامع کتاب رالېږلی، د داسي جامع او مفصل کتاب په شتون کي به څنګه او ولي بل چا او بل څه ته رجوع کوم؟!

همدا راز قرآن فرمايي:

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾ الانعام

او ستا د رب کلام د صداقت او عدالت له پلوه بشپړ دئ، هيڅوك ئې د پرېکړو بدلوونکی نشي کېدی؛ او هغه پوه اورېدونکی دئ.

دلته د دې الهي کتاب په اړه څو خبري شوې:

دا ستا د رب کلام دئ.

هره خبره ئې په بشپړه توګه رښتينې ده.

هر قضاوت او حکم ئې په بشپړه توګه عادلانه دئ.

هيڅوك ئې د پرېکړو، وعد او وعيد د تحقق مخه نشي نيولی.

هيچا ته دا واك او اختيار نه دئ ورکړی شوی چي د ده په احکامو او قوانينو کي کوم تغيير او تبديلي راولي.

الله تعالی چي په دې کتاب کي څه ويلي، که دا د مؤمنانو او کافرانو د قول او عمل په اړه دي، که د توحيد او شرك، حق او باطل، دنيا او آخرت

په اړه دي، که د خلکو د عملونو د پايلو او عواقبو په اړه دي؛ که احکام او لارښووني دي؛ ټول حق او رښتيني دي او دا د هغه ذات له لوري ويل شوي چې پوه اورېدونکی دئ.

.... وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَـٰهُ تَفْصِيلًا ﴿١٢﴾ الإسراء

او هر څه مو په تفصيل سره بيان کړي.

يعني په قرآن کې هر څه په بشپړ تفصيل سره راغلي.

....ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَـٰمَ دِينًا .... ﴿٣﴾ المائدة

.... نن مو ستاسو دين درته بشپړ کړ او خپل نعمت مي پر تاسو بشپړ کړ او اسلام مي د دين په توګه درته غوره کړ...

يعني د دغو احکامو او لارښوونو په راتلو سره ستاسو دين بشپړ شو، الله د دين د بشپړتيا او پر کافرانو ستاسو د برلاسي په نتيجه کې خپل ستر نعمت او پېرزوينه پر تاسو مکمله کړه، اوس نو کافرانو ته له يأس او ناهيلۍ پرته بل څه نه دي پاته، نه پر تاسو د بريا طمع کولی شي او نه خپل دين ته ستاسو د راګرځولو هيله ساتلی شي.

د مستندو رواياتو له مخي پيغمبر عليه السلام د حجة الوداع په تاريخي خطبې کې د دې آيت دغه برخه ولوسته (ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَـٰمَ دِينًا) له دې معلومېږي چې يا خو د آيت دا برخه په دغه وخت کې نازله شوې او يا له دې مخکې او د آيت له نورو برخو سره يو ځای. او دا ښيي چې قرآن کامل او بشپړ دئ، هيڅ نقص او کموالی په کې نشته. د بشپړ او کامل معنی دا ده چې هيڅ نقص او کمی په کې نشته؛ داسي څه نه دي ترې پاته چې په بل ځای او مرجع کې ئې ولټوو. هغه چې وايي: په دين کې داسي احکام شته چې په قرآن کې ئې نه مومو؛ هغوی د دې څرګند آيت خلاف خبره کوي او قرآن ته نقص او کمی منسوبوي.

﴿أَوَ لَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾﴾ العنكبوت

آيا دا ورته كفايت نه كوي چي موږ پر تا هغه كتاب نازل كړى چي پر دوى لوستل كېږي، يقيناً چي په دې كي د ايمان راوړونكو لپاره حتماً رحمت او ذكر دئ.

دا آيت وايي: آيا د معارضينو د قناعت لپاره دا له إعجازونو ډك كتاب چي ته ئې پرې لولې كفايت نه كوي؟!! يقيناً چي په دې كي د ايمان راوړونكو لپاره حتماً (رحمت) او (ذكر) دئ، هغه چي د ايمان راوړو استعداد او وړتيا ئې نه ده ځپل شوې؛ هغوى به هرومرو دا كتاب د الله تعالى يوه لويه پېرزوينه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

يعني په چا كي چي د ايمان راوړلو استعداد وي هغه ته دا كتاب په خپله د لارښود، معجزې او دليل په توګه كافي دئ، تر دې لويه او ستره معجزه نشته. كه څوك لږ له شفاف ذهن او د حق موندلو له تلوسې او تندي سره قرآن ته رجوع وكړي؛ نو يقيناً چي د قرآن هره وينا به د دې عالِم او د عالَم د هر څه په اړه هومره علمي او دقيقه وومي چي ورته ثابتوي دا كتاب هغه چا نازل كړى چي د دې ټول عالَم او د عالَم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا كتاب د هغه چا له لوري راغلى چي علم ئې په زمان او مكان پوري محدود نه دئ، هيڅ شى او حقيقت ئې ترې پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندي داسي حجاب نشته چي د يوه شي په حقيقت د پوهېدو مانع شي، موږ په دې كتاب كي ګورو چي د هر څه په باب ئې هره وينا او قضاوت دقيق او صحيح دئ، دا دقيق او سل په سلو كي صحيح او علمي قضاوتونه او پرېكړي موږ ته ثابتوي چي د دې كتاب لېږونكى د هر څه په اړه جامع او كامل علم لري، له دې ناحيې قرآن معجزه ده او د پيغمبر عليه السلام په حقانيت شهادت وركوي. له دې مبارك آيت معلومېږي چي قرآن له هره پلوه كافي دئ.

همدا راز الله تعالى د قرآن په اړه فرمايي:

وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾ النحل

او پر تا مو دا کتاب یوازي د دې لپاره نازل کړی چې دوی ته هغه څه څرګند کړې چې اختلاف ئې په کې کړی؛ او د هغو لپاره لارښوونه او رحمت چې ایمان راوړي.

یعني د اختلافاتو د حل و فصل یوازینۍ مرجع همدا قرآن دئ چې د ټولو اختلافي مواردو حقیقت ئې څرګند کړی.

قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً قُلِ اللَّهُ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لأُنْذِرَكُمْ بِهِ وَمَنْ بَلَغَ ... ﴿١٩﴾ الأنعام

ووایه: کوم شیء به ستر شهادت ورکوونکی وي؟ ووایه: الله؛ زما او ستاسو تر منځ شاهد؛ او ما ته دا قرآن د دې لپاره وحي شوی چې تاسو هم پرې انذار کړم او هغه څوك هم چې (دا قرآن) وروررسېږي ....

له دې آیت هم معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فقط دغه قرآن د ټولو انسانانو د انذار لپاره ورکړی شوی او د الله تعالی له لوري وحي په قرآن کې راخلاصه شوې.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر آیتونه وایي: قرآن کامل دئ، هر څه ئې په تفصیل سره بیان کړي، د هر اختلاف په اړه که فکري وي، که حقوقي وي او که سیاسي او اجتماعي؛ وروستۍ سمه پرېکړه کوي او وروستی صحیح قضاوت وړاندي کوي، تر هرې معجزې ستره معجزه ده، له هره پلوه کافي دئ او د انسان ټولو ضروري اړتیاوو او پوښتنو ته ځواب وایي.

آیا د قرآن په اړه د الله تعالی له دې ویناوو سره سره دا لوی او ستر ظلم نه دئ چې څوك ووایي: قرآن ناقص دئ او په حدیث سره ئې نقص او کموالی رفع شوی؟!!

قرآن کافي، مکمل او بشپړ دئ خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر یوه حامل او شارح ته ضرورت وو چې هغه خلکو ته ورسوي او

ټول جامع مطالب ئې تشريح کړي. رسول الله صلی الله عليه و سلم د الله تعالی هغه امين رسول او استازی دئ چي خپل لارښود پيغام ئې د ده په لاس خپلو بندگانو ته لېږلی، هغه د دې الهي پيغام هم امين حامل دئ او هم ئې رښتينی شارح، داسي حامل چي په بشپړه توگه ئې عمل پرې کړی او په دقيقه توگه ئې خلکو ته قولاً او عملاً تشريح کړی، دې الهي پيغام داسي يوه امين حامل او رښتيني عامل ته ضرورت درلود چي د ده په قول او عمل کي عيني تجسم ومومي، داسي چي که څوك وغواړي پوه شي چي الله تعالی څنگه انسان، له کومو فکري، اخلاقي او عملي ځانگړتياوو سره خوښوي نو ورته وويل شي: داسي انسان لکه د دې لارښود الهي کتاب لومړنی حامل، لکه رسول الله صلی الله عليه و سلم، که ووايي: د الله تعالی صحيح لمانځنه او عبادت به څنگه وي، ځواب ئې دا وي: همغسي لکه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپل رب عبادت او لمانځنه کوله، که پوښتنه وکړي: کوم څه حلال دي او کوم څه حرام، ځواب ئې دا وي: همغه څه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د دغه الهي کتاب په رڼا کي د حلال او حرام په سترگه ورته کتلي، هو؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم يعني مجسم او ژوندی قرآن، همغسي لکه چي عائشه رضي الله عنها وايي: کان خلقه القرآن: قرآن د ده اخلاق وو، يعني که غواړې پوه شې چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم اخلاق څنگه وو، تقوی ئې څنگه وه، عبادت ئې څنگه، جهاد ئې څنگه، صبر ئې څنگه او جرأت ئې څنگه وو، سخاوت ئې څنگه، عاطفه ئې څنگه، ترحم ئې څنگه وو او په کومو کومو صفاتو متصف وو، نو ځواب دا دئ: قرآن ولوله او وگوره چي الله تعالی کوم صفات خوښوي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم په ټولو دغو صفاتو متصف وو. موږ د رسول الله صلی الله عليه و سلم په کامل اطاعت مکلف يو، د ده اطاعت داسي دئ لکه د الله تعالی اطاعت، دا ځکه چي دی د الله تعالی استازی دئ او هره وينا او عمل ئې د الهي لارښوونو مطابق، د رسول الله صلی الله عليه و سلم هره وينا او هر عمل موږ ته حجت دئ.

خو دا باید په پام کې ولرو چې محمد علیه السلام دوه بېلې بېلې ځانګړتیاوې او حیثیتونه لري: ١- د ده ذاتي او بشري حیثیت او ٢- د رسالت حیثیت؛ د ذاتي حیثیت له پلوه هغه یو بشر او انسان دئ؛ خو غوره او داسې کامل انسان چې الله تعالی د انسانانو له منځ او انسانانو ته د خپل پیغام رسولو لپاره غوره کړی؛ قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ذاتي او بشري حیثیت په اړه فرمايي:

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلا صَالِحًا وَلا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴿١١٠﴾ الکهف

وواېه: یقیناً چې زه فقط ستاسو په څېر یو بشر یم، دا وحي راته کېږي چې ستاسو معبود یوازینی معبود دئ. نو څوك چې د خپل رب د ملاقات هیله او طمع لري نو نېك عمل دي وکړي او د خپل رب په عبادت کې دي هیڅوك نه شریکوي.

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَاسْتَقِيمُوا إِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ وَوَيْلٌ لِلْمُشْرِكِينَ ﴿٦﴾ فصلت

وواېه: یقیناً چې زه ستاسو په څېر یوازې یو بشر یم، دا وحي راته کېږي چې ستاسو معبود یوازینی معبود دئ؛ نو د ده لوري ته استقامت غوره کړئ او بخښنه ترې وغواړئ؛ او د مشرکینو پر حال افسوس.

د ټولو پیغمبرانو په اړه فرمايي:

قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ إبراهیم

خپلو پیغمبرانو ئې ورته وویل: موږ نه یو مګر ستاسو په څېر بشر؛ خو الله له خپلو بندګانو پر هغه چا پېرزوینه کوي چې دی ئې غواړي؛ او موږ ته ممکنه نه ده چې د الله له اجازې پرته تاسو ته کوم دلیل او نښه

راوړو؛ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي.

يعني د رسول الله صلی الله عليه و سلم په شمول هر پيغمبر د نورو انسانانو په څېر بشر وو، مور او پلار ئې وو؛ د مور په غېږ کې ستر شوی؛ مور تی ورکړی، دی ئې مينځلی، جامې ئې وراغوستې، خوراك او څښاك ته اړ وو، مريض شوی، علاج او تداوي ته اړ شوی، لوږه او تنده پرې راغلې، کله کله څه ترې هېر شوي، حتیٰ په لمانځه کې هم نسيان پرې راغلی، د مازديگر څلور رکعته لمونځ ئې د نسيان له کبله دوه رکعته کړی، يوه مقتدي ئې له لمانځه وروسته متوجه کړی؛ نو لمونځ ئې بشپړ کړی او په پای کې ئې د سهوي سجده کړې. يارانو به ئې کله کله د کومې رأيې په اړه ورته ويل: يا رسول الله! دا ستا خپله رأی ده که د الله تعالی له لوري درته وحي شوې؛ او د ده ځواب به دا وو: دا زما خپله رأی ده؛ داسې هم شوي چې له خپلې رأيې تېر شوی او د نورو رأی ئې منلې؛ د احد په جنگ کې ئې همداسې وکړل، د احزابو په جنگ کې ئې غوښتل د مدينې هغه خلك چې له قريشو سره د ملگرتيا اراده ئې کړې وه؛ په دې قانع کړي چې د مسلمانانو د کجورو د يوه کال حاصل هغوی ته ورکړي؛ په دې اړه ئې له سعد بن معاذ او سعد بن عباده سره مشوره وکړه؛ هغوی ورته وويل: يا رسول الله! دا ستا خپله رأی ده او که د الله تعالی له لوري وحي؟ وئې فرمايل: زما شخصي رأی ده؛ هغوی وويل: يا رسول الله! په خدای قسم چې موږ د جاهليت په دور کې دوی ته جزيه نه ده ورکړې؛ اوس چې الله تعالی په ايمان سره موږ ته عزت راکړی؛ څنگه به دوی ته جزيه ورکوو!! رسول الله صلی الله عليه و سلم له خپلې رأيې تېر شو او د دوی دواړو رأی ئې ومنله. حتیٰ ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ته ئې ويلي: که تاسو دواړه په کومې رأيې توافق وکړئ؛ زه به د اړوند کار په اړه له خپلې شخصي رأی تېرېږم او ستاسو رأی به منم.

اما د رسول الله صلی الله عليه و سلم نبوي حيثيت بيا داسې دئ چې د الله تعالی لارښوونې او کلام ئې په بشپړ امانت او له هر راز تغيير، تأخير او تصرف پرته امت ته رسولی؛ په خپله ئې عمل پرې کړی او نورو

ته ئې د عمل کولو سپارښتنه کړې؛ د هیڅ قضیې په اړه ئې له خپل لوري او د وحي تر راتلو وړاندې پرېکړه نه ده کړې؛ ډېر ځلي داسي شوي چي له نوې قضیې سره مخامخ شوی؛ او تر هغه ئې له څه ویلو ډډه کړې چي د الله تعالی له لوري ورته وحي او لارښوونه شوې او همدا وحي په قرآن کې راغلې. قرآن د ده دا نبوي حیثیت داسي بیان کړی:

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى ﴿٣﴾ إِنْ هُوَ إِلا وَحْيٌ يُوحَى ﴿٤﴾ عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى ﴿٥﴾ النجم

او نه له خپلي هوی او هوس خبري کوي، دا نه دئ مګر داسي وحي چي وحي کېږي، چي د مضبوط ځواك خاوند (فرشتې) ورښودلی.

یعني نبوي حیثیت ئې داسي دئ چي په دې کې هیڅ خبره له ځانه نه کوي، فقط د هغې وحي مطابق خبره کوي چي د قرآن په بڼې کې د وحي له لاري ده ته ویل شوې؛ هغه قرآن چي د مضبوط ځواك خاوند (فرشتې) (جبریل) ورښودلی. یعني د رسول په حیث چي هغه هر څه وایي نو فقط د قرآن خبره کوي؛ نه بل څه.

دا آیت هم وایي چي د پیغمبر علیه السلام دنده او رسالت فقط د قرآن ابلاغ او رسول دي:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٦٧﴾ المائدة

اې پیغمبره! هغه څه ورسوه چي د خپل رب له لوري درته نازل شوي او که دي ونکړ نو د ده پیغام دي نه دئ رسولی؛ او الله دي له خلکو ساتي؛ یقیناً چي الله دا کافر قوم نه هدایت کوي.

دا مطلب په المائده سورې کې د پیغمبر علیه السلام په اړه درې ځلي، ٦٧، ٩٢ او ٩٩ آیتونو کې او د مؤمنانو په اړه یو ځل په ١٠٥ آیت کې راغلی؛ په دې آیت سره پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چي خپل رسالت

له خوف، وېرې، تردد او تزلزل پرته په بشپړه توګه پای ته ورسوه، د هغه قرآن په تبليغ او ولس ته په رسولو کې هيڅ کمی او قصور مه کوه چې د خپل رب له لوري درکړی شوی؛ که داسې ونه کړې نو تا به خپل الهي رسالت نه وي تر سره کړی؛ د دښمنانو د مخالفتونو هيڅ پروا مه کوه؛ الله تعالی ستا ساتونکی دئ.

آيا پوهېږئ چې الله تعالی پيغمبر عليه السلام ته څه ويلي؟

وَإِن كَادُواْ لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥۖ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلا ﴿٧٤﴾ إِذًا لأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ الإسراء

او نژدې وه په فتنه کې دې واچوي او له هغه څه دې واړوي چې تا ته مو دروحي کړي، په دې توګه چې د وحي خلاف خبره له ځانه موږ ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نژدې دوست نيولې. او که مو مضبوط کړی نه وی نو يقيناً چې نژدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمايل شې؛ چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګ وروسته هم دوه برابره، بيا به دې زموږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

په دې آيتونو کې داسې له عتابه ډکې صيغې مومو چې نظير ئې په ټول قرآن کې نه شو موندلی!! رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي: که د دښمن دا غوښتنه دې منلې وی چې په الهي وحي کې د لږ قدري تغيير مطالبه ئې کوله او له ځانه دې څه ويلي وی نو هم به مو په دنيا کې تا ته دوه برابره عذاب درڅکلی وو او هم په آخرت کې!! خو د الله تعالی د پېرزويني له امله پر خپل دريځ ثابت او ټينګ پاته شوې او د دوی غلطې غوښتني ته تسليم نه شوې!!

دا آيت د قريشو هغو مسلسلو غوښتنو ته اشاره کوي چې رسول

الله صلی الله علیه و سلم ته به ئې په وار وار او په بېلو بېلو الفاظو ویل: زموږ د معبودانو په ضد له څه ویلو ډډه وکړه، داسي څه ووایه چي ټول پرې راغونډ شو، د تلفیق او روغي جوړي کوم مناسب صورت راپیدا کړه، لږ ته راکوز شه او لږ به موږ او په دې سره به د دښمنیو او مخالفتونو دا لړۍ پای ته ورسوو!! خو ګورئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په دې اړه الهي لارښوونه څنګه وه او په کومو الفاظو ئې له داسي روغي جوړي منع کړی!! ګورئ چي د پیغمبرانو علیهم السلام دنده څومره حساسه ده او په دې دروند الهي مأموریت کې د معمولي اشتباه پایله څومره جدي او هیبتناکه!! ګورئ چي د دښمن د خوشحالولو او ارضاء لپاره معمولي تنازل څنګه د الله تعالی د سخت غضب سبب ګرځي!! همدا راز ګورئ چي که د دښمن لوري ته ډېر لږ تمایل دومره جدي نیول کېږي او د داسي سختي مؤاخذې وړ ګڼل کېږي، له دښمن سره د مصالحې او سازش عاقبت به څنګه وي؟!! او ګورئ چي د وحي په رسولو کې د پیغمبر مسئولیت څومره دروند او حساس دئ او محاسبه ئې څومره جدي؟!!!

متأسفانه ځیني د دې دواړو له تفکیك عاجز دي؛ د پیغمبر علیه السلام هره وینا او کړنه؛ حتیّٰ هغه چي بشپړه انساني منشأ لري؛ او له رسالت سره ئې هیڅ تعلق نشته؛ د وحي په ضمن کې نیسي!! داسي چي د ده بشري حیثیت او هغه واك او اختیار چي الله تعالی ده ته د یوه انسان په توګه ورکړی؛ هغه هم ترې سلبوي. دا چي رسول الله صلی الله علیه و سلم څه ډول او کوم رنګ جامه، کوم خوراك او کوم څښاك خوښولو، هره ورځ به ئې له لسګونو خپلو او پردیو سره لیدل او هر یوه ته به ئې څه ویل، څوك به ئې د دعوت لپاره کومي سیمي ته لېږلو او لازمي سپارښتني به ئې ورته کولې، د دښمن خلاف د کوم ټولي لېږل به ئې ضروري وګڼل؛ غړي به ئې ورته غوره کړل او لازم هدایات به ئې ورکړل؛ دې ته ورته ډېر نور کارونه ئې داسي وو چي له وحي سره هیڅ تړاو نه لري او د هر یوه په ارتباط بېله وحي نه ده پرې نازله شوې؛ د

خپل فراست له مخي او په خپله خوښه او اختيار ئې ترسره کړي.

د ده نبوي حيثيت داسي دئ:

مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿٨٠﴾ النساء

څوك چي د پيغمبر اطاعت وکړي؛ په حقيقت کي ئې د الله اطاعت کړی او څوك چي مخ واړوي نو ته مو پردوی څارونکی نه يې لېږلی.

د پيغمبر اطاعت په حقيقت کي د الله اطاعت دئ او د ده مخالفت له الله سره مخالفت، پيغمبر د الله استازی دئ؛ دنده ئې دا ده چي د الله پيغام خلکو ته ورسوي، هغه د خلکو څارندوی نه دئ، له ده دا پوښتنه نه کېږي چي ولي ئې خلك له مخالفت منع نه کړی شو، مکلفيت ئې دا دئ چي خلکو ته د الله دين ورسوي او د حلال او حرام کرښي وروښيي؛ دی چي څه حلال او حرام گڼي؛ فقط همغه دي چي الله په خپل کتاب کي حلال او حرام کړي.

قُلْ لا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلَيَّ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَفَلا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾ الأنعام

ووايه: زه نه درته وايم چي د الله خزانې له ما سره دي او نه په غيب پوهېږم او نه دا درته وايم چي زه فرښته يم، زه يوازي د هغه څه متابعت کوم چي راته وحي کېږي. ووايه: آيا ړوند او سترگور سره برابر دي؟ آيا تفکر نه کوئ؟

د دې آيت مهمي لارښووني دا دي:

- پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي خلکو ته ووايي: د الله تعالی د خزانو واك له ما سره نه دئ، تاسو ته نه وايم چي که له ما سره ملگرتيا وکړئ، ټول مالي او اقتصادي حاجتونه مو پوره کوم او ټولي غوښتني مو تر سره کوم، په دې هيله زما ملگرتيا مه کوئ، له ما دا انتظار مه لرئ،

الله تعالی د خپلو خزانو ټولواك دئ، دا پرېکړه هغه کوي چې چا ته څه ورکړي، د هغو جاهلانو په خبر مه کېږئ چې گمان کوي پيغمبران او اولياء الله بايد داسي وي چې د دوی په يوې اشارې سره د ډبرو غرونه په سرو زرو بدلېدی شي، په يوې دعاء سره ئې د زمکې لاندي خزانې بهر راوځي، هر چا ته هر څه ورکولی شي، حاجتونه ئې پوره کولی شي، ځيني همداسي گمان کوي؛ او دا انتظار به هم له داسي چا لري چې هغه به د ده جيب ته سترگې نيولې وي؛ ټولې شتمنۍ به ئې د دغو غولېدلو له شکرانو تر لاسه کړې وي!! رزق او روزي به ئې د مريد له جيبه وي؛ مريد به ئې گمان کوي چې له سختو بيماريو ئې ژغورلی شي؛ د نړۍ ټول ډاکټران چې د چا له علاجه عاجز شوي وي؛ د آغا جان يو دم او دعاء کافي ده چې روغ ئې کړي؛ دا په داسي حال کي چې آغا جان به د زکام د علاج لپاره هم ډاکټرانو ته درومي؛ که په وطن کي ئې علاج ونه شو نو اروپا او امريکا ته به ځي!! عجيبه ده؛ څوك چې د ځان د عادي مرض علاج نشي کولی بل له همدې محتاج انسان د خپلو سختو بيماريو د علاج طمع لري!!! گورئ چې پيغمبران عليهم السلام په هغو ټگمارو سياسي مشرانو قياس نه کړئ چې د خلکو د غولولو لپاره دروغجني وعدې کوي، شنه باغونه ورښيي، د سوکالي او ښه ژوند دروغجني ژمني ورسره کوي، زه په واضح الفاظو تاسو ته وايم چې د الله تعالی په خزانو کي هيڅ واك او اختيار نه لرم.

- دوی ته ووايه: زه په غيب نه پوهېږم، له ما دا انتظار مه لرئ چې درته ووايم: سبا به څه کېږي، له ما او له تاسو سره به الله تعالی څه کوي، پيغمبران عليهم السلام د هغو غولوونکو مذهبي مشرانو په څېر مه گڼئ چې خلك په دې دوکه کوي چې په غيب پوه دي، د دوی له مقدراتو خبر دي، پوهېږي چې کوم مصيبت ورته انتظار کوي او څنگه ترې ژغورل کېږي، دوی کولی شي په دم او تعويذ سره د دې مصيبتونو مخه ونيسي، په دې شرط چې په شکرانو سره د دوی جيب ورډك او رضاء تر لاسه کړي، پيغمبران په غيب د پوهېدو دعوی نه کوي، دا يوازي

ټګماران دي چي د جاهلانو په وړاندي او د هغوی د غولولو لپاره په غیب د پوهېدو ادعاء کوي.

- ورته ووایه: زه تاسو ته نه وایم چي فرشته یم، په واضحو الفاظو درته وایم چي زه انسان یم، له نورو انسانانو سره مي توپیر یوازي په دې کي دئ چي د الله تعالی له لوري راته وحي شوې او زه د الهي وحي متابعت کوم.
- ځوك چي د الهي وحي په رڼا کي خوځي، د هغه چا په پرتله چي له دې رڼا محروم دئ، داسي دئ لکه سترګور د ړوند په پرتله، خو د دوی تر منځ دا ژور توپیر؛ د عقل او فکر خاوندان درك کولی شي.

دې ته مو باید پام وي چي په وحي سره له غیبي امورو اطلاع علم غیب نه دئ، په یوه آیت کي او یو په بل پسي (په غیب نه پوهېدل) او (د وحي متابعت) راوړل دا مطلب افاده کوي چي که پیغمبر علیه السلام د وحي په اساس له غیب او غیبي امورو خبري کوي نو دا د ده علم غیب نه، بلکي د الله له لوري وحي ده، داسي نه چي د وحي له لاري د غیبي امورو په اړه څه ویل، د پیغمبر علم غیب وګڼل شي.

د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي ویل شوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ویلي: زه خو فقط د هغه څه متابعت کوم چي زما د رب له لوري راته وحي شوي؛ او په دې کي قرآن ته اشاره شوې او ښیي چي له وحي ئې مراد فقط د قرآن متابعت دئ؛ لکه چي په دې آیت کي راغلي:

وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِمْ بِآيَةٍ قَالُوا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَى إِلَيَّ مِنْ رَبِّي هَذَا بَصَائِرُ مِنْ رَبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾ الأعراف

او کله چي ته کوم آیت ورته رانه وړې، وایي: ولې دي غوره نه کړ؟ ووایه: زه خو فقط د هغه څه متابعت کوم چي زما د رب له لوري راته وحي شوي، دا (قرآن) ستاسو د رب له لوري د بصیرت او پوهي وسیله او د مؤمنانو لپاره لارښود او رحمت دئ.

يعني مخاطبينو به له رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپلې خوښې معجزې غوښتې، چې داسې معجزه به ورته وړاندې نه شوه نو دوی به ويل: ولې ئې نه شې وړاندې کولی؟ پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې دوی ته ووايې: زه هغه څه کوم چې د الله تعالی له لوري پرې ګمارل شوی يم، هغه څه تاسو ته وايم چې ما ته ئې وحي شوې، دغه قرآن چې پر ما نازل شوی؛ د پوهې او بصيرت منبع او د هغه چا لپاره لارښود او الهي پېرزوينه او رحمت دئ چې ايمان راوړي؛ يعني وحي او قرآن يو د بل مترادف ګڼل شوي. ځکه د آيت په سر کې ويل شوي چې زه يوازې د وحي متابعت کوم او په پای کې ويل شوي: دا الهي کتاب هر ايمان راوړونکي ته د بصيرت منبع، بشپړ لارښود او الهي پېرزوينه ده، عجيبه ده چې تاسو د داسې قرآن په شتون کې بله معجزه غواړئ!!

ښايي د رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه خوب او رؤيا د دې مطلب په ښه پوهېدا کې ستاسو مرسته وکړي چې د حديبيې تر معاهدې وړاندې ئې ليدلی وو او قرآن په دې توګه بيان کړی:

لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ الفتح

يقيناً چې الله د خپل رسول حقيقي خوب رښتينی کړ، حتماً به مسجد الحرام ته په داسې حال کې خوندي او په امن سره ننوځئ چې (له عمرې وروسته به) خپل وېښتان يا خريئ يا لنډوئ، نه به وېرېږئ؛ نو په هغه څه پوه شوی چې تاسو پرې پوه نه ياست، تر دې وړاندې ئې بله نژدې بريا مقدره کړې.

دا د الفتح سورې ٢٧ آيت دئ؛ د دې سورې د نزول شاليد داسې دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه شپه په خوب کې ليدلي چې د عمرې لپاره مکې ته تللی، د خوب تعبير ئې داسې وو چې د عمرې سعادت به د ده او د ده د يارانو په برخه شي، دا رښتينې رؤيا ئې له

ځينو يارانو سره شريکه کړې، له يوې خوا د رسول الله صلی الله عليه و سلم رؤيا او له بلې خوا د عمرې او مکې ته تگ شوق په دې منتج شو چې دې سفر ته تيارى ونيسي، په ظاهر کې ظروف او شرائط د دې کار لپاره نه يوازې چمتو نه وو بلکې دا يو ډېر خطرناك تصميم معلومېدو، د کينه کښ او سخت زړي دښمن تر ولکې لاندې مکې ته ننوتل او هغه هم د عمرې په موخه او له کافي جنگي وسائلو پرته؛ ډېرې خطرناکې پايلې درلودی شوې، د عمرې په سفر کې ئې يوازې يوه توره له ځان سره وړلی شوه، داسې سيمې ته تلل چې استوگن ئې په وار وار له دوی سره جنگېدلي، دوی ئې له خپل کور کلي ايستلي، په مدينه کې ئې هم آرام نه دي پرېښي او پر دوی ئې بريدونه کړي، په داسې خطرناکو ظروفو او شرائطو کې د دښمن تر سلطې او واك لاندې سيمې ته ننوتل داسې تصميم وو چې منافقينو او مشرکينو هغه له ځان وژنې سره مترادف کار گڼلو.

نژدې څوارلس سوه هغه مؤمنان دې سفر ته چمتو شول چې د الله تعالی په لار کې او د رسول الله صلی الله عليه و سلم په ملگرتيا کې ئې هر خطر او ضرر منلی او هرې قربانۍ ته چمتو وو، د شپږم هجري کال د ذي القعدې په مياشت کې د مؤمنانو دا قافله د مکې په لور وخوځېده، د قربانۍ څاروې ورسره وو، ذو الحليفې ته په رسېدو سره ئې احرامونه وتړل، د قافلې له ټمځاى د اللهم لبيك زړه راښکونکې نعرې اورېدل کېدې، هر څوك پوهېدو چې دا قافله د عمرې لپاره خوځېدلې، د عام دود او قاعدې مطابق له هر چا سره يوازې يوه يوه توره او هغه هم په تېکي کې وه؛ او دا په داسې حال کې چې يو کال وړاندې د عربو ستر لښکر د قريشو تر مشرۍ لاندې پر مدينې بريد کړی وو، نژدې يوه مياشت ئې مدينه محاصره کړې وه، خلك حيران وو چې اوس به څنگه د قريشو دا دښمنان تش لاس او له جنگي وسائلو او تياري پرته او د قريشو له موافقې پرته د دوی تر واك او سلطې لاندې مکې ته ولاړ شي او عمره به اداء کړي!!

قريشو په حديبيه کې د دوی مخنيوی وکړ؛ جنگياليو ئې څو ځلې

داسي شرارتونه وکړل چي نژدې وه په خونړۍ جګړې منتج شي؛ خو رسول الله صلی الله علیه و سلم په درایت او فراست سره وضعیت مهار کړ؛ په پای کي خبره تر یوې داسي معاهدې ورسېده چي یو بند ئې دا وو: مسلمانان به سږ کال عمره نه کوي؛ راتلونکي کال کي کولی شي عمره وکړي خو له یوې توري پرته به نور جنګي وسائل ورسره نه وي.

د دې معاهدې د لاسلیك په وخت کي مسلمانان ډېر پرېشان او مضطرب ول، هر چا ته د هغو سترو مصلحتونو او حکمتونو درك کول ګران وو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته په پام سره دا معاهده ومنله، ډېرو داسي انګېرله چي په دې معاهدې کي قریشو ته زیات امتیازات منل شوي، په ځانګړې توګه دا بند ئې چي که په دې مودې کي د قریشو کوم کس وتښتي او مسلمانانو ته پناه یوسي بېرته به قریشو ته مسترد کېږي، خو که له مسلمانانو څوك قریشو ته پناه یوسي دوی ته به نه مسترد کېږي. مسلمانان له دې پلوه هم مضطرب ول چي د معاهدې یو بند د هغي رؤیا او خوب خلاف دئ چي د عمرې په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم لیدلی، رسول الله صلی الله علیه و سلم د دغو دوو تشویشونو په اړه ویل: هغه څوك چي له قریشو موږ ته راځي او بېرته هغوی ته سپارل کېږي الله تعالی به د نجات بله لار ورته پرانیزي؛ او څوك چي له موږ دوی ته پناه وروړي هغه زموږ په کار نه دئ او ښه ده چي الله تعالی ئې له موږ بېل کړي؛ او د خوب په اړه ئې هغوی ته ویل: که دا رؤیا سږ کال ترسره نه شوه راتلونکي کال کي به ترسره شي، ما ته په خوب کي دا نه وو ویل شوي چي تاسو به سږ کال عمره کوئ، په دې مبارکي سورې کي هم د خوب په اړه ویل شوي چي الله تعالی هغه رښتینی کړ او تاسو به په ډاډ او اطمئنان سره مسجد الحرام ته داخل شئ. له دې رؤیا بیا تر هغه چي له حدیبیې د ستنېدو په دوران کي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم د الفتح سوره نازله شوه؛ ده ته بله وحي نه ده نازله شوې؛ په داسي حال کي چي دا یو مهم سفر وو او په یوې تاریخي پېښي او مهمي معاهدې منتج شوی؛ پیغمبر

عليه السلام له خپلي رؤيا ځان ته تعبير او تفسير درلود؛ د همدې تعبير له مخي ئې عمل کړی؛ يارانو ئې هم د همدغي رؤيا له مخي په دې خطرناك سفر کې د ده ملګرتيا وکړه؛ رؤيا وحي ته ورته الهام دئ؛ لکه چي دلته د رؤيا په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم تعبير موږ ته انځور شوی؛ ګمان ئې کړی چي همدا کال به د عمرې سعادت ورپه برخه شي؛ خو په اصلي تعبير ئې هغه مهال پوه شو چي د الفتح سوره نازله شوه او په هغې کې ورته لارښوونه وشوه چي خوب دي رښتينی شو؛ دا راتلونکی کال به په ډاډ او اطمئنان سره عمره وکړئ؛ دا دئ قريشو ومنله چي تاسو کولی شئ راتلونکی کال عمره وکړئ. د قرآن اړوند وحي هم دغسي ده؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په وحي سره آيتونه راغلي؛ دی ئې په معنی او تفسير سم پوه شوی، په دقيقه توګه ئې امت ته د بيانولو توفيق او وړتيا ورکړی شوې؛ هم ئې قرآن له هيڅ تغيير پرته امت ته رسولی او هم ئې په قول او عمل سره د هغه شرح او تفسير خلکو ته بيان کړی؛ له رؤيا سره ئې توپير په دې کې دئ چي د رؤيا تعبير په خپله پيغمبر عليه السلام ته پرېښودل شوی؛ خو د قرآن وحي داسي ده چي الله تعالی ئې په سمه او دقيقه توګه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ژبه د بيانولو او تفسيرولو ذمه هم وهلې؛ په دې کې د ده رسول او پيغمبر هيڅ اشتباه نه کوي.

په دې مبحث کې يوه بله مهمه اعتقادي لارښوونه هم د قرآن مخاطبينو مخي ته ايښودل شوې؛ او هغه دا چي نه رسول الله صلى الله عليه و سلم پوهېدو چي د دې سفر پايلي به څه وي او نه د ده خدای پال، متقي او په دين پوه ياران؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوې رؤيا له مخي د دې سفر او عمرې پرېکړه شوې؛ د ټولو طمع دا وه چي دا رؤيا به په همدې سفر کې تحقق مومي او دوی به د عمرې أداء کولو سعادت تر لاسه کوي؛ خو داسي ونه شول؛ او دا موږ ته ښيي چي په زمکي او آسمان کې له الله متعال پرته هيڅوك په غيب او په دې نه پوهېږي چي سبا به څه کېږي او دی به له کومو پېښو سره مخامخ کېږي.

هر څوك چي د دې خلاف خبره کوي؛ دروغ وايي او ادعاء ئې د قرآن د ګڼ شمېر آیتونو او لاربښوونو خلاف ده.

او دا چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د احکامو او اوامرو په صادرولو کې هیڅ ونډه نه لري؛ او دا فقط الله تعالی ته مختص دي؛ په دې اړه الله تعالی فرمايي:

لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ ﴿۱۲۸﴾ آل عمران

د دې امر او حکم هیڅ څه په تا پوري اړه نه لري؛ یا به ئې توبه قبلوي او یا به ئې د دې لپاره تعذیبوي چي ظالمان دي.

یعني الله تعالی د اوامرو او پرېکړو په صادرولو کې هیڅوك؛ د پیغمبر علیه السلام په شمول؛ له ځان سره نه دئ شریك کړی؛ دا په الله پوري اړه لري چي د چا توبه قبلوي او چا ته عذاب ورکوي، دا یوازي د الله کار دئ.

په روایاتو کې راغلي چي د احد په جګړې کې پیغمبر علیه السلام له زخمي کېدو وروسته او په داسي حال کې چي د خپل زخمي مخویني ئې پاکولې؛ وفرمایل: هغه قوم به څنګه نجات ومومي چي د خپل پیغمبر مخ ئې په وینو سور کړ!! په داسي حال کې چي هغه ئې د الله لوري ته بلي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ كُسِرَتْ رَبَاعِيَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَشُجَّ، فَجَعَلَ الدَّمُ يَسِيلُ عَلَى وَجْهِهِ، وَجَعَلَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهِ، وَيَقُولُ: «كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ خَضَبُوا وَجْهَ نَبِيِّهِمْ بِالدَّمِ، وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ؟» فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ {لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ} [آل عمران: ۱۲۸] " سنن ابن ماجه

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَشُجَّ

وَجْهُهُ شَجَّةً فِي جَبْهَتِهِ حَتَّى سَالَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِهِ، فَقَالَ: «كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ فَعَلُوا هَذَا بِنَبِيِّهِمْ وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ؟» فَنَزَلَتْ: {لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَىْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ} (آل عمران: ۱۲۸) إِلَى آخِرِهَا. سنن الترمذی

الله تعالی د دغي خبري په ځواب کي وفرمایل: د بخښني او عذاب پرېکړه به زه کوم نه ته؛ د پرېکړو، قضاوتونو، احکامو او اوامرو صادرول زما مختص او ځانګړی صفت دئ؛ په دې کي نه ته شریك یې او نه بل څوك؛ الله تعالی د خپل علم له مخي او د خپلو سننو مطابق فیصله کوي چي له کوم بنده سره کومه معامله وکړي.

له همدغو قریشو چي د احد په جګړې کي د کفر تر بیرغ لاندي جنګېدل؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې له نجات او فلاح مأیوس شوی وو؛ ډېرو ئې ایمان راوړ، الله تعالی هدایت کړل او د الله په لار کي ئې د سترو کارونو توفیق ورکړ؛ خالد بن ولید ئې یو ښه مثال دئ.

دې ته مو پام وي چي موږ پیغمبر د الله تعالی د استازي او رسول په توګه منلی؛ د ده اطاعت ځکه کوو چي دا په حقیقت کي د الله تعالی اطاعت دئ؛ دا د چا ذاتي اطاعت نه دئ د هغو اوامرو اطاعت دئ چي د الله تعالی له لوري د ده په لاس موږ ته رارسېدلي؛ دا هم په پام کي ولرئ چي د نړۍ ټول انسانان؛ د پیغمبرانو په شمول؛ او دا زموږ زمکه، لمر، سپوږمۍ، شمسي نظام؛ او زموږ ټول ستور لیکي (کهکشان)؛ د الله تعالی په دې ستر ملك کي؛ دومره دئ لکه د انسان د وېښته وړوکی سر؛ ډېرو خپل ستر رب هېر کړی او یو وړوکی انسان ئې د هغه ځای ناستی کړی؛ مسیحیانو له عیسی علیه السلام سره همدا وکړل؛ یهودانو له عزیر علیه السلام سره، بودایانو له بودا سره، علویانو له علي رضي الله عنه سره، کربلایانو له امام حسین رضي الله عنه سره او ډېرو سنیانو ته منسوبو افراطیونو له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره. خپل انساني معبودان ئې په الوهیت او ربوبیت کي له الله تعالی سره شریك کړل او په هغو صفاتو ئې وستایل چي الله تعالی ته مختص دي؛

خلقت، امر، حکم، ملك، حلال او حرام ټاکل، په غيب پوهېدا او نور الله ته مختص صفات.

دا چي په قرآن کي په مکرره توګه راغلي: د پيغمبر دنده فقط د وحي او د الله تعالی له لوري د لېږل شوو لارښوونو او احکامو متابعت دئ؛ او بس؛ د همدې لپاره دي؛ لکه د قرآن دا آيتونه چي فرمايي:

وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ يونس

او کله چي زموږ څرګند آيتونه پرې ولوستل شي؛ هغه چي زموږ د ملاقات هيله نه لري وايي: له دې پرته کوم بل قرآن راوړه يا ئې بدل کړه! ووايه: ما ته نه ښايي چي له خپلي خوا ئې بدل کړم، زه خو يوازي د هغه څه متابعت کوم چي ما ته ئې وحي کېږي. يقيناً چي زه خو د يوې ستري ورځي له عذاب وېرېږم که له خپل رب سرغړاوی وکړم.

دا آيت ښيي چي قريشو له پيغمبر عليه السلام بل قرآن او يا په همدې قرآن کي تغييرات غوښتل؛ ده په ځواب کي ورته ويلي: دا قرآن د الله تعالی له لوري پر ما نازل شوی؛ زه فقط د همدغه قرآن متابعت کوم؛ نه يوازي د بدلولو اختيار ئې نه لرم بلکي له دې وېرېږم چي که د قرآن له لارښوونو سرغړونه وکړم؛ نو له ستر الهي عذاب سره به مخ کېږم.

پېغمبر عليه السلام ته امر شوی چي مخالفينو ته ووايي:

قُلْ إِنِّي عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَكَذَّبْتُمْ بِهِ مَا عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ إِنِ الْحُكْمُ إِلا لِلَّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ ﴿٥٧﴾ الأنعام

ووايه: زه خو د خپل رب په څرګند دليل (متکي) يم، په داسي حال کي چي تاسو همدا (څرګند قرآن) تکذيب کړ، له ما سره هغه څه نشته چي تاسو ئې په تلوار غواړئ، د پرېکړي واك خو يوازي له الله سره دئ، چي حق بيانوي او هغه تر ټولو غوره فيصله کوونکی دئ.

په دې آيت سره رسول الله صلى الله عليه و سلم مكلف شوى چې ووايي:

- زه په هغې لارې او د هغه قرآن مطابق روان يم چې زما رب راښودلى.
- د خپلې لارې د حقانيت په اړه څرګند دلائل لرم.
- او تاسو بيا داسې يئ چې دا حقيقت تكذيبوئ.
- له ما په تلوار سره غوښتنه كوئ چې يا د الله تعالى د وعد او وعيد رښتينوالى ثابت كړم او عملاً ئې دروښيم او يا په دين كې ستاسې د خوښې تبديلې او تغيير راوړم او يا بل قرآن وړاندې كړم؛ دا يو هم زما په واك كې نه دئ.
- اصلي حَكَم او حاكم خو يوازې الله تعالى دئ، هغه ټول حقائق بيان كړي او هغه تر ټولو غوره حُكم كوونكى دئ.

دا او دې ته ورته آيتونه په ټول صراحت سره ښيي چې پرېكړې يوازې د الله تعالى له لورې كېږي او د پيغمبر عليه السلام دنده فقط د پرېكړو او لارښوونو ابلاغ او عملي كول دي.

د دغو څرګندو دلائلو په رڼا كې په بشپړ يقين او اطمئنان سره ويلى شو چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم (قولي او عملي) سنت ته بايد د قرآن د شرحې او تفسير په سترګه وګورو نه د مستقلې وحې په سترګه، هغه رأيه صحيح او د قرآن د وينا مطابق ده چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته قرآن وركړى شوى او د قرآن دقيق او رښتينى فهم؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم حديث د قرآن شرح او تفسير دئ. هغه رأى بې بنسټه او له ځانه جوړه شوې رأيه ده چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته پر قرآن سربېره نوره وحي هم شوې او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوب هره وينا او حديث د دې وحي مظهر دئ. دا غلطه رأى؛ نه په قرآن كې كوم شاهد لري او نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په صحيح احاديثو كې؛ له ځانه اختراع شوې ادعاء ده.

دا ادعاء اکثراً د هغو له لوري شوې چي په خرافاتو باور لري؛ د توجیه لپاره ئې دلائل لټوي؛ په قرآن کي نه یوازي داسي دلائل نشي موندلی بلکي خپل خرافات د څرګند قرآني لارښوونو خلاف مومي؛ له خرافاتو لاس نشي اخیستلی؛ ځکه روزي ئې ورپوري تړلې ده؛ غواړي له دې مخمصې د جعلي او ضعیفو روایاتو او قصو په مرسته ووځي؛ او ناچار دغو روایاتو ته به د مستقلي وحي نوم ورکوي. یو مثال ئې وړاندي کوم: د یوه دېوال سیوري ته ناست کوډګر او تعویذ ګر؛ د جادو دفع کولو، په تعویذ سره د حاجتونو ترسره کولو ادعاء کوي؛ همدا ئې دکان او د خرڅلاو متاع ده، روزي ئې ورپوري تړلې ده؛ دا ټګمار دې ته ضرورت لري چي جادو او تعویذ او تأثیر ئې په څلورو کتابونو او څلورو مذاهبو ثابت کړي؛ نو خپل ساده او له عقل پوروړي مشتري ته وایي: د سلیمان علیه السلام ټوله ستره پاچاهي د یوې جادویي ګوتې له کبله وه!! پر رسول الله صلی الله علیه و سلم جادو شوی وو؛ دومره چي خبري به ترې هېرېدې او ګډې وډې کېدې؛ سِحر حق دئ او انکار ئې کفر!! که ده ته سل ځله ووایي: الله تعالی او د هغه رسول د سِحر په اړه ویلي چي سحر هسي یوه دوکه ده؛ نه کوډګر په سحر سره چاته ضرر رسولی شي او نه ځان او بل ته ګټه؛ قرآن جادو کول او له جادوګر مرسته غوښتل؛ له کفر سره مترادف ګڼي او هغوی ته وایي: فلا تکفر: مه کافر کېږه. دا خبري نه پر دې ټګمار کوډګر څه تأثیر لري او نه ئې درسره مني. هغه چي ځان ته دینپال وایي خو په خرافاتو کي تر ستوني غرق دي؛ د دغه کوډګر په څېر دي؛ منطق ئې هم دې کوډګر او تعویذګر ته ورته او د قرآن له څرګندو آیتونو سره د دوی مخالفت هم د هغه مخالفت ته ورته.

هیڅکه باید د قرآن په اړه دا تصور زموږ ذهن کي راونه ګرځي او داسي څه ونه وایو چي ګویا قرآن کافي نه دئ، دا باور مو باید هیڅکله خلل ونه مومي چي قرآن د هدایت داسي ځلانده ډېوه ده چي انسان ته د ژوند په ټولو فکري او عملي برخو کي کافي او شافي دئ، په قرآن کي هر څه راغلي، دا د قرآن په اړه د الله تعالی وینا او لارښوونه ده؛ او د

رسول الله صلی الله عليه و سلم وينا ده؛ ځوك چي له قرآن پرته په بل ځه کي هدايت لټوي الله تعالی ئې بې لاري کوي:

.... وَمَنْ يَبْتَغِي الْهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللهُ.... حلية الأولياء

د حديث په اړه بايد زموږ عقيده دا وي چي صحيح حديث د قرآن شرح او تفصيل دئ، رسول الله صلی الله عليه و سلم د قرآن حامل، شارح، معلم او مفسر دئ، دنده ئې خلکو ته د قرآن رسول دي، وحي په قرآن کي راخلاصه شوې، ځه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وحي شوي ټول په قرآن کي راغلي، د رسول الله صلی الله عليه و سلم ټولي رسولانه ويناوي او کړني د قرآن مطابق دي، داسي صحيح حديث نشته چي منشأ ئې په قرآن کي نه وي، هغه روايت چي له قرآن سره تعارض ولري؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې منسوبول ستر جهالت دئ، ټول فقهاء او محدثين په دې متفق دي چي صحيح حديث هغه دئ چي نه له قرآن سره تعارض ولري او نه له عقل سره. هغه وينا چي قرآن ته نقص منسوبوي؛ په دېوال ووهئ؛ داسي وينا د هغو ضاله ډلو تبر ته لاستی برابروي چي قرآن شا ته غورځوي او په جعلي رواياتو پوري ښنلي (نښلي)، دا نه يوازي بد عواقب لري بلکي د قرآن د صريحو او ځرگندو آيتونو خلاف وينا ده.

هغو ته چي حديث ته د غير متلو وحي يا وحي خفي نوم ورکوي او قرآن د وحي جلي او وحي متلو په نامه يادوي؛ وايو: دا تسميه او نومَوَني د چا له لوري شوې او دا نومَوَنه د چا اختراع ده؟ په قرآن او حديث کي خو په قطعي توگه دا نومَوَني نشته، ولي دې ته د غير متلو نوم ورکوئ؟ غير متلو خو هغه ځه ته ويل کېږي چي ځوك ئې په خوله نه تکراروي او له لوستلو او ويلو ئې ډډه کوي!! تاسو ولي وحي ته د جلي صفت ورکوئ؟ پر وحي د جلي اطلاق په بشپړه توگه غلط اطلاق دئ؛ وحي هغه رمز او اشارې ته وايي چي د جلي خلاف او خفي وي!! يو ځوك پاځېدلی او له ځانه ئې دا اصطلاحات رااېستلي او ته اوس داسي پرې ټينگ يې چي د قرآن تر آيت هم درته مهم برېښي!! جنابه! ستا ئې

خوښه خو موږ دا اصطلاحات درسره نه منو ځکه په بشپړه توګه او له هره پلوه غلط دي!!

دې ته مو پام وي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم له رحلت وروسته ډېر غلط افکار او باورونه په مسلمانانو کي خواره شول، همغسي لکه چي تر ده وړاندي د نورو پیغمبرانو له رحلت وروسته د دوی په امتونو کي خواره شوي؛ تر پیغمبر علیه السلام وړاندي؛ عیسی علیه السلام چي هم تورات ورکړل شوی وو او هم انجیل؛ له دې کتابونو د هغه له رحلت وروسته؛ هیڅ څه نه دي پاته شوي، حتی د هغو کتابونو یوه جمله به هم تاسو په هغه کتاب کي ونه مومئ چي عیسی علیه السلام ته منسوب دئ؛ په بایبل کي؛ د مخکینیو الهي کتابونو یوه روغه او بشپړه برخه او حتیّ جمله هم نشته، ټول خرافات، قصې، شجرې او جعلي روایات دي، آیتونه ئې هېر کړي او روایات ئې راوړي، نن د تورات او انجیل اصلي نسخي اصلاً په ټولي نړۍ کي نشته؛ تورات، انجیل او زبور ډېر وړاندي په بشپړه توګه له منځه وړل شوي، ځای ئې هغه بایبل نیولی چي د یهودانو او مسیحیانو دښمنانو لیکلی؛ او په هغه کي د یهودانو پر ټولو پیغمبرانو سخت اخلاقي تورونه لګېدلي؛ داسي تورونه چي نه یوازي د یوه پیغمبر له شأن ډېر لري دي بلکي عادي انسانانو ته ئې منسوبول هم د شرم او حیاء له پولو تېرېدل ایجابوي. ځینو به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته له قرآن پرته نوره وحي هم شوې، خو هغه ئې یا پټه ساتلې یا ئې ځینو خاصو وګړو ته ویلې، ګواکي وحي په قرآن کي نه راخلاصه کېږي؛ ځینو به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی، ځینو به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب پوهېدو!! عائشې رضي الله عنها د دغو غلطو او د قرآن خلاف افکارو او باورونو د تردید لپاره مسروق رضي الله عنه ته وویل: د دې خبري په اورېدو مي وېښتان زیږ شول، رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ نه خپل رب په خپلو سترګو لیدلی، نه له قرآن پرته داسي وحي شته چي له خلکو ئې پټه ساتلې وي او نه په غیب پوهېدو. چا چي دا خبري

وکړې ستر دروغ ئې ويلي!! روايت داسي دئ:

... قَالَ مَسْرُوقٌ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ فَقَالَتْ لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَيْءٍ قَفَّ لَهُ شَعْرِي قُلْتُ رُوَيْدًا ثُمَّ قَرَأْتُ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى) قَالَتْ أَيْنَ يُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِي قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ) فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلاَّ مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِي جِيَادٍ لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الأُفُقَ. الترمذى

... مسروق وايي: عائشې رضي الله عنها ته ورغلم ومي ويل: آيا محمد (عليه السلام) خپل رب ليدلی؟ وئې ويل: داسي خبره دي وکړه چي وېښتان مي ورته زيږ شول، ومي ويل: لږ حوصله وکړه، بيا مي دا آيت تلاوت کړ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى...)، وئې ويل: چېري ئې بېولی يې؟ دا خو جبرئيل وو، چا چي درته ووېل: محمد عليه السلام خپل رب ليدلی، يا ئې له هغه وحي کوم څه پټ کړي چي پر ابلاغ ئې مأمور شوی او يا په هغو پنځو شيانو پوهېږي چي الله تعالی د هغوی په اړه فرمايلي:

إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿٣٤﴾ لقمان

نو ستره بدغوني خبره ئې کړې (ستر دروغ ئې ويلي)، خو هغه جبرئيل ليدلی، په خپلي اصلي بڼې کې ئې يوازي دوه ځلي ليدلی، يو ځل په سدرة المنتهی کې او بل ځل په جياد کې؛ شپږ سوه وزري ئې وې، ټول افق ئې پوښلی وو.

په دې اړه له علي رضي الله عنه هم پوښتنه شوې او ورته ويل شوي:

آيا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اهل بيت کې له تا يا بل چا سره له قرآن پرته بل کتاب هم شته؟ د پوښتني موخه دا وه چي آيا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي وحي هم شوې چي تا يا کوم بل خاص کس ته ئې ويلي وي او په قرآن کې د هغې په اړه څه نه وي ويل شوي؟ وئې ويل: نه؛ مګر د الله کتاب او هغه پوهه چي يوه مسلمان سړي ته په برخه کېږي...

حقيقت دا دئ چي د ټولو جعلي، خرافي او غلطو مذاهبو بنسټ پر دې دروغجني ادعاء ايښودل شوی چي وايي: د الله کتاب کامل او کافي نه دئ؛ او الله تعالی نور داسي احکام هم لېږلي چي په قرآن او نورو الهي کتابونو کې ئې يادونه نه ده شوې، هر ټګمار خپل غرضي افکار او هغه غلط آراء چي د الله تعالی له کتاب سره په بشپړه توګه تعارض لري؛ همداسي وحي ګڼلي او ساده عوامو ته ئې ويلي: دا هم د الله تعالی له لوري وحي شوي که څه هم په الهي کتاب کې نه دي راغلي!!! د قاديانت بنسټ په همدې غلط بنياد ايښودل شوی، د شيعه مذهب بنسټ همدا باور دئ، د متصوفينو مشرب او مسلك همدا دئ، ټول له دې سره په کلکه مخالفت کوي چي د الله تعالی کتاب وروستی معيار او محك وګڼل شي او وحي په قرآن کې خلاصه کړی شي. که تاسو دوی ته ووايئ: ولې په داسي څه عقيده کوئ او د خپل مذهب بنسټ ترې جوړوئ چي په ټول قرآن کې معمولي اشاره هم نه ده ورته شوې؟!! په قرآن کې د علي رضي الله عنه په شمول د هيچا د منصوصي إمارت او د پيغمبر د ځای ناستي يادونه نه ده شوې؛ او نه د پنځه کلن ماشوم او غائب امام يادونه، نو ترې وابه ورئ چي وايي: وحي په قرآن کې نه ده خلاصه شوې، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د علي د امارت وحي هم شوې او زموږ ائمه وو ته د امام زمان د امامت وحي هم!!! که تاسو قاديانانو ته ووايئ: قرآن وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم خاتم النبيين دئ، د وحي سلسله په قرآن پای ته رسېدلې، نو تاسو ته به ووايي: نه وحي په قرآن کې خلاصه شوې او نه ئې د راتلو لړۍ پای ته رسېدلې، غلام احمد قادياني ته داسي

وحي کېده لکه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته!! یقیناً چي دا د ټولو خرافي مذاهبو ګډ بنسټ دئ، څوك چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته پر قرآن سربېره وحي شوې هغوی په حقیقت کي د ټګمارانو تېر ته لاستي اچوي او د هغوی غلط مشرب مضبوطوي!!

د ټولو فتنو، انحرافاتو، مذهبي اختلافاتو، فکري او اعتقادي تشنجاتو او د دجالانو او دوکه مارانو د مکرونو د مخنیوي یوازینی، اغېزمنه او ډاډمنه لار دا ده چي قرآن کامل او کافي وګڼو، هغه ته د بشپړ لارښود الهي کتاب په سترګه وګورو، هر اختلاف هغه ته راجع کړو او د هغه فیصله وروستۍ پرېکړه ومنو، باور مو دا وي چي قرآن له نقص او عیب منزه دئ، د هر ډول فکري او اعتقادي اختلاف د حل وروستۍ مرجع او د هري قضیې په اړه د هغه قضاوت او پرېکړه وروستۍ عادلانه او حقیقي پرېکړه ده؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث ته د قرآن د دقیقي او جامع شرحي او تفسیر په سترګه وګورو، په دې باور وو چي د قرآن او صحیح حدیث تر منځ هیڅکله تعارض او تضاد نشي رامنځته کېدی، یوازي هغه روایت د اعتبار وړ وګڼو چي په قرآن کي کوم شاهد ورته ومومو، یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري، پر الله تعالی او د هغه پر رسول د ایمان حقیقي معنی او د الله تعالی او د هغه د رسول د اطاعت رښتینی مصداق همدا دئ.

د دې عنوان خلاصه دا ده:

- متعارض روایات د مذهبي اختلافاتو اصلي عامل دئ.
- کمعلمه خلك له دې خبر نه دي چي متضادو روایاتو په امت کي څومره ستونزي راولاړي کړې او هغه متحد امت ئې څنګه ټوټې ټوټې او په بېلو بېلو فرقو ووېشلو چي د وحدت مزی ئې قرآن وو!!
- هغه چي ګمان کوي مذاهبو امت ووېشلو او په احادیثو عمل کولو سره دا اختلاف له منځه وړی شو؛ یا ادعاء کوي چي په احادیثو کي تضاد او تعارض نشته او روایات د اختلاف او وېش سبب نه بلکي د اتحاد او اتفاق سبب کېدی شي!! دا دواړه خبري؛ داسي کړې او د حقیقت خلاف

دي چي هيڅ عقلمن انسان ورسره توافق نشي کولی.

• نه یوازي د امت په وروستيو نسلونو کي د اختلافاتو اساسي منشأ متعارض روايات دي؛ بلکي د مخکينيو تر منځ اختلافات هم له همدې متعارضو رواياتو راولاړ شوي، متعارضو رواياتو ته په پام سره؛ د امت فقهاء او محدثين راولاړ شول چي روايات وچڼي، د راويانو په اړه ژور تحقيقونه وکړي، صحيح روايات تشخيص کړي، د اعتماد وړ راويان له کمزورو بېل کړي، يوازي هغه روايات د اعتماد او اعتبار وړ وګڼي چي راويان ئې ثقه وي او متن ئې له قرآن سره تعارض ونه لري. الله تعالی دي دوی ته ډېر ډېر اجرونه ورکړي.

• خو د دې معنی دا نه ده چي د احاديثو په کتابونو کي راغلي ټول روايات سل په سلو کي هم د سند له پلوه صحيح دي او هم د متن له پلوه، په دې کتابونو کي هم صحيح روايات شته، هم ضعيف، هم له قرآن سره موافق روايات او هم متعارض، ځيني روايات ئې يو له بل سره موافق او ځيني ئې متعارض.

• الله تعالی پر موږ ستره پېرزوينه کړې چي د قرآن په بڼې کي ئې موږ ته داسي روڼ او لارښود محك او معيار په اختيار کي راکړی چي د رواياتو په شمول د ژوند په ټولو اختلافي مسائلو کي د هغه په رڼا کي قضاوت کولی شو او سمه خبره له کمزورې او غلطي بېلولی شو.

• قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي په ځينو مواردو کي د يوه کس ادعاء د بل په اړه هغه مهال ومنو چي دوه شاهدان وړاندي کړي او په ځينو مواردو کي هغه مهال چي درې او څلور شاهدان ولري، که د قرض او شخصي چارو او معاملاتو په اړه د قرآن حکم دا وي؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم ته چي څوك څه منسوبوي او ادعاء کوي چي داسي ئې وکړل يا داسي ئې وويل؛ څنګه ئې ادعاء له هيڅ شاهد پرته ومنو؟!! په کار خو دا وه چي زموږ درنو محدثينو د احاديثو په اړه تر څلورو هم زيات شاهدان غوښتی، د داسي رواياتو له راوړلو ئې ډډه کولی چي يو راوي لري؛ نه په صحابه وو کي د راوي ترڅنګ شاهد شته، نه په تابعينو

او تبع تابعینو کې، لږ تر لږه دومره خو ئې باید کړي وی چې د داسي روایاتو تر څنګ ئې لیکلی: پام کوئ چې د دې راوي یوازي یو کس دئ او هیڅ شاهد نه لري!! یا ئې لیکلي وی: دا روایت په قرآن کې شاهد لري که نه؟

• که نن د یوه داسي روایت په اړه چې غریب وي، یو راوي لري، په قرآن کې هم کوم شاهد ورته نه مومي، یو څوك ووایي: زه دا روایت نه منم، استناد پرې نه کوم، وېرېږم چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او صحابه وو ته داسي خبره منسوب نه کړم چې هغوی نه وي کړې، نو دې سړي نه یوازي له حدیث انکار نه دئ کړی، ګنهګار او مجرم ئې نه شو ګڼلی، بلکي د عمر رضي الله عنه په منهج او سلوك ئې عمل کړی او له دې ئې ځان ساتلی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته غلطه خبره منسوب کړي او د دوزخ د اور مستحق شي. که عمر رضي الله عنه د صحابه وو غریب روایت نه منلو او د شاهد وړاندي کولو مطالبه ئې ترې کوله، که عائشې رضي الله عنها د عبد الله بن عمر په څېر شخصیتونو هغه روایت نه منلو چې له قرآن سره ئې مطابقت نه درلود؛ نو موږ به ولې داسي روایات منو چې په څلورو او پنځو طبقو کې یوازي یو یو راوي لري، مخصوصاً هغه روایات چې نه په قرآن کې کوم شاهد ورته مومو، نه په احادیثو کې او نه له عقل او درایت سره اړخ لګوي؟!!

• په امت کې د اختلاف عوامل یا سیاسي دي او مفسدو واکمنانو راولاړ کړي، یا اقتصادي دي او حریص شتمن او ټګمار علماء سوء ئې تر شا دي او یا له متعارضو روایاتو راولاړ شوي؛ دغو متعارضو روایاتو حتیٰ نېکان او صالح خلك هم سره بېل کړي او کله کله ئې د دوی تر منځ دومره شدید اختلافات راولاړ کړي چې یوه ئې بل تکفیر کړی او د هغه په ضد ئې د وسلې کارول جائز ګڼلي!! د شیعه او سني تر منځ اختلاف خو پرېږده چې سیاسي وجوهات لري، د ائمه وو تر منځ اختلافات هم له متضادو او متعارضو روایاتو راولاړ شوي، په امت کې دوه اویا فرقې؛ له مرجئه نیولې تر شیعه پوري، له خوارجو نیولې تر سلفیانو پوري، له

بريلويانو تر تبليغيانو، ټولې له متعارضو او متضادو رواياتو راولاړې شوې، څوك چې د قبر خوا ته ناست دئ او له مړي مرسته غواړي، د قبر خاوند خداى ته شفيع كوي، گمان كوي چې د ده دعاء اوري او خداى ته ئې رسوي او پر الله تعالى ئې مني نو هغه په ځينو رواياتو استناد كوي!! بريلوي چې وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم په غيب پوهېدو، د الله تعالى د فيض وېش ده ته سپارل شوى او د الهي فيض د خزانو كلياني د ده په واك كې دي، نو هغه هم په رواياتو استناد كوي!! كه سلفيان د خپل مذهب په گټه پر بخاري تكيه كوي نو بريلويان هم د خپلو ټولو عقائدو لپاره د بخاري په رواياتو استناد كوي!! دا په داسي حال كې چې يو بل ته د مشرك او له حديث د منكر په سترگه گوري!! دا ټول د قرآن د هغه آيت مصداق دي چې وايي:

وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ لَيْسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَىْءٍ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ لَيْسَتِ ٱلْيَهُودُ عَلَىٰ شَىْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١١٣﴾ البقرة

او يهودانو وويل: نصرانيان په هيڅ (سم دين او مذهب) نه دي؛ او نصرانيانو وويل: يهودان په هيڅ (سم دين او مذهب) نه دي؛ په داسي حال كې چې دوى كتاب لولي؛ همدا راز هغو كسانو هم چې نه پوهېږي (مشركينو)؛ دوى ته ورته وينا وكړه؛ نو الله به د قيامت په ورځ د دوى تر منځ په هغه څه كې قضاوت كوي چې دوى په كې اختلاف كاوو.

د دې آيت معنى دا ده چې له حقپالو سره د شيطاني ډلو مخالفت او له مسلمانانو سره د يهودو او نصرانيانو اختلاف نوې خبره نه ده، دوى په خپلو كې هم يو له بل سره تل په اختلاف كې پاته شوي، په شديد او نه پخلا كېدونكي اختلاف كې، هومره چې يهودانو به ويل: نصارا خو اصلاً هيڅ دين او مذهب نه لري او نصرانيانو به دغه خبره د يهودانو په اړه كوله حال دا چې دواړو به په الهي كتاب د ايمان دعوى كوله!! د الله كتاب خو يو دئ، تورات او انجيل يو د بل مؤيد او د الله دا كتابونه خو

د اختلافاتو د حل لپاره راغلي، څنګه دوی د الله کتاب شا ته غورځولی، په غلطو رواياتو پسي تللي او د الله دين ئې د اختلاف وسيله ګرځولی؟!! ناپوهو مشرکانو به هم د دوی دواړو په اړه دغه خبره کوله چي د دوی مذهب خو اصلاً څه مذهب نه دئ.

څوك چي رفع اليدين کوي او په دې کې له احنافو سره اختلاف لري نو هغه يو روايت مني او بل نه، هغه روايت مني چي د ده مذهب ئې صحيح ګڼي او هغه روايات نه مني چي تر دې روايت ډېر ډېر معتبر او ارجح دي او احناف پرې استناد کوي، څوك چي په قرائت خلف الامام باور لري، په جهري لمونځونو کې د فاتحې لوستل هم پر امام فرض ګڼي او هم پر مقتدي او له دې پرته لمونځ ناقص ګڼي، په امام پسي په لوړ غږ آمين ويل داسي ګڼي لکه چي ويل ئې فرض وي او تر فرض هم اوښتی، نو هغه په داسي رواياتو استناد کوي چي نور ئې کمزوري او مرجوح بولي او ورته وايي: ستا دغه روايات له هغو معتبرو او صحيح رواياتو سره تعارض لري چي نه د فاتحې لوستل فرض بولي، نه په امام پسي قرائت کول او نه په لوړ غږ آمين ويل. څوك چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپلو سترګو الله تعالی ليدلی هغه هم د بخاري په روايت استناد کوي!! او څوك چي وايي هغه کس دروغجن دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم الله تعالی په خپلو سترګو ليدلی؛ هغه هم د بخاري په رواياتو استناد کوي، څوك چي وايي د رسول الله صلی الله عليه و سلم د معراج سفر يوه رؤيا وه او په مقابل کې ئې بل وايي چي دا د ويښې سفر وو، دواړه د بخاري پر رواياتو استناد کوي!! څوك چي وايي: چا چي د شهادت کلمه وويله د دوزخ اور پرې حرام دئ، که ئې عمل هر ډول وي حتماً به جنت ته درومي، د بخاري پر رواياتو استناد کوي او څوك چي وايي: هر کس به د خپلو عملونو سزا ګوري، يوازي د شهادت د کلمې په ويلو سره له عذاب او محاسبې نه ژغورل کېږي، دا هم د بخاري پر رواياتو استناد کوي!! څوك چي وايي مړي د ژونديو خبري نه اوري او څوك چي د ده په خلاف وايي: مړي

حتیٰ د ژونديو د پښو ترپا هم اوري دواړه د بخاري پر رواياتو استناد کوي!! دا په داسي حال کي چي له دغو خبرو ځيني ئې له قرآن سره مطابقت لري او ځيني ئې سل په سلو کي د قرآن خلاف دي!! دې ته ورته په سلګونو نور موارد. نن که کوم بريلوي ته ووايې: د قرآن ګڼ شمېر آيتونه وايي چي نه رسول الله صلی الله عليه و سلم په غيب پوهېدو، نه نور پيغمبران او نه په زمکي او آسمان کي له الله تعالی پرته بل څوك، هغه به ګڼ شمېر روايات ستا مخي ته کېږدي او درته وبه وايي: دا روايات ښيي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په غيب پوهېدو!! که نن کوم شيعه ته ووايې: په ټول قرآن کي يو آيت هم داسي نشته چي د علي رضي الله عنه يا امام زمان په اړه ئې صراحتاً يا اشارتاً څه ويلي وي نو هغه به درته ووايي: زموږ روايات وايي چي د قرآن درې سوه آيتونه د علي عليه السلام په اړه دي!!

په همدې غونډي کي به د قرآن ډېر حافظان وي؛ له دوی پوښتنه کوم: آيا په ټول قرآن کي مو داسي کوم آيت له نظره تېر شوی چي په هغه کي د علي بن ابي طالب نوم؛ يا د هغه د إمارت يا د کوم بل صحابي د إمارت يادونه صراحتاً يا اشارتاً شوې وي؟ که چا ته له کوم آيت د دې ادعاء کومه شائبه په نظر ورغلې وي لاس دي اوچت کړي. ما تر ۵۰ کلونو زيات د قرآن خوا ته تېر کړي؛ نژدې دوه ثلثه مي حفظ کړی؛ په سلګونو ځلي مي تلاوت کړی؛ په ماڼځه او له ماڼځه بهر؛ قرآن مي ترجمه او تفسير کړی؛ په ټول قرآن کي مي د دې يوه معمولي او احتمالي شائبه هم نه ده موندلې؛ په خلاف ئې ما منصوصي او موروثي إمارت او إمامت د قرآني لارښوونو خلاف موندلی.

د رواياتو کتابونه داسي دي چي شارحين ئې د تعارضاتو په توجيه او تلفيق ستړي شوي. موږ دغه حقيقت ته په پام وايو: ای کاش په اسلامي امت کي داسي مدبر او د بصيرت خاوند زعيم راپيدا شوی وی چي د رواياتو په اړه ئې همغه کار کړی وی چي عثمان رضي الله عنه د قرآن په اړه وکړ، کاش موږ د رواياتو داسي متفق عليه کتاب او مجموعه

درلودی چي ټول امت پرې متفق وی او په هغه کي داسي روايت نه وی چي له قرآن سره تعارض لري او يا يو ئې له بل سره، که موږ د احاديثو او رواياتو يوه معتبره او ټول امت ته د منلو وړ مجموعه درلودی او د احاديثو موجود کتابونه د قرآن په رڼا کي له تنقيح وروسته په يوې مجموعې کي راغونډ شوي وی نو له سترو سترو فتنو او اختلافاتو به ژغورل شوي وو. موږ همدا وړانديز کوو چي د امت صالح، د مسلمانانو په درد دردمن او په قرآن او حديث پوه او مجاهد علماء دي په يوې معتبري مجمع کي راغونډ شي، د رواياتو کتابونه دي د قرآن په رڼا کي وچڼي او د صحيح رواياتو يوه معتبره مجموعه دي امت ته وړاندي کړي. خو يقيناً چي دا کار تر هغه ممکن نه دئ چي د نړۍ په کوم گوټ کي يو واقعي اسلامي حکومت جوړ شي. که داسي حکومت جوړ شو نو زما لومړی وړانديز به هغه ته دا وي چي دغه ستر او تاريخي کار ته ملا وتړي.

دوی وايي: حديث هم د قرآن په څېر د الله تعالی له لوري دئ!! که له دې خبري د دوی غرض دا وي چي الله تعالی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته پر قرآن سربېره احاديث هم د قرآن په څېر د وحي له لاري لېږلي!! نو دوی ته وايو: که داسي وی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به هيڅکله د احاديثو د ليکلو ممانعت نه وو کړی، دا امر به ئې نه کولو: چا چي له ما له قرآن پرته بل څه ليکلي وي هغه دي له منځه يوسي!! دا څکه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې مأمور وو چي هره الهي وحي او پيغام به خلکو ته رسوي، د ده مأموريت او رسالت همدا وو، الله تعالی د همدې لپاره غوره کړی وو، څنگه به هغه د وحي له ليکلو او د هغې د سوزولو او له منځه وړلو امر کولو؟!! پوښتنه کوم: د مکي دور د رواياتو شمېر څومره دئ؟!! آيا د ديارلسو کلونو ټول احاديث، د حديث په ټولو کتابونو کي، دومره دي چي په هر کال کي لسو شلو ته ورسېږي؟ ولي د حديث په کتابونو کي د مکي دور ډېر لږ احاديث او هغه هم اکثراً مطلق غريب احاديث تر سترگو کېږي؟!!

ولي صحابه وو په مدينه کي هم د حديث له ليکلو په داسي حال کي ډډه کوله چي قرآن به ئې ليکلو؟!! مهرباني وکړئ موږ ته ووايئ: له صحابه وو په ليکلې بڼه کي تر لاسه شوي روايات څومره دي؟!!

راشئ د قرآن هغي وينا ته غوږ شو چي د وحي په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم چلن ته اشاره کوي او فرمايي:

لَا تُحَرِّكۡ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعۡجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيۡنَا جَمۡعَهُۥ وَقُرۡءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأۡنَٰهُ فَٱتَّبِعۡ قُرۡءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾ القيامة

ژبه دي مه پرې خوځوه، د دې لپاره چي تلوار پرې کوې، راغونډول او ويل ئې زموږ پر ذمه دي. نو چي کله ئې لولو د لوستلو متابعت ئې کوه. بيا ئې بيانول هم زموږ پر ذمه دي.

يعني پيغمبر عليه السلام د قرآن د هري نوې برخي په اورېدو سره داسي په وجد راځي او هڅه کوي چي په تلوار سره ئې زده او حفظ کړي، څه ترې پاته نشي، هيڅ لفظ ئې هېر نه کړي او دا احساس ورسره راپيدا کېږي چي که د ده مخاطبينو تر اوسه د ده هيڅ مخکينۍ خبره نه ده منلې خو اوس او د دغو آيتونو په اورېدو سره به خامخا ايمان راوړي، د خپلو ټولو پوښتنو ځواب به په کي مومي، بايد ژر ئې تر لاسه کړي او ژر ئې د خپلو مخاطبينو مخي ته کېږدي. عجله او تلوار ئې دومره چي الله تعالى ورته د تلوار نه کولو توصيه کوي او فرمايي: د قرآن د نويو آيتونو د تر لاسه کولو په اړه ډېره عجله مه کوه، کله چي ئې د وحي فرشته پر تا لولي ته ئې په تلوار له ځان سره مه تکراروه، پرېږده چي فرشته خپل پيغام بشپړ کړي، د وحي له القاء فارغ شي، په تأني او دقت سره ئې واوره، د هېرېدو تشويش ئې مه کوه، موږ د دې ذمه وار يو چي هغه ستا په حافظې کي خوندي کړو، ستا په ژبه ئې جاري کړو او شرح او تفصيل ئې بيان کړو.

له دې آيتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دوه شيان ورکړی شوي: د الله تعالى له لوري وحي

شوی پيغام او د دې الهي پيغام د قرائت، بيان او تشريح (علم او) توفيق. يعني رسول الله صلى الله عليه و سلم ته قرآن ورکړی شوی او د قرآن فهم، قرآن ورکړی شوی او د قرآن د حفظ، لوستلو، بيانولو او تشريح کولو توفيق. قرآن د الله تعالى له لوري پر پيغمبر عليه السلام نازل شوی او حديث هغه فهم او پوهه ده چي الله تعالى د قرآن په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په برخه کړې.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# فهرست

**عنوان** **صفحه**

مقدمه ........................................................... ۱
د کتاب پیل ........................................................... ۸
د صحیح حدیث د پېژندا قواعد او اصول ........................... ۸
آیا حدیث د قرآن شرح ده که بېله وحي؟ ........................... ۶۳

## د کتاب له متن:

باور مو دا دئ چي که اسلامي امت قرآن د وروستي او بشپړ لاربسود په توګه ونيسي، خپل اختلافي مسائل؛ د متعارضو رواياتو په شمول قرآن ته راجع کړي؛ کولی شي خپل ټول هغه مذهبي اختلافات حل کړي چي له همدغو رواياتو راولاړ شوي. الله تعالی او د هغه رسول صلی الله عليه و سلم موږ پر همدې ګمارلي يو چي خپل ټول اختلافات قرآن ته محول کړو؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾ الشوری: ١٠

او په هر هغه څه کې چي تاسو اختلاف کړی نو حکم ئې د الله لوري ته (راجع) دئ، همدازمارب دئ، پر هغه مي توکل کړی او د هغه لوري ته انابت کوم.

پر ټولو مخکينيو امتونو او دوی ته لېږل شوو کتابونو همدا حالت راغلی؛ تر قرآن وړاندي؛ له انجيل او تورات سره همداسي وشول؛ نن که تاسو د مسيحيانو له نظره سپېڅلي کتاب؛ بايبل ولولئ نو په هغه کي به د تورات او انجيل څو صفحې هم ونه مومئ؛ له اوهامو، خرافاتو، افسانو، او جعلي رواياتو ډك مسخره کتاب به ئې ومومئ.

